ناول

# کافره

لیک
امین مسرور



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول

# کافره

لیکوال

امین مسرور

2021.01.22 08:32

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب چاري د ليکوال په حق کي خوندي دي


◈ کتاب :: کافره

◈ ليکوال :: امين مسرور

◈ کمپوز :: خليل الله تصميم

◈ مخ پاڼه :: بسم الله خيالي سنځاوی

◈ تعداد :: 500

◈ خپرونکی :: سبا وون پښتو ادبي ټولنه کوټه

◈ پبلشر :: بک پلس

◈ چاپ کال :: 2020 ع

◈ بيه :: 180

**د موندلو درک :** السراج بکس، جناح سينټر جناح روډ کوټه

اباسين کتاب پلورنځی، قصبه کالوني سټاپ کراچي

کتاب پلورنځی، شېراني مارکيټ عبدالستار روډ کوټه

تکتو کتاب کور، کاسي روډ کوټه

کتاب کور، يونيورسټي روډ، پخوانی اورکزی پلازه، اوسنی

امين پلازه بيسمنټ، ارباب روډ ته نژدې، پېښور

پښتو اکېډمی بک شاپ، پېښور يونيورسټي، پېښور

غزنوي کتب خانه کندهاري بازار کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټړون

د خپل پلار او روانښاد
عزیزالله توخي (ببرک خان)
په نوم چې ټول ژوند یې په کړاونو کې تېر شو
روح یې ښاد پر ګور یې نور

امین مسرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل ګران خوږ او د ورور په څېر ملګري اروابناد شهید نسیم خان کجیرزي (کاکړ) و سپېڅلي روح ته ډالۍ چي له ماشومتوبه بیا تر شهادته راسره د ژوند شپې سبا کړې او آخر پر لسم جنوري 2012 د علمدار روډ په بمي چاودنه کي له موږه د تل له پاره بېل شو. روح يې ښاد پر ګور يې نور

امین مسرور

2021.01.22 08:33

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امین مسرور ناول "کافره"

په کتاب تبصره ډېر ګران کار وي، په خصوصي ډول هغه چې څوک ملګری درته ووايي چې په دې کتاب څه اوليکه- ماته زړګي عليخېل د دې ناول سافټ کاپي را ايمېل کړه او ويل يې چې د ليکوال ورومبی تخليق دی او ناول دی- زۀ ورته خوشحاله په دې خبره شوم چې اوس پښتنانه ليکوال د ناول ژانر ته توجه کوي او ليکي يې. ښه ښه ناولونه په کې تخليق شول- خو ګرانه داوه چې څه به پرې ليکم او څنګه به ليکم- ما ناول نيم اولوستلو چې په کلي کې مې دوه غمونه پرله پسې اوشول-او داسې کار او ځنډېدلو- ولې چار دې ښه وي ليکوال امين مسرور او زړګي عليخېل بېغ اونۀ کړو او نۀ يې خفګان ښکاره کړو-

ناول دلچسپ دی او کيسه يې هم ډېره غم لړلې ده-د دې ناول کيسه د افغانستان د نيم اولس يا د ټولې پښتونخوا د نيم اولس کيسه ده- د تېرو سلو کالو نه زيات وخت تېر شو چې په دې سيمه امن نشته، هر خوا اور دی او تباهي بربادي شروع ده- د سيکهانو ظلمونه د انګرېز د راتګ سره ختم شول، خو د فرنګي ظلم شروع شو- د فرنګي او سيکهانو دا فرق ؤ چې سيکهانو تشه بربادي، مرګ، ژوبله او لوټ مار کولو، ولې د فرنګي سره جديد تعليم، پرمختګ او ترقي هم راغله- ولې د ازادي غوښتونکو خلاف ظلم و ستم کم شوي نۀ دي-کله چې د فرنګي نه خلګو ځان خلاص کړو خو د هغوی استعماري پاليسي ختمه نۀ شوه او په دې سيمه کې لاس وهل لازيات شول-د هغوی پاليسي امپيرياليستي او کيپټليسټ وه چې د مظلوم اولس د درد دوا يې نۀ لرله- د دوی دغه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافره

امین مسرور

ږهني وې چې په عکس العمل کې ترقي خوښونکي او کمیونسټ نظام ته خلک راغب شول او زلمي کهول یا نوي کهول ته دغه لار غوره ښکاره شوه او خپله سوکالي او په مختګ یې په کې لیدلو.

دغه نوی کهول چې موږ ورته منورین ویلی شو د نوي او جدید دور زېږون وو. او د دوی خلاف یورپي یا امپیریالسټ او کیپیټلسټ ملکونو ډېره ناروا او سخته پراپېګنډه شروع کړه. په شریک هندوستان یا د تقسیم نه اګاهو فرنګي د "وهابي" اصطلاح ایجاد کړې وه او د خپلو مخالفو مسلمانانو عالمانو او دیني ډلو خلاف یې استعمالوله. یعني د مذهب استعمال یې د ترقي خوښونکو او کمیونسټو د اثر کمولو لپاره او په شریک هند کې د مخالفو علماؤ له پاره په کار راوستله. د نوي او جدید دور عالمانو ته به یې "وهابي" ویلو. چې اوس هم ډېر ساده خلک په دغه اصطلاح دوکه خوري. او یوه بله اصطلاح یې د ترقي خوښونکو له پاره د "کافر" او کمیونسټ خوښه کړې وه. د فرنګي پلوي ملایانو او عالمانو به کمیونسټ او ترقي خوښونکي بې دینه او کافر بلل. او دغه رنګ ډېر خلک په دې جنګ کې خوار شو. اوس ټول په جمع دې ته پردی جنګ وایي. د طالب او مجاهد اصطلاح چې ډېري سپېڅلي نامې او اصطلاح ګانې داسې استعمال شوې چې نوی نسل یې نور هم بد ظن کړلو او د پښتنو په دې سیمه د لویې تباهي سوب شوې.

ورور د ورور دښمن شو. ما ته ښه یاد دي چې په اوویایمه لسیزه کښې د افغانستان د ګردیز ولایت ډېر افغانان د څرګانو په ډول دلته کارونو ته راتلل. دوی به په سوات کې په باغونو او پټو کې کار کولو. لښتي جوړول، بوټو له ډوغلي کنستل او په کلو کې به یې خلکو له کوهي کنستل. دوی به د کلو په حجرو کښې پاتي کېدل او د کلي د خلکو مېلمانه به وو یا چې چاله به یې کار کولو د هغوی مېلمانه به وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافره

امین مسرور

داسي زمونږ کلي ته هم راغلي وو او دوه کوهي يې مونږ له کنستلي وو- په اول ځل چي راغلي وو نو دا به د کال ۱۹۷۳-۷۴ زمانه وه- چي مونږ له يو څاه يې کنستلو- په دوی کښي دوه ورونه "وزير ګل" او بل "يار خان" هم شامل وو- يار خان کشر او وزير ګل مشر وو- يار خان په دغه زمانه د لسم ټولګي طالب علم ؤ- مونږ چي به د سکول نه راغلو نو دوی سره به مشغليدلو- دواړو ورونو به ښې ټپې کولې او ډير خواږه اوازونه يې وو- او د کوهي د بيخ نه به يې ډير خوږ غږ ازانګې کولې- دوی لاړل او په دويم ځل چي کله راتلل نو د ۱۹۷۶-۷۷ او ۷۸ زمانه وه په افغانستان کي د انقلاب ازانګې وې، حالات غير يقيني وو- کله چي دوی راغلل نو مونږ يو بل کوهی کنستلو- دغه "وزير ګل" د يو بل ملګري "اغا ګل" سره راغلو- وزير ګل به لکه زمونږ پښتو ويله او اغا ګل دغزني پښتو ويله- يار خان د بل ملګري سره راغلو او هغه هم زمونږ په حجره کي ديره شو- وزير ګل او اغا ګل به يار خان او د هغه ملګري ته کافر ويل- يار خان دغه وخت دوولسم پاس کړی ؤ، ولي وزير ګل هم هغه شان ؤ- او ټول تعليميافته يې کافر بلل- دجديد تعليم خلاف او يو پوخ ملا ؤ- يار خان بيرته افغانستان ته لاړ شو او وزير ګل په کوهي کنستلو تادي کوله، ويل به يې زر ځم چي دغه کافرانه ښځه چرته او نه ځ تښتوي- په افغانستان کي انقلاب راغلی ؤ- ورور دورور دښمن ؤ- تعليم يافته چي ترقي غوښتونکي وو د جمهوريت ملګري وو او د ملک ترقي يې غوښتله- بل اړخ ته قدامت پرست د ايمپيريالسټ ملګري وو- د افغانستان نه يې څه جوړ کړل ستاسو په وړاندي دي-

بهر حال زما مطلب د دې کيسې نه دا ؤ چي کوم ناول ستاسو په لاسو کي دی ګو چي افسانوي ليکنه ده، ولي د حقيقت عکاس دی- زمونږ په اولس کي د بده مرغه خلک قران لولي خو په معنو يې نه ځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهېږي، ایمان پرې لري خو عمل پرې نهٔ کوي- او هم دغه د دې قام د
پاهي سوب دی- د دې ناول کیسه د دې سیمي کیسه ده، کردارونه یې
پېره زمونږ سره موجود دي- زهٔ په دې ناول د ہر څه څکه نهٔ وایم چې د
یسې خوند ته نقصان او نهٔ رسي- په کیسه کې ګام په ګام تلوسه
وجوده، او د کلو نامې یې معلومې دي پلاټ یې ساده دی، پېچیده نهٔ
ی- لیکوال کردارونه او د هغې شالید یې نهٔ دی بیان کړی- ولې پوهېدل
ږې ګران نهٔ دي- وحدت تاثر یې هم برقرار ساتلی دی او لکه د اوږدې
و طویلي افسانې سره جوت والی ښایي- اختتام یې هم لکه د پښتنو
عام ژوند لویه ټریجیډي ده او ډېر په غم سره پای کېږي او تر ډېره وخته
ې کردارونه د زړهٔ نهٔ اوزي او سترګو سترګو ته کېږي- په دې ناول کې د
ښتنو ښځو کردار او رول هم جوت لیدلی شي- یوې ښځې ته تعلیم
افته په کوم نظر ګوري او بې تعلیمه ورته څه مقام ورکوي، دا هم تاسو
یدی شي- دا یو ښه د وخت سره سم ناول دی او الله دې او کړي چې د
مین مسرور په پیغام لوستونکي پوهه شي او مرام او مومي-

خاوري

**رشید احمد** (پېښور، نېټه 2020-10-10)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسرور "کافره"

که څه هم سهیلي پښتونخوا د نظم له لاري ډېر نوموړي ستوري د پښتو ادب و اسمان ته پیرزو کړي دي نو داسي یې په نثر کي هم ډېر ادبي لعلونه د ښکلي پښتو د غاړي په هار کي پیودلي دي. د پښتو ادب د نثر په مقابله کي شعر زیات تخلیق شوی دی، څېړونکي د دې لامل د پښتون وطن تېر او روان داوږدې مودې پردی جنګ ښیي. هم دا خبره زیاته رونښانه ښکاري چي واقعي هم پښتون قام له تېرو پنځو لسیزو راهیسې د خپل بقا د ساتني د پاره خپل سر او مال دواړه قربان کړي دي نو هم داسي د قلم خاوندانو د قلم سیاهي د قام پر ښېګړي، سوکالۍ، بقا او رونښانه سباوون کار کړې ده. زما په فکر د قام په دې غمیزه به د پښتو ژبي هیڅ یو لیکوال داسي نه وي چي قلم یې د توري کار نه وي کړی.

په لر او بر پښتون وطن کي چي کوم حالات له تېرو پنځو لسیزو راهیسې روان دي د هغه اثرات زموږ پر ادبیاتو او فنون لطیفه ډېر ژور اثرات پرې اېښي دي. که شاعر دی که کیسه لیکونکی، سندر غاړی، موسیقار که اداکار دی، هر یو تر خپل وسه د دې حالاتو د مخنیوي دپاره په مړانه هلي ځلي کړي دي یا بیا په څه نا څه شکل یې و اولس او نړۍ ته وړاندي کړي دي. خبره د پښتون وطن د حالاتو روانه ده نو د پښتو ژبي ځوان لیکوال د دې حالاتو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ا چي کوم عوامل شتون لري د هغه و بربنده کولو ته يې ملا تړلې ، د شعر او کیسه ایز ادب له لاري لګیا دي د دې علت دارو درمل ـل غواړي.

زموږ د عصر ځوان او ګران ملګری شاعر ښاغلی امین سرور چي زه يې له ډېري اوږدي مودې راهیسې پېژنم، د سهېلي ـتونخوا د کیسټ (پیټي) د نړۍ یو معروف شاعر دی، په سوونو ـندري، کاکړۍ غاړي او ټپې يې د پښتو نومورو سندرغاړو زمزمه ړي دي. زموږ دا پېژندګلوي زموږ تر منځ هغه وخت نوره ټینګه ـنته پیدا کړه کله چي موږ یو څو ملګرو لکه زه راقم الحروف ړګی علیخېل)، ښاغلی عباس شاه مخلص، ښاغلی نذیر اکسار، ښاغلی بلال سپرلی، ښاغلی فضل اشنا، ښاغلی بدالرحیم مرستیال او نعیم خان کاکړ په ګډه د پښتو ادب د ودې د ره یو تنظیم په عالمو چوک کوټه کي د "**سباوون پښتو ادبي ټولنه وټه**" په نامه بنسټ کېښېښود، نو ښاغلی امین مسرور د لومړي ـسټ ایښوونکو ملګرو په قطار کي راسره وږه په وږه ولاړ ؤ، یو ال يې د تنظیم صدارت هم په ورین تندي وکړو او نن سبا د تنظیم ـنرل سکتر هم دی چي تنظیم ښه په مینه او پښتني هوډ مخ په ـړاندي بیایي.

ښاغلی مسرور چي خپل نوم يې حمدالله دی د کوټي په لوړ ـاریز سیمه کې د مئ په ۲۸ مه نېټه په کال ۱۹۸۳ کي زوکړی دی. ـد کړي يې تر دوولسم ټولګي پوري کړي دي، په لومړي سر کي امین



2021.01.22 08:34

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسرور پلار د دهٔ د شاعرۍ خلاف ؤ، خو د پښتو ژبې مينې دی دومره مجبور کړو چې شاعري يې پټه او د امين توخي په نامه کوله. وروسته بيا د ځينو ملګرو په مشوره يې د امين مسرور تخلص ځان ته غوره کړو. د شعر د صنف سره سره د کيسه ايز ادب په خوا يې هم رجحان شته. هم دا کيسه ايز اثر "کافره" يې د دې خبرې ثبوت دی چې ښاغلی مسرور د شعر په طبع ازمايي کې خو برلاسی دی چې دی، او س يې په کيسه ايز ادب کې هم برلاسی ترلاسه کړی دی.

دا ناول چې ښاغلي مسرور ورته د "کافره" نوم غوره کړی دی زما په فکر د علامت سره سره د حقيقت سره هم ژوري ريښې لري. کوم حالات او واقعات چې په دې ناول کې بيان شوي دي هغه واقعي هم د پښتون وطن د تېرو او روانو حالاتو آئينه دي. نن هم پښتون که هغه د لر دی او که د بر، کډه په شا يو کوچاني ژوند تېروي. د مذهب او ستراتيجک ډيپت په نامه چې کومه نړيواله جګړه پر افغان پښتون وطن له پردو له لاسه وتپل شوه، دې جګړې په لکهونو انسانان له خپل وطنه کډه په شا په پردي وطن کې د ژوند شپې سبا کول يو تريخ حقيقت ته په مخه کړو. دې مهاجرت ډېرې ريښتوني کيسې له ځان سره راوړې، دا ناول "کافره" هم د هغو کيسو څخه يوه کيسه ده چې ښاغلي امين مسرور ورته د ناول غوندې ژانر جامې ورپه غاړه کړې او د پښتون افغان وطن د کړکيچونو حالاتو د بيانولو حق يې ادا کړی. دا ناول د امين مسرور لومړی نثري طبع زاد اثر دی، زهٔ د دې ناول پر فني اړخ بالکل نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېږم چي دا ښنګه او ښنګه ناول دی، لاکن دومره ضرور وایم چي د
ښتون افغان وطن د لوټي لوټي کېدو په ترڅ کي داسي ډېري کیسې
نه چي زموږ د پښتو ژبي د کیسه ایز ادب د لیکوالو و تحریر ته په
نظار دي. د دې له مخه د سهېلي پښتونخوا نوموړو لیکوالانو لکه
وانښاد پرفېسر راز محمد راز، ډاکټر نصیب الله سیماب، فاروق
رور، ډاکټر لیاقت تابان، قادر مجرم او نورو لیکوالو د داسي
ښتونو کیسو د تحریر بنسټ ایښی دی نو ښاغلی امین مسرور هم
دوی په پلهٔ دا کار ته وړه ورکړه او د پښتو کیسه ایز ادب په هار کي
ې د "کافره" په نوم لعل وپیي.

زهٔ ښاغلي امین مسرور ته پر دې ناول "کافره" چي د دهٔ
مړی نثري هڅه ده، ډېره مبارکي او داد ورکوم او په دا هیله یم چي
سرور به د پښتون قام په غمېزه خپل قلم هم دغسي تاند ساتي او د
ښتو ژبي د بډایي توب په دې مقدس کار کي به خپله ونډه
ریکوي. په درنښت

**ژړګی علیخېل**

سهېلي پښتونخوا کوټه
26/07/2020



2021.01.22 08:35

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال یادښت

څه د خوند د کفر شپې وې، څه په خوند سبا کېدلې زهٔ
کافر درتلم دیدن ته، تهٔ کافره راوتلې

(عباس شاه مخلص

له ښه مرغه د پښتو ژبې د خدمت په هوډ دا دی ستاسو
لاسو ته زما مات ګوډ ناول در ورسېدی. زهٔ د دې ناول د ښو او بد
پرېکړه نهٔ شم کولای، دا زما لومړی نثري هڅه ده، خو دومره ضرو
وایم چې د دې ناول کیسهٔ یوه ریښتونې کیسه ده. داسي ډېر
کیسې شته چې په لوی افغان وطن کي د تېرو څلوېښتو کلو را هیس
بیا تر نن ورځې پورې چې کوم پردی جنګ روان دی، داسې کیس
زموږ دین، وطن، پښتو او پښتونولي ته ډېر نقصان رسولی دی
کومو خلګو چې د بل پردي په لمسون د دین مذهب په سپېڅلي نام
خپل وطن لوټې لوټې کړی، هغوی پر هغو خلګو د کفر فتوې
ولګولې، کومو خلګو چې د وطن، دین، مذهب او پښتونولي ت
ټولو زیات خیال ساتلی ؤ.

ما په دې ناول کي صرف دومره هڅه کړې ده چې زهٔ هغه تېر
شوي حالات د یوې کیسې په څېر تاسو ته وړاندي کړم. کېدای شي
چې په دې ناول کي ډېري نیمګړتیاوي وي، خو بیا هم باور لرم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمګړتیاوي به زما د پښتو او افغان وطن د مینې په خاطر
ښتانه نظراندازه کړي.

زهٔ د زړګي علیخېل یوه نړۍ مننه کوم چي له ما سره په دې
کي ډېر زیات ستړی او مرسته یې راسره وکړه. زما ډېري
ړتیاوي یې راته په ګوته کړې، که چېري زړګی علیخېل نهٔ وای
باور لرم چي زهٔ د دې ناول لیکلو لائق نهٔ شوم کېدی. ورسره د
یکوال محترم رشید احمد صاحب یوه نړۍ مننه کوم چي په دې
یې سریزه ولیکله. خدای دي دوی آباد، سر لوړي او خوشحاله
دلته د خپل ادبي تنظیم "سباوون پښتو ادبي ټولني کوټې" د
و نړۍ نړۍ مننه کوم چي زهٔ یې و دې ناول لیکلو ته وهڅولم،
سید عباس شاه مخلص، عبدالرحیم مرستیال، نذیر احمد
سار، بلال سپرلی او نوروز لائق. ورسره ورسره د خپل کهاله زما
ن ورونه لکه نجیب الله خان، کریم خان، احمد خان، سیف الله
. زما نزدې ملګري لکه نعیم کاکړ، متین کاکړ، محمد قسیم
ړ، محمد ناصر کاکړ، محمد قیوم کاکړ، اسماعیل خلجی، فضل
ا، محمدالله هوتک، غلام محمد ارماني، خلیل الله تصمیم او
ضان ارماني. د دې ټولو کور ودانی وایم چي زما یې هر وخت ډاډ
رنه وکړه. نور مو پر خدای سپارم، وسلام

**امین مسرور، کوټه**

22-08-2020

2021.01.22 08:35

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېل

له سهار راهیسې توري دوړې وې، اسمان تک سور لکه په وینو چې سور وي، داسې ښکارېده لکه د قیامت ورځ چې وي، یو حال نهٔ معلومېدی چې څه کیسه ده، خلک حق حیران وو چې د خدای عذاب خو به نهٔ وي؟ د ماپښین دوې بجې وې خو داسې توره شپه جوړه وه چې ښی او چپ لاس نهٔ معلومېدی. د خاورو باران ؤ، دا سلسه هم داسې روانه وه چې د مازدیګرې په خوا لږ لږ اسمان معلومېدل پېل شو، سرور د کلي خان ؤ، ماښام ناوخته خپل کورته راغی، د کوټې په دروازه کې ودرېدی، رنګ یې تک زېړ اوښتی ؤ، د سرور خان مائینه هوسۍ چې ټوله ورځ یې په انتظار تېره کړې وه چې څنګه یې پر خپل خاوند سترګې ونښتې نو یې پوښتنه ځني وکړه چې:

"د ګل میني پلاره! خیر خو دی، چېرې تللی وې". د سرور تر سترګو اوښکې د باران په شان توی شوې، په لستوڼي یې خپلې اوښکې پاکې کړې او ورته یې وویل:

"وطن وران شو، نور دلته ژوند ګران دی، نن هغه کسان ټول وژل کېږي یا ورکېږي کوم کسان چې د وطن په مینه مست

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، د مذهب په نامه راپارېدلو وحشيانو پر ټول وطن قبضه کړې ده، نۀ سپين ږيرى ګوري نۀ ځوان، نۀ ماشوم او نۀ سياه سره، بس لګيا دي وايي اسلام په خطر کي دى".

خبره خلاصه نۀ وه چي د کور دروازه وټکېدله، سرور خان بېرته له هم هغې دروازې وګرځېدى دباندي ورغى، په تورو دريشيو کي بې شمېره عسکر ولاړ وو، سرور ته يې وويل؛

" لاسونه پورته کړه".سرور هم لاسونه پورته کړل، له ځُلې يې صرف دومره ووتل چي؛

"څوک ياست او څه غواړئ"؟

عسکرو هيڅ نۀ وويل، د سرور سترګي يې وروتړلې. په موټر کي يې سپور کړى، موټر مخ د ولايت په لور روان شو. رؤف چي د سرور خان د ترور زوى ؤ هر وخت به د سرور کره ؤ، خو په دغه ورځ بلکل نۀ دى راغلى، اول هم د کلي خلګو پر رؤف شک کاوى چي رؤف د کلي خلګ و يلغلګرو ته په لاس ورکوي خو چا نۀ ورسره منله. هوسۍ چي دغه حال وليدى د لېونۍ غوندي سر تور سر، لڅي پښې دباندي راووتله، چيغې نارې يې کړلې چي د ګل ميني پلار چا يووړى. د کلي ژوند دى ټول خلګ له کورو ورا ووتل. عزيز خان د سرور د اکا زوى هم له کوره ښۀ په سړه سينه راووتى، هوسۍ ته يې ډېر په قهر وويل؛



2021.01.22 08:36

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کورته دننه شه، سر تور سر، لڅي پښې د پردو خلکو په منځ کي ولاړه یې". هوسۍ هم زر کورته ننوتله، د شپږو کالو ګل مینه چي دا په خبره هم سمه نۀ پوهېده په خپل توتله ژبه یې مورته یې وویل؛

"دادا! بابا څه شو، ماته یې ناوکۍ هم نۀ راوړه، له ما سره یې قول کړی ؤ".

هم دغه ویر یې ؤ چي په ژړا ژړا کي ویده شوه، هوسۍ تر سهاره شپه په ویشه تېره کړه، د سهار سپېدې وچاودلې، اودس او لمونځ یې وکړی، د کلي ښځي ځي او راځي چي ښۀ مېله ورته جوړه وه، د غرمې خوا شوه رؤف هم راغی، هوسۍ ته یې وویل؛

"وراېنداري! خبر شوم چي سرور یې وړی دی، تۀ د سرور موټر سائیکل راکړه چي زۀ بازار ته پسي ولاړ شم او راخلاص یې کړم".

په هغه وخت کي موټر سائیکل ډېر کم ؤ له یو یو سړي سره به ؤ. رؤف موټر سائیکل چالان کړی بازار ته ولاړی، بس خپل چکرونه وهي او سېلونه کوي، ټوله ورځ او ټوله شپه نۀ راغی. هوسۍ او اندېښنې سره مخامخ شوې، په دا درېیمه ورځ رؤف پر موټر سائیکل کورته سپور رادننه شو، هوسۍ د زخمي مرغۍ په شان مخته ورغله، پوښتنه یې ځني وکړه؛

"سردار اغا! د ګل میني پلار څه شو، یو حال دي نۀ کړی معلوم؟" هوسۍ په پرېشانۍ کي ځني وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رؤف په خندا ورته وویل؛

"غم مهٔ کوه رابشي، زهٔ چي ژوندی یم څوک به په سپکه سترګه نهٔ ورته وګوري، هسي د شک پر بنیاد یې وړی دی، هغوی خپل تحقیق څني کوي را خلاص به سي". بس د غه خبره یې وکړه خپل کور ته روان شو.

هوسۍ ته هره شپه کال او ورځ میاشت شوه، غمونو له هري خوا راګېره کړې وه، ژوند خوند نهٔ ورکوی، ګل مینه بیا د خپلو ناوکیانو په غم نیولې وه چي بابا به کله راسي او زما ناوکۍ به کله راوړي، پوره یوه میاشته تېره شوه. هوسۍ له ډېري مجبورۍ کورته قلف وروا چاوی، شیرینه مور یې مړهٔ وه، د پلار کره ولاړه، خو د مور په غم نوره پسې غمجنه شوه، غم یې یو په دوه شو.

د خپل پلار کره ناسته د بېهوشۍ دورې هر وخت پر راځي، خو اخیر د هوسۍ پلار هوسۍ ډاکټرانو او ملایانو ته بوتله. خو هوسۍ پر دنیا یو درمل هم نهٔ درلود، نهٔ یې زړهٔ صبر کوی، هر وخت به په سرو سترګو ناسته وه.

له ډېرو شپو وروسته د هوسۍ پلار هوسۍ ته وویل؛

"زویه! ولاړه شه خپل کور ته، خدای پاک دي د کور اور مړ کړه، تر هغو پوري ابراهیم ورور به هم هلته درسره وي چي تر څو پوري سرور راځي، خو چي دا د سرور تربرونه خوشحاله نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، ما یې معلومات کړی دی، سرور بې قصوره دی، انشا الله راخلاص به سي".

هوسی هم فکر وکړی چي خبره خو مي د پلار د پره سمه ده او د پلار پر کور چي مي اولاد وشي ښهٔ خبره ده، وخت مي هم لږ پاته دی. هوسی هم له خپل ورور ابراهیم سره د خپل کور په لور را روانه شوه، د مازدیګر قضا وخت ؤ کورته راغله، د کور صفایي یې وکړه، هر شی یې پر خپل ځای سم کړو، سهار یې پلار هم راغی، یو څه سودا یې ورته راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې ورځې تېرې شوې، ابراهیم او هوسۍ د غرمې ډوډۍ خوړله چې دروازه وټکېدله، ابراهیم ورغی چې کتل یې سرور کور ته رادننه شو، بڼیره یې ډېره غټه شوې وه، وحشت او وام یې پر مخ له ورایه معلوم ؤ، ابراهیم پر هوسۍ بږغ وکړو چې؛

" خورکۍ زېرې مې درباندې اخښی راغی".

د هوسۍ تر خُله له خوشحالۍ یوه لویه ناره ووتله، په منډه تر دروازې راغله خو هغه د خوشحالۍ ساعت شو چې د چا په فکر کې نۀ ؤ. رؤف چې خبر شو چې سرور راغلی دی په منډه منډه ورته راغی، یو واره پر یوه بارخو یې مچ کړې بیا یې پر بل بارخو، ورته د مکر او ښکې یې توی کړې، ورته یې وویل چې؛

"تر هر ځای درپسې ولاړم خو یو حال دې نۀ ؤ معلوم، چېرې وې؟"

سرور کیسه ورته شروع کړه چې؛

" رؤف جانه! داسې یې سپین غر ته یووړم، سترګې مې پټې وې، لاسونه مې تړلي وو، دا د سپین غر خبره مې یو وار واورېدله چې هغوی یو بل ته ویل چې موټر د سپین غرۀ په خوا ور روان شو که بس نو څه یې نۀ دي پوره څلور ساعت کم و زیات مزل یې وکړی، موټر ودرېدی، زما لاسونه تر شا تړلي وو، سترګې مې



2021.01.22 08:37

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټې وې، له موټره یې کښته کړم، چې لس دوولس قدمه مخته ولاړم راته یې وویل سر ټیټ کړه دا ځای تنګ دی، ما سر ټیټ کړی داسې شل قدمه وروسته مې د قلف د خلاصېدو ږغ تر غوږو شو، زهٔ یې هم په هغه ځای کې ور دننه کړم، بیا ټوله شپه څوک نهٔ دي راغلي، تر سهاره پورې په تنګ ځای کې په ناستو بیده وم، چې سهار شو یو درونډ ږغ را وشو چې اوس قومندان صاحب راځي چې غلط بیاني ونهٔ کړې، هر څه چې وي هغه صفا صفا ورته وایه، خو متحرمه! د سهار د لمانځه دپاره خو لږ وخت راکړه. وحشي په جواب کې راته وویل، ورک شه رزیله، کافره، خلقي! تاسې خلقیانو نو کله لمونځ کوی چې سخت حالات دربانديراشي بیا مو خدای په یاد شي. تاسې خو ملحدان یاست، ستاسو کله پر یو شي یقین ؤ، زهٔ هم چپ شوم، په اشاره مې لمونځ وکړی، رب ته مې زاری شروع کړې چې ربه! زهٔ خو ستا بنده یم او ستا د هري فرمانبرداری تابعدار یم تا واحد ګڼم، په هر هر څه مې ایمان راوړی، دا ستا بندګان ما ستا له بندګي باسي او پر ما د کافر ګومان کوي، دغه خبري له ربه سره کوم بل ږغ وشو چې سرور خلقي تهٔ یې؟ ډېر دي د کفر ملا تړ وکړی، اخیر د خدائ عدالت ته حاضر شوې، اوس دي هغه ستا باداران تا خلاص کړي. چې تا به دوی ته چوپړ وهی، صفا صفا حال وایه، کومې کومې کارنامې دې کړي دي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل صاحبه ! ما یو څه هم نهٔ دي کړي. صرف د وطن او د اسلام مینه لرم، د پلاني کلي خان یم د خلکو خدمتونه کوم. زما خو سترګې ټینګې پټې وې یو څه مې نهٔ لیدل دا واره چې خبرې وې هغه په ډېره ناولده لهجه کې وې، په شا و خوا سیمو کې ما دا لهجه نهٔ وه اورېدلې، په ډېر قهر یې راته وویل چې ته خو کافر یې ستا خو مرګ داسې روا دی لکه د سپي. امر یې وکړی چې یو وار سم لت ورکړئ، دی داسې حال نهٔ وایي، دغه خلک کاڼه او ړانده دي، د دغو پر زړونو مهرونه لګېدلي دي. نو رؤف جانه! داسې ټینګ یې ووهلم چې دغه د شا د ملا خورسکې یې راواړول، خو اخیر زهٔ بې هوشه شوم، بیا تر ډېره په ځان نهٔ وم خبر، یو وخت چې په سد کې راغلم د ډېرو خلکو ژغونه مې تر غوږو شو، حیران شوم چې دا زهٔ چېرې یم، سوچ مې وهی خو ټول څه مې هېر وو. ږغ وشو سروره!. ما ورته وویل ها صاحبه! څنګه یې ما ورته وویل ښهٔ یم بس نور څه یې نهٔ راته وویل. سم دستي یې را ولاړ کړم په دوو کسانو یې نیولی وم. موټر ته یې وخېژولم، دوه ساعته مزل وروسته یې موټر ودروی، زهٔ یې بېرته راکښته کړم، پنځه شپږ قدمه وروسته یې راته وویل سر کوز کړه، بیا داسې راته معلومه شوه چې په یو غار کې یې دننه کړم.

داسې د انسانانو د وینو بوی راباندې راتلی چې سر مې چکر کاوی، تر ډېره وخته هیڅ یو تحقیق نهٔ ؤ، پوره لس ورځې



2021.01.22 08:37

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بیا هغه قومندان راغی، بیا پوښتني شوې چې صفا صف
حال راته ووایه نو به کورته ولاړ شې، ما ورته وویل صاحبه! پ
قسم درته وایمه چې زه بې ګناه یم.

قومندان په ډېر قهر راته وویل. قسم مه خوره. ستا په دا
نجسه خُله د الله پاک نوم ثنګه اخلې. بیا یې ووهلم خو ډېر نه یو
څو کونداغه.

قومندان امر ورته وکړی چې بس نور یې مه وهی دلته یې
ماته نزدې راولئ، بیا قومندان ښه په نرمه لهجه راته وویل.
خوشي کوو دي، خو دغه لوړه به کوې او دغه قول به کوې په دغه
کفري حکومت کې به نور کار نه کوې. ما ورته وویل "صاحبه!
قول دی نه یې کوم. قومندان ولاړی زه یوازي بیا پاته شوم، لږ
ساعت لا نه ؤ تېر دومره سوي سوي اوازونه مي تر غوږ شو چې د
خدای دپاره مړ دي کړم، په ګولۍ مي وولـه خو دا ظلم مه راسره
کوه، بس په دغه کې پسې بیده شوی وم، دومره خوب مي وکړی
چې بیا خوب نه راتلی، پس مي دي خدای غاړي نه بندوي چې
پنځلسو که شپاړسو شپو وروسته یې یو ځای کښته کړم، راته یې
وویل چې موږ شاته ګنډه ورکړې ده چې د موټر بږغ ورک شي ګنډه
به خلاصه کړې نو بیا څه پر خپله مخه. د موټر بږغ ورک شو ما ګنډه
خلاصه کړه چې سترګي مي رڼي کړې دستي غونډۍ وه سیدها د
کور پر لور را روان شوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



رؤف په خندا ورته وویل چې؛

"د الله پاک ډېر کرم دربانديي شوی دی دا خو ښځې زیاتي خواری دربانديي تېري شوي دي، بس شکر دی چې اوس هم په خېر راغلی یې".

خلک دباندي په ډلو ډلو د سرور پوښتني ته راځي. خو تر ماښامه له خلکو لار نهٔ کېدله. لږ چې رش کم شو. د سرور ښځې هوسۍ سرور ته وویل.

"د ګل میني پلاره! خلک هر وخت د ښځې خبره نهٔ مني، مګر یوه خبره یې بې ځایه نهٔ وي. په لیاز د خدای دغه رؤف ستا دښمن دی، دا ټول کارونه د دغه رؤف دي، دا جاسوس دی، وطن ټول لمبه لمبه دی، دغه دي په یوه بل خوري، دغه ته حال مهٔ وایه".

سرور ډېر په قهر شو ورته یې وویل؛

"چپ شه هغه زما د پلار د خور زوی دی، په هر غم ښادي کي راسره شریک دی، تهٔ وایې چې دښمن دي دی".

"د ګل میني پلاره! تر پردي زوی خپله پکه لور هم ښهٔ ده، تربور چې هر څه شي دومره دښمن دي نهٔ جوړېږي چې تاوان در ورسوي، ولي یې پوښتنه نهٔ ده کړې، په قسم دی هر وخت به یې حال کاوی، هر څه به یې راته راوړل، نور خو څه یې په وس نهٔ وو پوره، بیا یې هم پر ما او ګل میني حال کاوی. د ګل میني پلاره! زهٔ ستا دښمنه نهٔ یم، رؤف ټول وخت پر هر پردي ډهول ګډ شوی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به بېخي ډېر بد کار وي چې زهٔ تا ته لاره در ښيم خو له دغه رؤفه ځان لېري ساته، بل واره دي بيا په لاسو ورکوي".

"بس! تهٔ تر ما هوښیاره یې؟ چې خبره تر ښځي شوه نو یې خوند ولاړی او بل د ګل میني حال راکړه، مکتب ته تله که نهٔ؟".

"وی د ښو مکتب دي شه، پر مکتوبو خو یې بندیز لګولی دی، ټول ترلي دي یو ځوک هم نهٔ ورځي، ګل مینه وړه ماشومه له ډېره ډاره تر کور نهٔ وه وتلې، بېرېدله". "دروازه ټکېږي زهٔ به ورسم". سرور د هوسۍ خبره پرېکړه او دروازې ته ولاړ شو.

سرور چې دروازې ته ورغی څلور کسان ولاړ دي چې قومندان صاحب سبا پر اتهٔ بجې غوښتی یې چې خامخا به راځې. ویل یې چې یو څو پټې خبري در سره لرم. سرور ورته وویل "ښهٔ دی پر دواړو سترګو ولي به نهٔ ورځم".

شپه تېره شوه، د سهار له لمانځه او له ناشتې وروسته سرور په خپل موټر سائیکل سپور شو د ولایت په خوا روان شو. چې تر کلي دباندي ووتی روزي خان د سرور د وړکوالي ملګری ورته په مخه ورغی.

" خېر خان صاحب! چېري په دا سپېدو کي روان یې؟"
سرور له روغبړ وروسته ورته وویل چې
"ولایت ته ځم قومندان صاحب غوښتی یم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"توبه خدایه! رب دي خانه ورانه مهٔ کړه، مهٔ ورځه، زهٔ در روان وم تا ته وم، که ورغلې دا واره دي ژوند په قران که ځني وکړی، پرون زهٔ هلته وم ستا پر سر ډېر جنجال جوړ شو. د لوړ کلي باران د شین خالي زوی د قومندان انور سره ډېره شخړه وکړه چې سرور دي ولې له بنده خلاص کړی. سرور چې خلاص شو کیسې به ډېري خرابي کړي، ورته یې ویل چې تا ښهٔ کار نهٔ وکړی. په ۲۴ ساعته کي زهٔ سرور غوارم یا مړ یا ژوندی. بس زهٔ درته وایم چې ورنهٔ شې، هسي کډه بار کړه، بېرته کورته په تاخته ځه، یو شی هم مهٔ وړه، هسي کوچنیان درسره کېښ کړه خو له منطقې ځان ورک کړه".

سرور له ملګري د مننې رخصت واخستی او د کور په خوا بېرته وګرځېدی. چې کورته راغی ښځه یې ګرځي چې "ګل مینه ...تلې ده یو درک یې نشته چې چېري ده، ټول کورونه مي پسي ...کتل او د ګل میني پلاره تهٔ ولاړې قومندان څه یې درته ویل؟"

"خواره مهٔ شې راځه چې ځو، روزي خان په مخه راغی ...اته ویل یې مهٔ ورځه بې مرګه دي نهٔ پرېږدي، راځه ګل مینه به ...یاد دارو خان دوی کره ورشي، چې حالات سم شي وروسته به ...سي راسم".

سرور هوسۍ پر موټر سائیکل سپره کړه ټول کور یې ...غسي پرېښووی را روان شو، یو څوک یې نهٔ کړو خبر، د هوسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړهٔ یو الله خبر دی چي ګل مینه به راغلې وي کور ته او کور به قلف وي، څه قیامت به یې جوړ کړی وي.

دلته د هوسۍ د ناجوړۍ وخت هم پوره ؤ. سرور ته یې وویل؛

"زهٔ ډېره زیاته په تکلیف یم، نوره نهٔ سم تلای، د لږ ساعت د پاره ودرېږه، ډېر مزل مو هم وکړی، ما سپښین قضا مازدیګر وخت ؤ، لېري یو کلی معلومېدی، سرور ورته وویل؛

"دغه کلي ته به ورشو، هلته به په یو کور کي سپین سری وي، پر دغه دشت اوس زه څهٔ وکړم".

خو هوسۍ په دردو او په نارو وه، له خُلې یې سوي سوي اسوېلي وتل، خو اخیر هغه کور راورسېدی.

هوسۍ چي څنګه له موټر سائیکل کښته شوه پر سرې لاسونه ونیول او کښېنسته. سرور هم خپل څادر پر راوګرځوی سرور د دغه کور دروازه ور وټکوله. یوه بوډۍ ښځه ورته راووت ورته یې وویل؛

"په کور کي نارینه نشته، ځوانه څوک غواړې؟". سرور ورته وویل؛

"موري دغه سیا سره راسره ده، مرسته دي غواړم بل به څه نهٔ غواړم".

بوډۍ ښځه هم ښه چالاکه وه، ژر ورته راغله، خپل کور ته یې ناري کړې چي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نادیه خورکۍ! ژر راشه دغه ښځه ېېخي زیاته په تکلیف ده".
نادیه هم په منډه راغله هوسۍ یې په ځولۍ کي کورته دننه یووړه.
د سرور نیم حلق پورته نیم کښته وچ ؤ. دباندي ناست ؤ، ـر مخ یې سپېرې خاوري دوړېدلې، لس دقیقې وروسته هغه ـوډۍ ورته راغله او ځني وې پوښتل چي؛
"بچیه دا دي څۀ ده"؟ سرور ژر مخ ورته راواړوی چي؛
"ادې دا مي کور ودانه ده".
زویه! مبارک دي شه زوی الله پاک درکړی، ماشوم هم ښۀ ـی او ناوې دي هم ښۀ ده. د یو شي ضرورت ورته نشته. نارینه مو ـه کور کي نشته زۀ د کوریوه خونه در خلاصوم، تاته به چای ـرکړم خو شپه نۀ شم درکولای، ولي چي د شپې چاپې راځي، ـاولده خلګ وړي، خدای مۀ کړه یو دي شي دا ډېر ظالمان خلګ ـي، راځه بچیه!".
سرور یې کورته دننه کړی. ښه چای یې ورته راوړې، ـوډۍ بیا ورته راغله؛
"زویه! له کومه ځایه را روان یاست او چېري ځئ، دغه ـځه دي خپله ده که دي راتښتولې ده چي په دغه حال کي له کوره ـاوتلی یې"؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ادې خپله مي ده، له مرګه پټ یم، داسي خواته روان یم چي هلته انسانیت وي، چي هلته وطن دوستي وي، چي هلته د خپلو په وینو تجارت نهٔ وي، چي هلته ورور د ورور قاتل نهٔ وي، چي هلته د مذهب په نامه انسانان نهٔ وژل کېږي، چي هلته مشرا... کشر معلوم وي، چي هلته کلیسا، مندر او جومات په یوه کوڅه کي وي، نو زما ګراني مورکۍ! زهٔ هغې خواته ځم، دا تا پر ما ډېر غټ احسان وکړی، شپه مهٔ راکوه زهٔ به ولاړ سم، شپه به یو ځای ت... ورسوم خو دا زما کور ودانه دي هم دلته وي، خرڅه به د رکړم زهٔ به یو ځای پیدا کړم، دا به هم تر هغو په پښو روانه شي بیا به راسم د... به بوزم، که ستا خوښه ده".

"زویه! خبري خو دي د خلقي راته معلومېږي، خلقي خو نه یې چي داسي خبري کوې؟ خلقیان خو خدای نهٔ مني، رسول نهٔ مني قرآن نهٔ مني، د کفارو ملګري دي، چي کافر څه وایي هغه کوي".

سرور کلیمه ورته تېره کړه او ورته یې وویل؛

"ادې خلقي کافر نهٔ دی، خلقي تر هر چا ښهٔ مسلمان دی خلقي انسان دوسته دی، خلقي وطن دوسته دی، زهٔ مسلمان یم کافر نهٔ یم. ادې ستا یې ډېر کور ودان چي زما دي ډېر خدم... وکړی، زما د کور ودانۍ تر هغو خیال ساته چي تر څو زهٔ را ځ... دغه دوه زره افغانۍ در واخله هر ضرورت یې ور پوره کوه".

(c) ketabton.com: The Digital Library





"صدقه زویه! څلور زامن نور هم لرم، ته مي پنځم یې، بې غمه
ه چي هر وخت راغلې ترهغو پوري به یې موږ ټول خدمت کوو".

سرور له ځان سره سوچ وکړی بل خو دي په کلي کي یو
ې نه شو پاته یوه ګل مینه ده، د هوسۍ څخه خو دي زړهٔ بې غمه
نو، بېرته د کلي په خوا درځه ګل مینه به هم راولې. سرور بېرته د
لي په خوا روان شو د ماښام لمونځ یې په شنه غرهٔ کي وکړی،
یمې شپه وه چي کلي ته راورسېدی، د شنو اوبو پر سر یې موټر
ائیکل ودرولی پیټرول هم پکي کم وُ.

اول یې د دارو خان دروازه ورو ټکوله، د کلي ټول خلګ په
ام کي وو چي دروازه به وټکېدله نو ټول به وویرېدل چي خدایه
یا څه کیسه ده.

دارو خان په وام وام کي دروازې ته راغی ورږغ یې کړو چي؛

"څوک یې"؟

سرور په سوکه اواز ورته وویل چي؛

"سرور یم دروازه راخلاصه کړه".

دارو خان په ډېر قهر ورته وویل؛

"څنګه راغلې په تا پسي خو ټول ګرځي، پنځه دقیقې
مخته ماته راغلو ټول کور یې تلاشي کړی، ته څه غواړې چي اجل
اخستی یې راغلې"؟

"زهٔ اولاد ظالم راکښېکړم، ګل مینه چېري ده"؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین مسرور

# کافره

"ګل مینه ویده ده، خو په دې وخت دي څه غوښتو چې
راتلي، ورځه ولاړ شه که اوس چاپه راغله وړي دي. هغو ویل مور
ته معلومه ده چې تا پټ کړی دی، موږیې درڅخه غواړو. ما قرآن
ورته را وایستی په جواب کي د سلیم زوی راته ویل دا پاک نوم پ
دا مرداره ځله مهٔ اخله نجسه کافره! تاسي کله مسلمانان یاست
تاسو خو ملحدان یاست".

"بس دا ټول د رب کارونه دي، زهٔ به دلته درته ودرېږم ت
ورشه له کوره تېل راوړه په بیلر کي شته. او زهٔ به ګل مینه ه
راویښه کړم". سرور ورته وویل. دارو خان ولاړی سرور په انتظا
پوره یو ساعت وروسته راغی. سرور ورته وویل

"ولي خېر دومره وځنډېدې"؟

دارو خان ورته وویل؛ "کوریې ټول چور کړی ؤ یو شی هم
ؤ، په بیلر کي دغه یو بوشکه تېل پاته ؤ نوریې ټول وړي وو".

"بس سمه ده د خدای رضا ده، زهٔ او ګل مینه ولاړو دع
راته کوئ، د کور پر ټولو مي سلامونه وایه که ژوند ؤ لیدل به م
سره وشي.هو.... ما او تا خو په خبرو شو، ما زیري هم پر درون
کړی، نوی میلمه هم کورته راغی، هوسۍ د شنه غرهٔ په اخر کې پ
یوه کلي کي ده". سرور په غم کي هم ورته وخندل.

"مبارک مبارک، الله دي در نیک صالح کړي، و
دررانهٔ شي، خوشحالي به دي په غم در بدل

2021.01.22 08:38

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، ډېر زيات قهرېدلي وو، او هان، دا زما د زوی امانت درسره خوندي کړه، دا زموږ د کور عزت ده". دارو خان د ګل میني په سر لاس کښېښودی او سرور ته يې وويل.

"بالکل، ګل مينه ستا د زوی متين وه او وي به، که خدای وس راکړی نو به يې ښه پالنه وکړم چې ستا کور او کهول هم پر جوړ شي". دارو ښه په خوشحالۍ رخصت ورکړی سرور هم د ګل ميني لاس نيولی را روان شو د موټر سائيکل ټانکۍ ته يې تېل واچول، په بوشکه کې چې څه پاته شو هغه يې پر موټر سائيکل وتړله، يو نيم ساعت يې په پښو مزل وکړی، بيا يې موټرسائيکل چالان کړی د خپل منزل پر لور روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافره

امین مسرور

د سهار د اذانو وخت ؤ چي د شنه غرهٔ کلي ته راورسېدی، سپین ږیري د جومات پر لور روان وو. سرور هم د هغه کور دروازه ور وټکوله په کوم کور کي چي هوسی وه، له دغه کوره یو نوی ځوان ورته راووتی، له جوړ پخېر وروسته یې ورته وویل چي؛

"زما نوم صادق دی، زما کوچنیان دلته دي". نوم یې قصداً غلط ورته واخستی، ولي سرور که چا پر رنګ نهٔ ؤ لیدلی په نامه هر سړي پېژندی. دغه مي ماشومه لور ده، دا پرون چي موږ راتلو دا نهٔ وه د ماما کره تللې وه، نو مور یې په تکلیف وه، هغه ما روغتون ته راوړه خو دلته زیاته په تکلیف شوه، بیا دلته پسي پاته شوه نو دغه انجلۍ مي بیا نن راوسته".

"ښهٔ ښهٔ خدای دي راوله وروره! مېلمستون خو نهٔ لرو، البته اودس به دلته وکړې، ولاړ به شو جومات ته بیا به د کور انسانان راپورته شي، یوه خونه به درته خالي کړم ولي چي زموږ مور ستا ډېر صفت راته وکړی، انجلۍ به زهٔ کورته بوزم، هغه به ویده شي". دا تنکي ځوان ورته وویل.

سرور اودس وکړی مخ یې په څادر کي ټینګ پټ کړی، جومات ته ولاړی، په جومات کي هر چا ورته رډ رډ کتل چي ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک دی چي نهٔ خو د ماخوستن ؤ او اوس دا دی د سهار په لمانځه کي موجود دی.

سرور مخ په دغه پټ کړی چي یو نه یو ځوک مي ونهٔ پېژني، ولي چي سرور د کلي خان ؤ، خامخا به چا پېژندی. لمونځ وشو، سرور هم ژر راووتی خو خلکو په دا وجه هم نهٔ پېژندی چي سرور مخکي ږیره او بریت دواړه خرئیل، خو اوس یې ږیره غټه وه او بریت یې هم ول. له ځوان سره د کور په خوا را روان شو په مخه ورته یو کس راغی، سلام دعا وروسته یې پوښتنه ځني وکړه چي:

"غمیه! دا ځوان ځوک دی له کوم ځایه راغلی دی"؟ سرور سر لاندي ځړولی مځکي ته یې کتل او بنه وهم هم اخستی ؤ.

غمي ورته وویل:

"نور یې زهٔ هم نهٔ پېژنم، خو یو سائل دی، کور ودانه ورسره وه پروني راغلي، ناوخته شو بچیان یې روغتون ته بېول نو د شپې راووتل، ناجوړه شول او زموږ کره الله پاک ور جوړ کړل".

بس دغه یې ورته وویل ځني روان شو.

سرور ډېر هوښیار او ځیرک انسان ؤ هغه جاسوس یې وپېژندی چي تر ځو پوري جاسوس جاسوسي کړې وه سرور هم دستي غمي ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ځوانه! ماته زما موټر سائیکل په لاس راکړه چي زۀ ولاړ شم دوه ماشومان مي نور هم پاته دي، زۀ به هغه هم راولم نو بیا به موږ کورته ولاړ شو".

غمي ډېر ټینګار ورته وکړی چي چای وکړه خو سرور انکار انکار ؤ، بس سرور روان شو مختهیو کلي ته ورغی، هلتهیې د کوچنیوالي یو ملګری ؤ چي عمر نومېدی. هغهته یې وویل؛

"عمره! ټولـه ځمکـه را بانـدي سرۀ ده، حیـران یـم چېـري ولاړسم، اول مي هم ستا نیت کړی ؤ خو دغه مسئله راپېښه شوه".

عمر ورته په خندا کي وویل؛

"دغه دي کور دی د دنیا یو انسان به نۀ شي په در خبر".

کورتهیې دننه کړی چای یې ورکړې، ښه ګپهیې سره وکړه.

عمر ورته وویل؛

"سروره! راځه چي د ورېنداري پسې ولاړشو هغهبهراولو".

سرور ورته وویل؛

"هغه هلته د شنه غرۀ په کلي کي یو کور دی، نوریې نۀ پیژنم خو سهار یو چا د غمي غمي په نامه ورته ویل، هم هلته ده".

"ښۀ غمی پیژنم هغه د ملا اسلم اکا زوی دی، بد خلک نۀ دي، ډېره عزت داره کورنۍ ده، پلار یې ډېر نیک انسان ؤ، درځه در ولاړ شه چي ورشو او رایې ولو". عمر ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرور او عمر دواړه سره روان شو سيدها د غمي کره غلو. د غمي يې کور ودانی وکړو، عمر غمي ته وويل "دا زما نزدې قريب دی خو تا ډېر عزت ورکړی زهٔ به ستا د غه ښېګڼه ل عمر نهٔ کړم هېره" او غمي ورته وويل "عمره دا خو دومره سه نهٔ ده يو مسلمان دی، پښتون دی که کافر ؤ هم ما مرسته خا ورسره کوله".

هوسۍ او ګل مينه او هغه بل ماشوم يې د کور پخوا را روان ، ټول د عمر کورته راغلو، د عمر دوې مائينې وې، دواړې داسي چوپړ کي ورته ولاړې وې چي هوسۍ يو کار هم نهٔ شو ځني کولای ېر ماشوم يې مور نوم جبار کښېښودی، مور يې ويل چي؛ "د دغه ر د راتګ سره يې پلار هم کورته راغی".

ښهٔ د خوشحالۍ شپې او ورځي تېرېدې، سرور دومره ات خوشحاله ؤ چي هلته په خپل کلي به هم دومره نهٔ ؤ شحاله. پوره دوې مياشتي يې دلته تېري کړې خو اخير دغه ي ته هم د اور لمبې راغلې. سرور چي د اور لمبې وليدلې له ي پوهان او د سر سرې ورکېدل، سرور عمر ته وويل؛

"عمره! دلته نور او سېدل له ځانه او له اولاد سره ظلم دی، لک ټول خرڅ شول، د ځان په شر او په ګټه نهٔ پوهېږي، دا ټولي بسې ملت او وطن ته زيان دي، زهٔ نور سر له سبا ځم"

2021.01.22 08 4

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر ورته وویل؛ "سروره! ته پر کومه خوا ځې چې څو مخته ځې هلته اور بل دی، زموږ کلی لا بیا هم ښه دی که څو مره وطن د ښمنان شته دومره بیا وطن دوسته هم شته، مه ځه یو څو شپې وکړه، ورپېنداره به هم ښه شي، خدای مهربانه دی حالات به ښه سي".

"عمره! قربان دي سم، صدقه دي سم، ستا هر څه زه پر سترګو منم چې لس کاله دلته پروت یم په خاطر به دي نه شم پوه، بس زړه مي ډېر تنګ دی نور په دغه وطن کي ژوند نه غواړم، نه کوم دا، د دغه وطن هر څه کافر دی، جومات کافر دی، معلم کافر، ښوونکی کافر، ښوونځی کافر، نو ژوند به څنګه وکړم، زه اولاد نه خواروم.

"سروره! چې هر څه وکړې دا دنیا پر سر واخلې خو نن شپه به دلته کوې، په قران قسم کوم که نن ولاړې. سبا دي په مخه ښه چې پر هره خوا ځې". سرور مجبور شو پاته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافره

امین مسرور

۞

په کومه شپه چې سرور د دارو خان له کوره سره د ګل مینې ولاړی نو ماسوای د دارو خان او د هغه د ښځې نور د سرور په راتګ او بېرته تګ نهٔ ؤ خبر. د سرور د تګه وروسته کله چې دارو خان کورته ولاړی نو یې کورودانې ځنې وپوښتل چې؛

"آسرېیه! د سروره به دې د هوسۍ حال کوی چې هغه ځنګه وه، د هغې خوارې هم دا شپې او ورځې وې".

"ښځې ما ځنې وپوښتل. سرور ته خدای زوی ورکړی ؤ او هوسۍ خور هم ښه وه".

"شکر الله، چې هوسۍ په روغ صحت له دې ناجوړی خلاصه شوه". د دارو خان ښځه خوشحاله شوه او هوسۍ ته یې دعاوې شروع کړې.

" او ها، ما سرور ته دا هم وویل چې زموږ امانت به ښه ساتې، د ګل مینې مې ورته وویل".

"ځومره ښه دې وکړل، ما هم په زړهٔ کې ؤ چې دا خبره به دې کړې وې که یا"؟

متین چې د دارو خان د وولس کلن مشر زوی ؤ او د دهٔ په نامه ګل مینه وه. ګل مینه چې کله پیدا شوه نو تر ټولو زیات دارو خان ورباندې خوشحاله ؤ، د سرور او دارو خان تربورګلوي نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې ورورګلوي وه. په ټول کلي کې د سرور هم خیال صرف داروخان ؤ. سرور خپله لور په ماشومتوب کې د متین په نامه کړه. له دې رشتې په دواړو کورو کې هیڅوک هم انکاري نهٔ ول. هم دا قرابت داري وه چې دواړه کورونه یې سره نزدې کړي وو. بل د متین په مزغو کې هم شپږ کلنه ګل مینه د دهٔ ژوند ملګرې جوړه شوې وه. که څه هم متین په دې پاکه رشته سم نهٔ پوهېدی خو بیا هم پر دهٔ ګل مینه داسې ګرانه وه چې هر وخت به یې د ګل مینې سره لوبې کولې یا به ورسره ښوونځي ته ګډ تلی راتلی. د ګل مینې به یې خیال ساتی چې داسې نهٔ څوک یې ووهي. اوس هم چې ګل مینه د پلار سره ولاړه نو متین ډېر وژړل او په ژړا ژړا یې مور ته صرف دا یوه خبره کوله چې ګل مینه دې نهٔ ځي.

خو دا تګ د متین ژوند هم تباه کړی. د متین سره سره د متین د کورنۍ د پریشانۍ سوب هم جوړ شو. دا هغه تګ ؤ چې له متینه یې له انسان څخه ځناور جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞

په کومه ورځ چې هغه کس چې نوم یې خېرو ؤ د غمي سره روغبړ کړی ؤ په هغه ورځ له رؤفه سره یې په بازار کې ولیدل. دواړه جاسوسان وو، دواړه د سرور او د هغو د ملګرو په تلاش پسې سرګردانه وو.

"رؤف جانه! دوې میاشتې له مخه مې په کلي کې د غمي په کور کې یو مېلمه ولیدی، خو شک مې بېخي زیات د سرور پر راغی، خو هغه سرور نهٔ ؤ نوم یې صادق... "

رؤف چې دغه خبره واورېدله یو دم یې د خېرو خبره ور پرې کړه او ځني وې پوښتل؛

"څنګه سړی ؤ او چیشي یې پر سر ؤ؟ غمی څوک دی څه کاریې دی"؟.

"غمی زموږ د کلي دی، پلار یې ډېر نیک سړی ؤ له بدو ډېر لېرې خلک دي ښه ستانه کورنی ده. او د هغه مېلمه پر سر سپین او خړ پکول ؤ، اوږده ږیره یې وه، بریت یې غټ غټ وو، سترګې یې ډېرې وړې وې او ګوتونه یې په پښو نرې ځوان ؤ".
خېرو ورته وویل؛

"خدای دي غرق کړه دغه سرور دی، په والله که بل څوک دی، ما ټوله دنیا پسې چڼ کړه، ما د هغه پر سر څومره وهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړل، ماته یې وویل چې دا تالار ورکړې ده دوهم واره یې اوس ماته ډېر لږ وخت راکړی ؤ چې په هر حال کي به یې په لاس راکوې، او ته خبیث ماته د دوې میاشتې وروسته حال راکوې، هله ژر کوه درځه چې حال ورکړو. هلته یې عکسونه هم پراته دي هغه به وګورې". رؤف و خېرو ته وویل او دواړو لکه لېوان ولاړ شول داولسوالي په خوا روان شو چې ور دننه شو له قومندان صاحب سره یې روغبړ وکړی. قومندان ورته وویل؛

"ها رؤفګیه! څه زېری دي راوړی دی حال راکړه، څلور ورځې دي وشوې".

رؤف ورته وویل؛ "قومندان صاحب! لږ معلومات راته شوی دی چې د خېرو په کلي کې دی، ته د سرور عکس خېرو ته ورښکاره کړه چې دغه دی که نه، بیا به پسې ورشو".

قومندان عکس ورښکاره کړی خېرو ورته وویل؛ "صاحب هم دغه کافر ؤ، زموږ د کلي د غمي کره ؤ، ښځه یې مریضه وه، هله قومندان صاحب! موټر او یو څو کسان راکړه چې ولاړ نه شي سړی ډېر په وام کې ؤ".

رؤف او خېرو له وسله والو کسانو سره په روسي جیپ کې سپاره شو، دومره په تېزي راغله چې کلي ته راورسېده، خلک ټول په وام کې شو چې خدای دي خېر کړي دا څه کیسه ده چې په اول ځل زموږ کلي ته دغه کسان راغلل، موټر د غمي د کور مخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدی، کسان راکښېنسته شول، رؤف مخ ټینګ پټ کړی ؤ، نهٔ خبر نهٔ بل څه، بس د غمي په کور ور دننه شول، ناري شوې، چیغې شوې چي څه کیسه ده، نهٔ غمی په کور کي شته، نهٔ یې بل کوم ورور. ټولي خوني یې تلاشي کړې هیڅ په لاس نهٔ ورغلل.

غمی د کور په خوا را روان ؤ چي خدایه! خېر کړې دا څه کیسه ده. چي څنګه را ورسېدی رؤف په پټ مخ ورته وویل: "تهٔ غمی یې"؟ غمي وویل: "هو صاحبه! څه کیسه ده. خېر خو دی"؟

"خېر مېر نشته، د خبیث بچیه سرور چېري دی"؟ "کوم سرور"؟

"ښهٔ کوم سرور؟ یو یو لت ورکړئ، سرور به وپېژني".

غمي غریب ته یې دومره سخت وهل ورکړه چي بې هوشه شو. بیا یې سرې اوبه پر توی کړې چي په هوش کي راغی بیا یې ورته وویل: "سرور چېري دی"؟.

"صاحبه! زما خبر خو واورئ کوم سرور څوک ښیاست"؟

"ښهٔ مطلب اسلام نهٔ راورې". بیا د کونداغو باران شو، داسي وهل یې ورکړه چي بیا بې هوشه شو، خو دغه وار بې هوشه کېدل یې د ژوند اخیري وار شو، سترګي یې د تل دپاره پټي کړې چي هر څو یې اوبه پر توی کړې خو غمی بیا نهٔ شو غمی، د تل دپاره ویده شو.

یو کس هغه بل ته وویل: "شاکره! دا خو تر وخت تېر شو، اوس څه وکړو"؟

2021.01.22 08:46

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بس کار مهٔ په لره، اوس به د کور له زنانو پوښتنه وکړو چې سرور مو چیري پټ کړی دی". شاکر په جواب کې ورته وویل.

شاکر د کور په غولي کې سره د نورو وسله والو ولاړ ناري کړې چې؛ "دا سرور راوښیاست، دا مو چیري پټ کړی دی؟ ټول کور در ورانوو او په اور یې در سوځو". د کور وګړي په دا نهٔ دي خبر چې غمی له دنیا ولاړی، یوې زنانې ورته را بږغ کړو چې هغه ښځه او سړی خو به نهٔ ښیاست چې دوې میاشتې له مخه دلته راغلي وو".

شاکر ورته وویل؛ "هو هغه ښیو، هغوی خو په هم هغه دویمه ورځ شاه برات کلي له ولاړو، ګومان کوم د شاه برات کلي عمر پسې راغلی ؤ د هغه کوچنیان یې هم ورسره بوتلو".

"نو اول مو ولې نهٔ راته ویل چې مور مو دومره ستړي کړو، هلکه! خېرو دا عمر تهٔ پېژنې که نهٔ؟"

"هو صاحبه! خود یې پېژنم، هغه هم خلقی دی".

"درځئ چې د عمر کره پسې ورشو "شاکر دا خبره وکړه او روان شو. نور وسلاوال هم ورسره د کوره ووتل او په موټر کې کښېنستل. موټریې داسي راکاټ او روان کړی چې دوړه یې پوره لس منټه وه.

دلته د غمي مور چې راووتله چې غمی یې ولیدی تر خُله یې لویه چیغه وختله چې "زموږ خو مخ تور شو. غمی خو یې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ کړی". دلته ټول کور په غم او ماتم بدل شو، د غمي د وادهٔ شل ورځي شوي وې، ناوې ښځه يې پاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي کله رؤف او د هغه وسلاوال ملګري شاه برات کلي ته ورسېدل نو موټر يې په لار کي د جومات تر مخ ودرولی، دوی د مازديګر لمانځه ته کښېنته شو، لمونځ يې وکړی، رؤف او خېرو په پټو مخو لمونځونه وکړو چي څوک مو ونهٔ پېژني. لږ چي مخته ولاړو عمر په مخه ورغی، بېلچه په وږه د کښت او کروندې راروان ؤ، موټر يې ورته ودرولی او ورته يې وويل؛ "چي را او خېږه موټر ته". عمر ورته وويل؛ "خېر خو دی".

شاکر ورته وويل؛ "راځه، کافر هم خېر يادوي"؟ دا راته ووايه سرور چېري دی؟ سرور په لاس راکړه کني د ژوند څکه به راڅخه ونهٔ کړې".

"صاحبه! سرور خو له ما سره ؤ خو نن سهار وختي ولاړی، ما بېخي ډېر ورته وويل خو نهٔ پاته کېدی، برايي شپه مي په وچ زور په وکړه، قسم مي ورته وکړی، چي څنګه سهار شو ولاړی، نهٔ مي دی ليدلی".

شاکر امر وکړی چي يو سم لت ورکړئ، څنګه د يوه کافر حال نهٔ وايي.

عمر ته يې داسي لت ورکړی چي په ډېرو کونداغو يې ټول بدن ور تک شين کړی، دوی په خپل موټر کي سپاره شو عمر يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دلته پرېښوول، د کلي خلک راغلل عمر يې په ځولۍ کې کورته راوړی، عمر ټوله شپه بې هوشه ؤ، کور ودانو او د کور نور وګړو يې تر سهاره بدن ور ټکوروی. د سهار د اذانو په وخت کې په هوش کې راغی، لږ يې سترګې رڼې کړې، د عمر وروراجمل د صابر موټر راوستی سهار يې روغتون ته يووړی يو څه درمل يې ورکړو، بېرته يې کورته راوړی، خو عمر بيا هغه عمر نهٔ ؤ، څو ورځې ژوندی ؤ پس له لسو ورځو يې د ژوند روان ساعت يې ودرېدی، له ډېرو ارمانو سره د ګور بندي شو، حالات ډېر سره خراب شوي وو، يو ملا يې هم جنازه نهٔ کوله، خو اخير يې صرف په پنځو شپږو کسانو بغير د جنازې لمانځه په نيمه شپه کې خاورو ته وسپاری، ټول کلی داسي په وام کې ؤ چې له ډاره چا يوه خبره هم نهٔ شوای کولای، په کلي کې ډلې ډلې خلک د کلاشنکوفو سره ګرځېدل، چې چا به ډېره کمه وه يا به يې ډېره کوچنۍ کړې وه هغه به ډېر سخت وهل خوړل، چې چا به په جومات لمونځ نهٔ وکړی دغه سزا بيا نوره هم سخته وه.



2021.01.22 08:47

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵

سرور تر ډېرو غرو راتېر شوی ؤ، په يو وخت کي د بزګر
و کلي ته راورسېدی، له لوږي او تندي يې ډېر بد حال ؤ، هوسی
سرور ته وويل چي؛ "د ګل ميني پلاره! نور مي توان نسه چي تګ
درسره وکړم، دغه کلي ته درځه چي يو څه وخورو، خدای مهربان
دی په دغه کلي کي يو د الله دوست يا يو بشر دوسته انسان وي".
"ښځي ځمکه سرۀ تېکې ده، زۀ يوه بلا په سترګو وينم،
داسي نۀ وي چي پسات راجوړ شي، زۀ به يو دکان وګورم، تاسو په
دغه سايه کي ارام راته وکړئ، يو شی به راواخلم نو به مخته ولاړ
شو، دوه ساعته منزل پاته دی نور بل وطن ته رسېدلي يو".
"د ګل ميني پلاره! داسي مۀ کوه نوره نۀ شم تلای، بدن
مي اجازه نۀ راکوي. نو ولي درسره راتلم، رب مهربانه دی، خدای
به څوک نۀ راولي". هوسی په ډېره ستړيا کي ورته وويل. بس سره
راروان شو چي په کلي راګډ شو ډله خلګ ولاړ دي. سرور هوسی
ته وويل چي؛ "هوسی تۀ دغه کورته وردننه شه، زۀ به د هغو خلګو
خوا ته ورسم". هوسی هم ډېره ستړې وه بس هغه کورته وردننه
شوه.

سرور هغو خلګو ته ورغی چي ګوري يو ښائسته ځوان
پروت ؤ پر سر ويشتل شوی ؤ، په دريشي کي ؤ او د دريشی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞

سخي داد غم.-03333935503

سرور تر ډېرو غرو راتېر شوی ؤ، په يو وخت کي د بزګر
و کلي ته راورسېدی، له لوږي او تندي يې ډېر بد حال ؤ، هوسی
سرور ته وويل چي؛ "د ګل ميني پلاره! نور مي توان نسه چي تګ
درسره وکړم، دغه کلي ته درځه چي يو څه وخورو، خدای مهربان
دی په دغه کلي کي يو د الله دوست يا يو بشر دوسته انسان وي".

"ښځي ځمکه سرۀ تېکی ده، زۀ يوه بلا په سترګو وينم،
داسي نۀ وي چي پسات راجوړ شي، زۀ به يو دکان وګورم، تاسو په
دغه سايه کي ارام راته وکړئ، يو شی به راواخلم نو به مخته ولاړ
شو، دوه ساعته منزل پاته دی نور بل وطن ته رسېدلي يو".

"د ګل ميني پلاره! داسي مۀ کوه نوره نۀ شم تلای، بدن
مي اجازه نۀ راکوي. نو ولي درسره راتلم، رب مهربانه دی، خدای
به ځوک نۀ راولي". هوسی په ډېره ستړيا کي ورته وويل. بس سره
رارون شو چي په کلي راګډ شو ډله خلګ ولاړ دي. سرور هوسی
ته وويل چي؛ "هوسی تۀ دغه کورته وردننه شه، زۀ به د هغو خلګو
خوا ته ورسم". هوسی هم ډېره ستړې وه بس هغه کورته وردننه
شوه.

سرور هغو خلګو ته ورغی چي ګوري يو ښائسته ځوان
پروت ؤ پر سر ويشتل شوی ؤ، په دريشي کي ؤ او د دريشی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښی وړه یې د شهادت کلیمه لیکلې وه، سرور له یو سړي پوښتنه وکړه "په دغه ځوان څه شوي دي، دا چا وژلی"؟ ځان یې ناخبره کړی، یو خیرن سپین ږیري ورته وویل: "ښه شو دا خو کافرؤ مسلمانانو مردار کړی، عسکرؤ، ته یې نه وینې". د کلي خلکو ته یې امر وکړی چي په هغه شپله کي یې پټ کړئ، هدیرې ته چي یې یو نه شئ، هسي په غار یې چخ کړئ دا مردار".

خلکو هم واخستی د شپلې پخوا یې یووړی، ځوان یې پټ کړی، سرور ډېر زیات خفه شو، بېرته د دغه کور په خوا راغی، دروازه یې ور وټکوله، یو ماشوم ورته راووتی، "ماما څوک غواړې"؟ سرور ورته وویل: "مازدیګر لمر لوېږي بچیه! لږ اوبه راکړه چي اودس وکړم". کوچنی ولاړی اوبه یې راوړې، سرور اودس وکړی، له ماشومه یې د جومات حال وکړی، د جومات پخوا روان شو، په جومات کي یې په جومات لمونځ وکړی، ټول جومات له خلکو ډک ؤ.

له لمانځه وروسته یو تنکی ځوان ولاړ شو د اعوذ بالله او بسم الله وروسته یې یو کوچنی ایت د قرآن مجید تلاوت کړی. هغه هم غلط، بس خبري یې شروع کړې چي مسلمانانو ورونو وطن ټول له کفارو ډک دی، د هغو کفارو سره مقابله په کار ده، موږ ته د ځان او مال تر ټولو زیات زیان داخلي کفارو را رسولی دی، ټول باید دا کوشش وکړي چي دا داخلي کفار نیست او نابود کړي، نه به په کورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي پناه ورکوي او نهٔ به يې له کوره باسي چې بلې خواته ولاړ شي. هر څه چې ورسره وي هغه مال غنيمت دی، هغه ځني جمع کوئ او دوی بې مرګه مهٔ پرېږدئ، د دغو مرګ روا دی، خبري يې له يوې بلې خوا کولې خو اخر د ماښام د لمانځه وخت شو اذان وشو جومات وشو ټول خپلو کورو ته ولاړو، سرور په جومات کې ناست وُ چې د کلي ملک نوروز خان چې سرور پېژندی خو نوروز خان سرور نهٔ پېژندی، سرور ته يې وويل؛ "وروره! مسافر يې له کومه راغلی يې"؟ سرور ورته وويل؛ "محترمه له ذکريازۍ راغلی يم، شيګو ته ځم، بچيان مې هم راسره دي. هغه په هغه کور کې دي". ملک ورته وويل؛ "د حکومت سړی خو به نهٔ يې؟ که د حکومت سړی يې او س لا راته ووايه، زهٔ به يوه لار دربرابره کړم، د شپې سختې چاپې وي، بيا به موږ ته هم زيان ورسوي او خپله هم د ګور اسير".

"نهٔ محترمه! د حکومت سړی نهٔ يم. کور ودانه مې د ذکريازۍ ده او زهٔ د شيګې يم، کورته روان يم، کوچنيان مې د پلار کره تللي وو اوس يې کورته بيايم، پرېدی بزګري کوم، ډېره مې تلوار ده چې کورته ولاړ سم، چې بزګري مې له لاسه ونهٔ وزي. خان صاحب! د وطن د خلګو کار دا رنګه وي، انسان له خېر او شر نهٔ پوښتي، بس ورته وايي ما د پنځو ورځو رخصتي درکړې وه، تا ولې يوه ورځ زياته وکړه، نو په دغه مې ډېره تلوار ده چې کورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړشم د بچیانو رزق مې له لاسه ونهٔ وزي". سرور په ښه معصومانه انداز ورته وویل.

"وروره! راځه زهٔ مېلمستون لرم، د دغه کلي مشریم، ما دلته ټول خبر کړي دي چې له هري خوا مسافر راځي هغه به زما کره راځي".

پر لار سره روان دي ملک خبري ورته کوي، وروسته ملک ورته وویل؛ "مخ دي د ښځي شناخته دی، نې ولي داسي راته معلومېږي لکه ما چې لیدلی یې". سرور ورته وخندل، "خان صاحب نوم خاوري مي نعمت دی، لیدلی دي نهٔ یم، نهٔ ما تر اوسه تهٔ لیدلی یې، د یو بل شناخته خیال به دي پر راځي، کور مي په شیګو کي دی، که دي بزګر لیدلی یم خو نهٔ شم ویلای". خبري رواني وې چې کور راورسېدی. ملک ورته وویل؛ "کوچنیان دي په کوم کور کي دي ورشه هغه هم دلته راوله". سرور هم زر ورغی هوسۍ او ګل مینه او هغه ماشوم یې له کوره راروان کړل، پر لاري یې ورته وویل چې "زما نوم نعمت دی او ستا د پلار کور په ذکریازۍ کي دی او زموږ کور بیا په شیګو کي دی، دغه نومان په یاد لره". ګل میني ته یې وویل چې "تهٔ به یوه خبره نهٔ کوې که چا پوښتنه در څخه وکړه ورته ووایه چې زما نومان نهٔ دي زده". د خان کور راورسېدی، د خان مېلمستون ته ولاړی، هوسۍ او ګل مینه یې کورته وردننه کړل، چې مېلمستون ته ورغی یو نوی تنکی ځوان په دریشي کي ناست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ډېر په قهر ورته رېغېدی چي: "کافره! د کفارو ملګرتیا کوې"؟ ځوان ورته وویل: "صاحبه! توبه مي ده ایسته، په دغه نن تسلیم شوم، دغو کسانو ته هغو دلته راوستم، دغه وسله در واخله ماته یو جوړه کالي راکړه چي ولاړ سم، په دړېشي کي مي خلک وژني". خان په ډېر قهر ورته وویل: "ستا مرګ روا دی، وسله کښېږده، زېږه دی وباسه هغه د جهنم کندي ته یې ور وسپاره". ځوان ډېري زارۍ او فریاد وکړل خو خان ځان هم نهٔ پوه کوی. د ځوان لاسونه یې شاته ور وتړل، لس منتهه وروسته زېږ راغی خان ته یې وویل: "د هغه کار مي ور وکړی".

"ډېر ښه غازي زویه، ولاړشه کورته ور رېغ کړه چي ډوډی راوړي". خان ورته وویل.

ډوډۍ راغله ټولو ډوډۍ وخوړه، د سرور ډېره زیاته خوابده وه، یو څو ګولې یې وکړې خو هغه هم په زور، ځایونه ولوېدل د خوب وخت شو، ټولو لمونځونه وکړو، سرور له ځانه سره سوچ وکړی که دي اوس د تګ وویل خو دستي شک کوي چي اول یې شپه کوله اوس یې ولې اراده بدله شوه او که دي نهٔ وویل او دلته پاته شوې نو ډېر ظالمان خلک دي، که د شپې چاپه راغله یا داسي نورکسان راغلو په هغو کي چا وپېژندلې خو بیا دي دلته هم خېر نشته، حیران دی چي څه وکړي. د سرور نیم قرآن مجید په یاد زده ؤ، سر یې پټ کړی قرآن مجید یې شروع کړی، په دې ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



و کي پسي ویده شوی ؤ، یو وخت ږغ وشو چي د سهار د
ڼځه وخت دی. سرور راپورته شو اودس او لمونځ یې وکړی.
ن ته یې وویل: "صاحبه! موږ به ولاړ شو چي پر وخت
سېږو". خان ورته وویل "داسي دي کله پرېږدم، ناشته وکړه بیا
په مخه ښه". سرور بیا پاته شو خفه شو چي دا په څه عذاب
ه شوم، خو خېر ناشته یې وکړه، بیا د لمر له څرک سره را روان
چي نیم ساعت مزل یې وکړی په لاره کي ورته یو ځنځیر په مخه
ی.یو څو کسان ولاړ وو چي پټ مخونه، غټي غټي څوڼي او
ني خیرني ږیري یې وې.

ولاړو کسانو لاسونه ورکړل، سرور موټر سائیکل ورته
ږوی او یوه پر ږغ کړه. "حماده! سرور دی، دا زهٔ پېژنم، دا هغه
دی چي ټول خلک پسي ګرځي. دا هغه ملحد دی، دا هغه یو دی
، د اسلام سپکاوی کوي".

حماد امر وکړی چي "لاسونه یې تړشا ورو تړئ لکه سپی
ي لت ورکړئ". هیبت صاحب! مهٔ مهٔ چي دلته یې ونهٔ وهې، دا ځای
هلو نهٔ دی، یو واریې تر امیر صاحبه پوري ورسوو چي هغه کوم امر
ړی بیا به هغه ورسره کوو". درېیم کس جرار صاحب ورته وویل. د
وریې لاسونه ور وتړل، سترګي یې ورپټي کړې.

په یوه د ډبرو په خونه کي یې کښېناوی، هوسۍ ډېري
ړۍ ورته وکړې خو بې معنا وې، یوه ورته وویل "تاسو په کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځئ اوس چي هر موټر راغی په هغه کي به مو سپاره کړم، پاته شو
سرور دغه امر موږ ته شوی دی چي تحقیق ځني وشي، بېرته به
کورته درشي، هغې خواته کښېنئ". هوسی له ژړاؤ ډېر په بد حال
شوه. لس منټه وروسته یو موټر راغی هوسی او ګل مینه یې موټر
ته په ډېر زور ورپورته کړل. "استاده چي پر لاري دوی درڅخه
کښته نهٔ شي، تر خپل منزله پوري به یې رسوې". موټر حرکت
وکړی چي دوه ساعت تګ یې وکړی نو یو داسي دښت راغی چي
خالي ریګونه وو، ټول ډېر زیات تندې تنګ کړو، په لاره کي بیا
یو څو کسان ولاړ وو، موټر یې ودرولی، په موټر کي یې ښه
تلاشي وکړه، یو کس پر ګل میني سترګي ولګېدلې، ډرائیور ته
یې وویل "استاده! دا دي لور ده که څه"؟ ډرائیور ورته وویل؛
"یا وروره دا مي هیڅ نهٔ دي، د لاري پر پوسته یې دغه ښځه او دغه
دوه ماشومان په لاس راکړل چي تر غني خان کلا یې ورسوه نور
خبر نهٔ یم". خالي سترګي یې ښکاره نور ټول مخ پټ دغه کس
استاد ته وویل؛ "دغه ښځه او انجلۍ دلته را ښکته کړه". استاد
ورته وویل؛ "نا امیر صاحب دغه یې ماته راسپارلي دي، زهٔ دوی
تر هغه منزله رسوم، داسي نهٔ شي کېدلای چي زهٔ دوی دلته ښکته
کړم".

"تر سینه به دي سل کارتوسه وباسم، زهٔ څه درته وایم او
تهٔ څه وایې"؟ د مشین ګاټ یې پر کښن کړی، "ژر یې راکښته کړه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر ځله پوچه وه ځکه یې پوچې خبرې شروع کړې. ډرائیور هم وام واخستی دواړه یې له موټره کښته کړل، موټر یې خالي روان کړی، هوسۍ دومره بدې چیغې وهلې چې اسمان یې ټول په سر اخستی ؤ، امیر صاحب ورته وویل: "خورکۍ! ژاړه مهٔ، زهٔ فیروز یم، زهٔ ستا خپل قریب یم، ژاړه مهٔ" مخ یې ورته ښکاره کړی،" ما خو ته نهٔ یې پېژندلې دغه انجلۍ مې وپېژندله، په دغه مې له موټره راکښته کړې، مازدیګر سرور اکا هم راولم، اوس هغې پوستې ته ځم تاسو بېغمه شئ، هیڅ فکر مهٔ کوئ. دولته! دا زموږ خپلوان دي. چای ورته پخې کړه، زهٔ ورځم هغه زما اکا یې نیولی دی، هغه راولم". فېروز دا هوسۍ ته تسلي ورکړه او بیا یې دولت ته کوم چې نزدې ورسره ولاړ وسله وال ملګری ؤ وویل.

"هیڅ فکر مهٔ کوه امیر صاحب! ورشه". دولت ورته وویل. امیر صاحب پر موټر سائیکل سپور شو دومره تېز ولاړې چې حد یې نهٔ ؤ. ځنګه چې هلته ور ورسېدی نو یې د قومندان صاحب سره د سلام او څه حال و احوال وروسته یې ورته وویل: "قومندان صاحب! ملک کاکا چېرې دی"؟

قومندان: "کوم ملک؟ هلکه څه کوې چې دومره په تلوار راغلی یې، خیر خو دی"؟

"هو قومندان صاحب! هغه سرور زما تربور دلته مو هغه کښته کړی دی، کوچنیان مو یې په بل موټر کې له پردې سړې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاره کړي وو، هغه هلته ما راوګرځول، سرور کاکا په لاس راکړه زهٔ يې راسره بيايم". دولت ورته وويل.

"هلکه دولته! دا وس تهٔ څه وايې، دا يو مرتد ذليل انسان دی، دی کله مسلمانۀ او موږ مخابره هم وچلوله چي سرور مو نيولی دی، اوس به بيا څه ورته وايو"؟

"قومندان صاحب! چي هر څه کېږي زهٔ يې راسره بيايم، په يو حال کي يې نهٔ پرېږدم، د ملک کاکا نېکۍ چي زما د پلاره سره يې کړي دي زما نهٔ هېرېږي، خو نن ماته الله پاک موقع په لاس راکړه چي لږ مرسته يې وکړم، زما پلار يې هم دغه رنګه له مرګه خلاص کړی". فېروز ورته وويل.

"فېروز اخونده ستا خوښه ده خو د قومندان صاحب جواب به بيا تهٔ وايې، چي هر څه وو تهٔ به يې مخته درېږې". امير ورته وويل.

"هو امير صاحب! چي دا سر مي قلم کوي زهٔ ولاړ يم انکاري به نهٔ سم".

"درځه" دا يې ورته وويل دواړه ولاړ شول.

د ملک کاکا سترګي يې ورخلاصي کړې، دواړه را روان شول، ملک صاحب ورته ويل؛ "زما په موټر سائيکل کي تېل کم دي، مخته به را ودرېږي". دولت له خپله موټر سائيکله تېل ورته راوکښل. "تهٔ ماته دومره خط راکړه چي پر لاري مي څوک تنګ نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، زهٔ ځم دا وطن پرېږدم، دلته زما ژوند تریخ دی". سرور ورته وویل:

"یا ملک کاکا، خط نهٔ درکوم تر ټولو ځایو دي زهٔ تېروم، بیا در ځخه راځم، هو خبره دي سمه ده. دلته ژوند نور نهٔ کېږي، ستا دښمنان ډېر دي". فېروز او سرور پر لار مجلس سره کاوی خو اخیر راورسېدل. سرور، هوسۍ، ګل مینه او ماشوم بیا پر موټر سائیکل سره سپاره شو، فېروز هم ورسره ملګری شو، تر ډېرو اوږدو او سختو ځنځیرونو راتېر شو، د خدای په اماني یې ځنې واخسته، سرور د وطن خاوره مچ کړله، و یې ژړل، مخ پر لمر خاته راروان شو پیسې هم ورسره نهٔ وې، په یو بازار کي په یو کمزوري هوټل کي په شل افغانۍ په نهاره شپه سبا کړه.

سهار یې هوسۍ ته وویل چي "تاسي دلته په دا هوټل کي راته انتظار شئ، زهٔ به دا موټر سائیکل خرڅ کړم یو څه خرڅ به برابر کړم چي د استوګني یو ځای ونیسو نو به زهٔ خپله مزدوري درته کوم د غم لړلي ژوند شپې به تېروو". هوسۍ ورته وویل "سمه ده ورشه".

سرور په بازار کي په ۷۰۰۰ افغانۍ موټر سائیکل خرڅ کړی، راغی په هغه هوټل کي یې ډوډۍ وخوړله، د هوټل والا حق یې ورکړی، له هوټله دباندي راووتی په پوښتنه پوښتنه یې اخیر په ۲۰۰ افغانیو د کرایې ځای پیدا کړی. د کور د ضرورت شیان یې واخستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کوچنی کوریې جوړ کړی، پیسې ټولي خلاصي شوې، اوس د خوراک دپاره یې یو شی نشته، دباندي ولاړی ټوله ورځ یې تېره کړه، خو نهٔ یې روزانه پیدا کړه نهٔ بل څه. ټوله ورځ وږی نس وګرځېدی، ماښام کورته راغی، هوسۍ ناسته وه او ګل مینه ویده وه. ماشوم ښېخي زیات ژړل. سرور هوسۍ ته وویل "دا ماشوم ولي دومره سخت ژاړي څه وجه ده ناجوړه خو نهٔ دی"؟.

"یا ناجوړه نهٔ دی وږی دی، بلا وهلي شیدې مي نشته، حیرانه یم څه وکړم او ګل مینه خو په ژړا ژړا کي وږې پسي ویده شوه، ډوډۍ یې غوښته خو ماورته وویل بابک به دي راسي اوس یې راوړي، په دغه خبرو کي پسي ویده شوه". هوسۍ ورته وویل.

"څه خېر دی دا هم پر موږ یو امتحان دی دا هم د رب کارونه دي، خو هوسۍ په هر حال کي به شکر کاږو". سرور ورته وویل.

"د ګل میني پلاره! څه دي نهٔ دي راوړي"؟ هوسۍ ورته وویل. "یا ګراني یو شی مي نهٔ دی راوړی، کار مي په یوه هوټل کي پیدا کړی خو له شرمه مي اوس نهٔ ورته وویل چي زما بچیان وږي دي، هغه سړی ښه انسان ؤ راته یې ویل سبا راشه وختي ۵۰ کلداري د ورځي درکوم او د ماښام ډوډۍ به هم د کور درکوم".

سرور ورته وویل دواړه په نهاره پرېوتل خو ماشوم ټوله شپه ژړل، سهار وختي سرور دباندي ووتی یو دکان خلاص ؤ هغه ته ورغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکاندار ته یې سلام ور واچاوی، د روغبړ وروسته یې ورته وویل؛ "وروره! ډېر مجبور یم بچیان مي له لوږي راته ژاړي، که یو څه پور راکړې ماښام به یې درکړم، هغه کور مي دی اوس نوې کډه راغلی یم".

دکاندار ډېر په مکر ورته وویل؛ "ما خو پور بند کړی دی او ستا رنګه خلک ډېر راځي، دغه خبري کوي هسي خلګو ته دهوکه ورکوي، ورځه وروره پر بل چا نس ووهه".

له دکانداره سره یو بل ځوان ولاړ وٶ ډېر زیات خفه شو په سرورپسي یې بږغ وکړی "دغه د لطیف اکا په سرای کي چي پروت یې دغه یې"؟ سرور ورته وویل "هو وروره! دغه یم".

"چیشي غواړې چي زۀ یې درته واخلم، که یې پخپله اخلې خو دغه دوه سوه روپۍ در واخله چي خدای درکړې بیا یې راکړه".

دکاندار ورته وویل "هلکه! ناصره دا څه کوې، ولي پردي سړي ته روپۍ ورکوې، دا تۀ څه پېژنې، سبا به یې نۀ کړي در".

"غني اکا که یې راکړې که یې نۀ کړې را زۀ یې د انسانیت په خاطر ورکوم، برایې کرده شپه یې په کور کي ماشومانو ژړل، الله پاک به راڅخه ناراضه سي". ناصر په خبرو خبرو کي سرور ته روپۍ ورکړې، سرور د کور سودا او کولچه شیدې هر څه واخستل، ډېر په خوشحالۍ کورته ولاړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هوسی! و هوسی! هوسی!" هوسی له خوا یو حال ته ؤ، چې کوټې ته ورد ننه شو هوسی داسې بې سده ویده پرته ده. سرور سودا ورته کېښېنوله، هوسی یې په ډېره مینه راویښه کړه. ورته یې وویل: "زهٔ ځم هوټل ته دغه شیان دې کوچنیان ښه ماړه کړه، بیا که ژوند ؤ زهٔ ماخوستن راځم یو څ د خوراک به راوړم".

سرور تر دروازې ووتی، هوسی دروازه پسې بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امین مسرور

سرور د هوټل په کار اخته شو، سهار تلی ماښام به راتلی، د ژوند سلسله یې ښه روانه شوه. ورځې شپې داسې پر تېرېدلې لکه یو خوب. د مسافرۍ د ژوند دیارلس پسرلي پر تېر شو، یو وخت داسې هم رالی چې د سرور زوی چې نوم یې جبار ؤ زلمی شو، سرور ښه تعلیم په وکړی، ګل مینه هم چټه پېغله شوه، دومره ښائسته وه چې هر چا به ولیدله پر مئین به شو. د صحرا ژوند ؤ، غټو غټو هلکانو وظیفې (ځیرې) ټولولې، یو طالب چې د سرور کورته وردننه شو پر ګل مینه یې سترګې ولګېدې، ډېر زیات پر مئین شو، د سرای په منځ کې تر ډېرو حیران ورته ولاړ ؤ، ګل مینې وظیفه ورکړه بیا هم نهٔ تلی، تر ډېره ولاړ ؤ. اخیر هوسۍ ډېر په قهر ورته وویل چې "ورځه له ننه وروسته چې کورته دننه رانهٔ شې، که راغلې بې عزته کوم دې او د ګل مینې پلار درباندې خبروم". خو طالب ډېر سپین سترګی ؤ چې تلی نو یې ورته وویل "زهٔ هر کورته دننه ورننوزم او تاسو بیا څوک یاست چې پر ما پابندي لګوی. د چا پلار هم ما نهٔ شي بندولای. ګورو به یې چې سبا زهٔ راځم که نهٔ". طالب د دې خبرې سره تر دروازه ووتی.

سرور چې کورته راغی هوسۍ ټوله کیسه ورته وکړه چې "د جومات ملا ته وو ایه چې دا طالب لوی سړی دی دا ولې د خلګو کورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دننه ورځي، دغه ته ووایه چې په دروازه کې دې ږغ کوي او دننه دې نه راځي په کور کې څوک نه وي یوه زه بله ګل مینه".

"سمه ده زه ما خوستن مولوي صاحب ته کور ته ورځم، ښه جبار لا نه دی راغلی"؟ سرور ورته وویل.

"یا تر اوسه نه دی راغلی، دغه دی راغلی عمر یې ډېر دی، الله پاک دې دواړو ته ډېر عمر ورکړي". هوسۍ په خندا وویل. جبار هم دغه ؤ چې کور ته راننوتی.

"ډوډۍ راواخلئ جبار هم راغی، څه دې پخ کړي دي"؟ سرور ځني وپوښتل.

"د غوایي ښوروا مې پخ کړې ده، ګل میني زویه! ژر یې راواخله پلار او ورور دې وږي دي". هوسۍ د جواب سره ګل میني ته امر وکړی.

"سمه ده را اخلم یې". ګل میني هم له اشپز خانې جواب ورکړو.

ډوډۍ راغله ټولو ډوډۍ وخوړله، جبار او ګل مینه مور یې ویده شو، سرور د ملا د کور پر لور روان شو. دروازه یې ور وټکوله. هغه طالب ورته راووتی، "آ حاجي صاحب! څوک غواړې"؟ طالب ځني وپوښتل.

"زه حاجي نه یم او نه ماته حاجي صاحب وایه، یو څه ادب زده کړه. له مولوي صاحب سره مې کار دی". سرور ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" هغه ویده دی، نیمه شپه ده، هغه سهار جماعت ورکوي، دا وخت خو هغه کسان ګرځي چي نهٔ خدای پېژني او نهٔ رسول". طالب ورته وویل.

" دا اوس تهٔ څه ګڼې ي وډي وایې، زهٔ خدای او رسول نهٔ پېژنم"؟ سرور ورته په قهر شو.

" ورځه ماته ډېري لاري مهٔ رابنیه، اوس دا وخت د نصیحت کولو نهٔ دی". طالب ورته وویل.

سرور بېرته د کور په خوا روان شو، پر لاره یې ډېر سوچونه وهل، چي یو وار بېرته در وګرځه چي تا دا خبره ولې نهٔ ورته وکړه چي بله ورځ زموږ کره وظیفې ته مهٔ راځه، که راځې نو بیا په دروازه کي درېږه. بېرته یې د ځان سره وویل چي دا په پردو ټوکولوی شوی دی، بیا به داسي خبره درته وکړي چي د خُلې خوند به دي پر خراب شي. پرېږده یې. کور ته رادننه شو، په سوچو سوچو کي پسي ویده شو، سهار وختي بیا کار ته ولاړی.

ماښام چي کورته راغی نو هوسی ورته وویل چي؛" تهٔ هغه ملا ته ورغلې که نهٔ، هغه طالب خو نن بیا کورته دننه راغی، نن یې تر پرون لا بد حال جوړ کړی ؤ. داسي بدي بدي خبري یې کولې چي په یو شي نهٔ ؤ بند". سرور ته ډېر قهر ورغی، هوسی ته یې وویل چي؛ " تاسو ډوډۍ یو وار مهٔ را اخلئ زهٔ ورځم چي دا څنګه د بې ننګه زوی دی چي یوه خبره نهٔ مني". سرور ورغی، د



2021.01.22 08:49

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا د کور دروازه یې ور وټکوله. بیا هغه طالب راووتی، سرور ورته وویل؛" طالبه! ته وظیفې ټولوې"؟

"هو زه یې ټولوم". طالب په جواب کې ورته وویل.

"که یې ته ټولوې نو بیا د خلکو کورونو ته ځله ورننوزې،؟ ته شرم نه لرې، حیا نه لرې چې لوی ځوان یې په کورو کې له ښځو سره بد چلن هم کوې، بلکه ورځ چې زموږ کره رانه شې، زه وظیفه نه درکوم". سرور په غصه کې ورته وویل.

"ډېرې خبرې مه کوه، دلته ته نوی قانون مه جوړوه، زه هر کور ته ورځم، دننه دباندې والا نه یم، چې وظیفه نه راکوې نو بیا به څنګه وي؟ بیا به سبا کېږه باروې چې بیا دې په دا کلي کې نه ووینم. موږ ته ټول کلی په درنه سترګه ګوري" طالب ورته وویل.

" هلکه صدیقه د چا سره دې بوغ دی"؟ ملا پر بوغ کړو.

" بابا دا هغه خلقې دی چې له قرانه او اسلامه له نفرته ماته وایي چې بل وار به زموږ کره وظیفې ته نه راځې". طالب د مکر په ژړا کې ورته وویل.

"ولې وروره! دا ټول کلی وظیفې راکوي او ته یې بیا ولې نه راکوې، وجه څه ده"؟ مولوي صاحب ځني وپوښتل.

"مولوي صاحب! زه ولې وظیفه نه درکوم په دواړو سترګو به یې درکوم، زه دغه نه وایم یو وار پرون زموږ کره دننه راغلی ؤ، بد اخلاقي یې کړې وه، نن بیا راغلی ؤ، زه ورته وایمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دننه مه راځه، که چېرې دننه راځې بیا زه وظیفه نه درکوم، دی راته وایې دننه خامخا درځم". سرور ورته وویل.

وروره! موږ ته ټول کلی په درنه سترګې ګوري، نه څوک له موږ ستر کوي نه موږ د چا په دروازه کې درېږو، که دې دغه رنګه نه وې خوښه سبا چې دې په کلي کې ونه وینم، ورځه پر دغه خبره تر سهاره سوچ وکړه، نه لمونځ نه اودس نه جومات، ته هم ځان ته مسلمان وایې، دا رنګه مسلمان وي، مسلمان ډېره خیري". مولوي له ځان سره بوڼېدی. سرور ځنې ولاړی کورته.

هوسۍ ورته وویل؛ "د ګل میني پلاره! خېر خو به وي، ولې دومره خفه یې پر مخ دې بېخي زیات خفګان دی څه کیسه ده، ملا خو به څه نه وي درته ویلي"؟

"یا څې نه دي راته ویلي، جبار راغلی دی که نه"؟ سرور ورته وویل.

"هو راغلی دی، ډوډۍ تیاره ده، ماته دې د خبرې جواب نه کړی را، ښه ملا څه درته وویل"؟ هوسۍ ځني وپوښتل.

"ملا؟ توبه د ملا به څه درته ووایم، ملا جواب راکړی چې یا به زما زوی دننه درځې یا به سبا کډه باروې. نوره دې خوښه ده، داسې بد اخلاقه انسان و". سرور ورته وویل. ډوډۍ وخوړل شوه، ټول پرېوتل، سرور په سوچو سوچو کې ویده شوی و، سهار ډېر وختې دروازه وټکېده. چې سرور ورغی نو چې وکتل لطیف

(c) ketabton.com: The Digital Library



اكا د سراى مالک او د كلي ټول خلک ولاړ وو. سرور له ټولو سره روغبړ وکړی، لطیف اول ورته ګویان شو چي "نن مکان خالي کړه چي تر غرمې دي دلته ونهٔ وینم، یو خو نهٔ لمونځ کوې او بل خیرات هم نهٔ ورکوې، ستا د بې دیني په وجه به زموږ د ټولو غاړي بندي وي او برایي مابنام دي له ملا صاحب سره جنجال کړی ؤ اوس دي یو څه روپۍ پیدا کړې ستړګي دي وکړې، سبا به بله نخره کوې".

سرور ورته وویل "لطیف اکا ما صرف دغه ورته وویل چي هلک دي کورته دننه نهٔ راځي، خو هغه سپکي سپوري راته وکړې".

"بس بس، ډېري خبري مهٔ کوه، بس کور خالي کړه کده بار کړه نور د دلیلو ضرورت نشته". ټول کلیوال ورته غصه وو. لطیف اکا خبري کولې پسي روان شو.

سرور کورته راغې هوسۍ پوښتنه ځني وکړه "د ګل میني پلاره! څوک ؤ"؟

"نو به څوک وو، کلیوال وو او لطیف اکا ویل نن تر غرمې کور خالي کړه، له کلي بار شه". سرور ورته وویل.

"څه خبره نهٔ ده، الله یو روزۍ یې ډېري. هسي یې خالي کړه ولي دومره ورته پریشانه یې، ورک دي شي دا بې ضمیره او بې ننګه خلک چي دومره جا هله دي". هوسۍ ډېر په لوی زړهٔ ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بس غوټي وتړه زهٔ یو موټر ګورم، نو به کډه کې بار کړو او جبار ته وایه چې نن مکتب ته مهٔ ځه". سرور د باندې ووتی موټر یې راوستی کډه یې بار کړه، سیخ د ژړي په خوا روان شو، مازدیګر ژړي ته ورسېدل، هلته یې یوه کنډواله سرای پیدا کړی، کرایه یې نهٔ وه، وایې ړول پکې. شپه یې په شنه مځکې تېره کړه، سهار سرور د ژړي یو کوچني بازار ته ولاړی، هلته یې یو کوچنی دکان په کرایه ونیولی، په هغه کې یې یو کوچنی د چای هوټل راوایستلی، د هوټل ټول ضروریات یې پوره کړو، دلته د ژړي په بازار کې یې یو د کرای کور ونیولی، کډه یې هم را بار کړه. جبار یې له ځان سره په هوټل کې کړی، د ژوند چارې یې ښې روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵

بله ورځ چې ماښام سرور کورته ورغی هوسۍ ورته وویل چې "نن کورته داسې ښځې راغلې وې تر ډېره ناستې وې، د ګل مېنې پوښتنه یې وکړه چې دا مې څه ده ما ورته وویل لور مې ده بیا یې راته وویل پېغله ده ما ورته وویل هو نو یې څه نه دي ویلي ولاړې".

"څنګه ښځې وې تا پوښتنه نه ځنې وکړه چې له کومه راغلې یاست". سرور ورته وویل.

"یا پوښتنه مې نه ځنې وکړه". هوسۍ په خندا ورته وویل. "دا رنګه ناولده خلک کورته مه راپرېږده هسې یو فساد به جوړ شي، دلته حال نه دی معلوم". سرور ورته وویل.

ټولو په یوه ستر خوان ډوډۍ سره وخوړه بیا ټولو د مړو چم وکړی، سهار وختي سرور له لمانځه هوټل ته روان شو، هوسۍ ته یې وویل "جبارته وایه چې بیا ژر راشي، هلته رش وي زه او نېک نه شو پسې رسېدلای".

"سمه ده په مخه دي ښه زه به یې ژر درپسې در ولېږم" هوسۍ ورته وویل. د سرور هوټل داسې مشهور شو چې په دا ټول علاقه کې داسې هوټل نه ؤ. غرمه څلور کسان هوټل ته راغلل، سرور ته یې د ډوډۍ ارډر ورکړی، سرور ډوډۍ ورته راوړه، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي وخوړله سرور ته یې روپۍ ورکړې او ورته یې وویل "سرور دي نوم دی د بازار تر ټولو شادي کور دی" سرور ورته وویل "یا نوم مي معروف دی، کور مي هغه کور دی دلته ټول خلک معروف راته وایي، تاسو نوم غلط اخلئ". ښهٔ معروفه بخښنه کوه موږ په نامه کي غلط سوي یو". چهټی په کومه ورځ کوې داسي لږ کار مو درسره دی کورته درځو". په هغو کي یو کس ورته وویل.

هاهاها ځوانه! یو وار خو د ځان پېژندګلوي مو راته وکړه چي نومان مو څه دي، کور مو چېري دی او کار مو څه کار دی نو چي سره وپېژنو بیا به خبره مخته بیایو". سرور په خندا ورته وویل.

"معروف اکا زما نوم نعمت دی، دغه ځوان قدرت دی او دغه بل سپین ږیری مي اکا صبور دی، کور مو ستاسو د کور له څنګه دی، خو کار د هوټل نهٔ دی چي کور سره کښېنو بیا به ووایو". یو ځوان چي تر ږیره یې بېرتونه غټ وو او اوږده لمنه، خیرن پاج یې ترلی ؤ ورته یې وویل.

"بیا دغه پیسې بېرته واخلئ، تاسو زما همسایه ګان یاست، ما نهٔ یاست پېژندلي". سرور ورته وویل.

"یا یا یا معروفه! قسم دی که دا واخلو، دا ستا حق دی دا خو کور نهٔ دی، دا هوټل دی". بل ځوان ورته وویل.

"زهٔ خو د ورځي نهٔ یم خلاص، یا نن ماخوستن راشئ ډوډۍ به هم له ما سره وخورئ". سرور ورته وویل. "سمه ده،



2021.01.22 08:50

(c) ketabton.com: The Digital Library



درځو، خوښه مې ده" درې سره ځیني روان شو ماخوستن چې سرور کورته ولاړی هوسۍ ته یې وویل هوسۍ نن داسي درې کسان راغلو ټوله کیسه یې ورته وکړه. هوسۍ ورته وویل "دا به د هغو ښځو د کور سړي وي نو تا څه ورته وویل"؟

"ما څه نهٔ دي ورته ویلي، ما ورته وویل چې د ورځې نهٔ یم خلاص، د شپې بیا راشئ نو اوس راځي، دغه غوښې او وریځې مې راوړي، دغه پاخه کړه.

د شپې ښهٔ ناوخته پنځه کسان د سرور کورته راغلل، سرور یې هم ښه عزت وکړی. ښهٔ ډوډۍ یې ورته کړې وه، میلمانه ډېر زیات خوشحاله ناست وو، د پښتنو دا دستور دی چې له ډوډۍ بعد دوه رنګه چای راځي شنې او توري، سم دستي چای هم راغلې، پر چای دستي خبره یاده شوه، د نعمت اکا صبور چې د ټولي کورنۍ مشرؤ په خبرو خبرو کې پر خپله خبره راغی، سرور ته یې وویل چې "معروفه روره! موږ راغلي یو. زما وراره نعمت چې سهار له ما سره ستا هوټل ته راغی هغه ځوان ښهٔ تعلیم یافته دی، دغه ستا لور غواړو نو ستا څنګه خوښه ده"؟

"ها ها، زما خوښه به وي یا به نهٔ وي خو په دغه به مشوره وکړمه، زما له بچي سره او زما له قریبانو سره، دوستي د زرو کلو لاره ده، د یوې ورځې کار نهٔ دی. دا خبره خو سهار هم تاسو راته کولای شوای، بیا به نن موږ مجلس کور پر کړی وای او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ به تاسو کورته راغلي واست بیا به مو بحث پر کړی ؤ".
سرور ورته وویل.

"خو موږ ته مناسبه نهٔ وه، په دغه مو په هوټل کي نهٔ شوای درته ویلای". صبور اکا ډېر په خندا ورته وویل.

"یا څه خبره نهٔ ده. د لور او د زوی پر ما یو فرق نشته، څنګه چي زوی ته کوم شی خوښوم هغه لور ته هم خوښوم، خو ما له لور سره یو ظلم وکړی چي په هغې مي تعلیم نهٔ وکړی، دا به زما تر ډېره وخته پر زړهٔ یو داغ وي". سرور ورته وویل

"او هغه بله ورځ چي ښځي راغلي وې هغه هم ستاسو د کورو وې"؟

"هو هغه زموږ د کورو وې". صبور ورته وویل

ښه تر ډېره په مجلس سره اخته وو اخري دوولس بجې شوې، صبور ورته وویل "موږ څو ستاسو یې کورودان ښاد او اباد اوسئ چي موږ ته مو دومره عزت راکړی، که رب ته منظوره وه بیا به حال ستاسو له لوري وي، د خدای په امان". مېلمانه رخصت شول سرور کورته ولاړی، هوسۍ پوښتنه څني وکړه "د ګل میني پلاره! دا څوک وو او څنګه راغلي وو"؟

هوسۍ! دا هغه ورځ چي ښځي راغلي وې د هغو خلک ول، د ګل میني رشتې ته راغلي وو". سرور ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نو تا څه ورته وویل"؟ ګل مینه خو تا د متین په نامه کړې وه، که سبا دارو خان لالا خبر شو یا یې ګل مینه وغوښته نو بیا به څهٔ کوې"؟

هوسۍ! ګوره ما ستا بې مشورې یو کار نهٔ دی کړی، نهٔ یې کوم، ماغزه خو مي خراب نهٔ دي چي پردو ته به یې ورکوم". ما ګل مینه په کوچنیوالي لا د داروخان و زوی متین ته ورکړې وه او دا به د هغه په نامه وي. که خدای ته منظوره وه زهٔ د داروخان سره په یوه نهٔ یوه طریقه تماس نیسم چي راسي دا خپل امانت په ښه عزت یوسي". سرور ورته وویل. د هوسۍ هم زړه ښیغمه شو او ولاړه کوټي ته ننوته. ګل مینه په اشپزخانه کي ولاړه دا خبري واورېدې. حیرانه شوه چي دا خبره ماته مور یا پلار څله نهٔ ده کړې، ولي یې له ما دا خبره پټه ساتلې وه"؟

خیر شپه تېره شوه، سهار سرور هوټل ته ولاړی، په خپل کار باندي مصروفه شو خلکو ته یو حال نهٔ کړی ور. په دا کي ډېري ورځي تېري شوې، نعمت د ګل میني په عشق کي لېونی ؤ، هره ورځ یې د کور مخته په دا هیله تېرېدی چي ګل مینه به ووینم، د میني اظهار ورته وکړم، خو ګل مینه تر کور دباندي نهٔ راوتله، نهٔ د ګل میني د ټکري پلو تر اوسه چا لیدلی ؤ. هره ورځ به هوټل ته ورتلی له سروره سره یې ښه شناخت شو چي هوټل ته به هر څوک د نعمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شناخته راغی د هغه پیسې به نعمت ورکولې، له سروره هېر شوي وو چې دا هغه ځوان دی. د نعمت مینه یک طرفه وه.

نعمت بله ورځ خپل اکا صبور ته وویل چې "هغه هوټل والا خو نهٔ د یا جواب درکړی نهٔ د هو؟ یو وار خو ورشه ورته ووایه چې موږ ستاسو په انتظار یو خو یوه خبره درته کوم اکا، په خلاصو غوږو یې واوره، زما پلار مړ دی، ستا ورور شکور او دوې خوېندې لرم، یوازې سر یم بل څوک لرم هم نهٔ، چې په هر صورت وې زهٔ د غه انجلۍ کوم یا به سر خورم یا به یې د ځان کوم، نوره ستاسو خوښه ده اوس مې غاړې درته خلاصې کړې، سبا دې بیا یوه ګیله هم نهٔ منم" نعمت ورته وویل.

"سمه ده بچیه ورځم اوس دستي ورځم". صبور روان شو د سرور هوټل ته مازدیګرې دی ورغی، ښه روغبړ یې ورسره وکړی، سرور چای ورکړې، صبور ورته وویل چې "معروفه! موږ خو ستاسو په انتظار یو، ډېرې شپې او ورځې وشوې، ستاسو له خوا یو حال نشته، خبر خو دی"؟.

"په ډېره بخښنه سره ما خو حال نهٔ کړی در، هره ورځ مې په زړهٔ کې وې خو دا د هوټل داسې کار دی چې انسان د ژوند یو کار ته نهٔ وې ځنې خلاص، نو خبر نهٔ وم د انجلۍ مور راته وویل چې دا خو ما په کوچنیوالي لا خپل د ورور زوی ته ورکړې ده، هغه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور زما زوی ته راکړې ده، په روان سپړلي کې یې واده دی".
سرور ورته وویل.

"دا اوس ته څه کېږي وډي وایې، زموږ د کور ښځو پوښتنه ځني کړې وه، ستا کور ودانی ورته ویلي وو چې یا نه مو ده ورکړې او ته
یا څه وایې، خو صفا جواب راکړه، خبره تر غابښ او تر ژبه مه لاندې کوه". صبور ورته وویل. نعمت هم د هوټل په کونج کې ناست و، له ډېرې غصې شین او سور کېدی، په زړه کې وایي چې پر دنیا یې انسان ته نه ورایله کوم تا کوم سوچ کړی دی.

صبور ډېر په خسم ځني راووتی، تر شا نعمت هم پسې راووتی، پر لار نعمت ورته وویل "زه د شپې کورته ورځم په زور یې ځني ورم، په یو حال کې یې نه پرېږدم".

"هلکه! ته څنګه انسان یې دا څه بابولالي وایې د مړو ښځې چا تښتولي دي، په بدو مو اخته کوې، ته بل ځای راوښیه، تر دې ښائسته، چې په هر څو وي زه یې درته کوم، خو د دغه خلګو لاس واخله".دواړه د کور په خوا روان وو، صبور پر لاري نعمت ته زارۍ کولې خو نعمت په هغه خرۀ سپور ؤ یوه خبره یې نه منله.

اوس نعمت د ماښام په انتظار ؤ چې کله به شپه شي خو اخر هغه وخت هم راغی چې شپه شوه. نعمت د ګل میني، میني داسي لېونی کړی ؤ چې نه یې د چا خبره اورېدله او نه یې څوک له ځان سره ملګری کاوی. ډوډۍ یې وخوړله، یو خنجر ورسره ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباندي راووتی د مسجد شاته ځوانان ناست وو، له هغو سره پر مجلس اخته شو، اخر یو یو کورته تلی، خو نعمت د مسجد شاته د محراب له څنګه یوازي پاته شو، شپه ښه پخه شوه، نعمت له ځانه سره وویل چي "اوس خو ټول خلک ویده دي او معروف خو ستړی هم وي، نو ښځه چي یې راکښېنوي ما به ګل مینه تر علاقو تېره کړې وي". نعمت په نوي ځوانۍ کي ؤ او ښه پیاوړی ؤ چي یو چا یې هم مقابله نهٔ شوای کولای او د سرور توپنچه عادت ګرځېدلې وه چي د شپې او د ورځي به ورسره وه، بس په څه به تیار ؤ خالي ماشه به یې غوښته چي وخت پوره شي بس بیا به خامخا یوه بهانه جوړېږي. سرور په دغه ساعت د جواب چای دپاره دباندي ؤ، په توره شپه کي د چپ لاس دېوال خواته رګ یې وهی او نعمت په ښي لاس پر دېوال سر راپورته کړی، نعمت سرور نهٔ لیدی او سرور بیا نعمت ولیدی چي دومره په کراره تر دېواله راواوښتی، پوره اراده یې کړې وه چي ټول به مړهٔ کړي، بیا به ګل مینه د متو په زور وړي. سوکه سوکه په واړه قدم را روان ؤ، سرور هم توپنچه تیاره کړه سم یې ځان ورته برابر کړی چي نعمت ښهٔ ورته رانزدې شو سرور درې ټکه پر وکړو، نعمت ولوېدی، هوسۍ په منډه راغله، سرور چي ګوري چي یو ځوان په وینو کي اخري سلګۍ وهي، سرور په ژوند قتل نهٔ ؤ کړی، ډېر وار خطا شو، هوسۍ ته یې وویل چي "د رب دپاره ځان تیار کړئ جبار او ګل مینه راپورته کړه مړی مي وکړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه ځوان دی چې ګل مینه یې غوښته، یو شی مۀ را اخله، خالي ګل مینه، جبار او هغه صندوق روپۍ را واخله چې ځو، سهار ته یو هم ولاکه د ژوند څکه وکړو، هله زر کوه". هوسۍ ژر ژر ګل مینه او جبار راپورته کړل، په دوهم ځل یې تیار کور پرېښوو ی، مخ پر لوري د خپل وطن پخوا روان شو، په پیاده تر ډېرو غرو را واوښتل خو اندازه یې نۀ ور کوله چې چېري روان دي. د سهار سپېدې وچاودلې، په مخه یو کلی ورغی، شپانه د کلي پسونه سره راټولول، دوی په یوه شېله کې پټ شول، چې شپانه ولاړی بیا یې حرکت وکړی، په لار کې یو ټکټر پسي راغی په هغه ټکټر کې راسپاره شول، ماپښین قضا د نورنګ کلي ته راورسېدل لوږه او تنده یې بېخي زیاته وه. هوسۍ او ګل مینه یو کور ته وردننه شول، سرور او جبار دباندي ودرېدل، له کوره یو اتیا کلن سپین ږیری راووتی، روغبړ یې ورسره وکړی، د مهمان خانې دروازه یې ورته خلاصه کړه، له چای سره یې ډوډۍ ورته راوړه، لږ دمه یې وکړه، بیا سپین ږیري ته یې وویل "دلته که یو موټر پیدا شي نو به ښه کرایه ورکړو، موږ دې تر خپل منزله ورسوي". سرور ورته وویل. سپین ږیري په غوږو سم نۀ اورېدل، جبار پلار ته وویل "بابا په غوږو سم نۀ اوري، لږ په زوره ورته ووایه". سرور دا واره ښه ډېر په زوره ورته وویل. "اوس خو موټر نسته که بیا هم پیدا شي ډېري روپۍ درڅخه غواړي، په لار کې ځنځیرونه او ماڼونه دي اوس مۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځئ شپه وکړئ سهار به وختي ولاړ شئ" سپین ږیري ورته وویل.
"بابکه چي تر خپل ځای پوري ځان ورسوو دا به ښهٔ وي، روپۍ لرم ورکوم یې، تاسو ته نور تکلیف نهٔ درکوم". سپین ږیري کورته ورږغ کړو "خانداده و خانداده." خانداد چي راغی ورته یې وویل "تهٔ ورشه که زین الله په کور کي ؤ ورته وایه چي راسي".
"سمه ده نیکه بابا وربه سم" خانداد زین الله استاد راوستی، د سرور او جبار سره یې روغبړ وکړی، سرور ورته وویل "استاده! تر پاتوزو پوري څو غواړې چي موږ ورسه یې".
"تر پاتوزو خو ډېره لار ده، که سهار ته ورسېږو او بل په لار کي ډېر خطر دی، غلهٔ هم شته او د دوی حکومت هم دی چي هر یو مو راوګرځوي تکلیف راکوي. روپۍ غواړم دوه نیم زره" زین الله ورته وویل.

"دوه نیم زره بېخي ډېري دي استاده، ګزاره وکړه چي نهٔ سیخ وسوځي نهٔ کباب".

"تر دا کمي نهٔ غواړم د سر لوبه ده ډېر تکلیف دی". استاد ورته وویل. زړهٔ مي هم نهٔ ځي اوس مي تر خُله درته ووتل، تر ډېره دا علاقه خطره لري".

"تهٔ لږ ښه وکړه، پر موږ لږ ناوخته دی، څنګه چي هر وخت د شپې ورسېږو شپه به له موږ سره وکړې سهار به پر سم وخت را روان شي". سرور ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"یا ورورہ کم نۀ ځم". په تنګ کي شو ورته يې وويل.

"سمه ده ورشه موټر دي راوله". سرور ورته وويل. موټر راغی تول کي سپاره شو، په بسم الله روان شو. ټوله شپه يې مزل وکړی، د سهارګا خوا وه پاتوزو ته ور ورسېدل، په لاري باندي يو تکليف نۀ ؤ، سيخ د هوسۍ د پلار د کور مخته ودرېدل، د هوسۍ پلار موسیٰ د سهار او دس کاوی د موټر غږ يې واورېدی چي راووتی هوسۍ يې په غاړه کي لاس ور واچوی. کورته د ننه شول سرور موټروان ته کرايه ورکړه، د چای او د ارام ښه ټينګ ټنګ يې ورته وکړی خو موټروان ورته وويل "يا ورورہ کور ودان زۀ ځم چي لمر راخېژي تر ډېره به مي مزل کړی وي. د خدای په امان".

موسیٰ د هوسۍ پلار جومات ته ولاړی، سرور هم او دس وکړی لمونځ يې وکړی، هوسۍ، ګل مينه او جبار ته يې وويل "چي ځوک د رڅخه خبر نۀ شي په خُله لاس ونيسي" او پسي ويده شو.

موسیٰ چي له جماعته راغی نو يې خپل زوی ابراهيم ته وويل چي "دوی ويده شو، خبر خو ؤ چي داسي په دوه لاسه په دوو پښو راغلي دي، نۀ کپړه نۀ کور، يو شی يې هم نۀ دی راوړی. الله دي خير کړي يوه کيسه خو خامخا شته، په لمانځه کي شيطان دوه زره سوچونه را واچول ښخي ډېر فکر وړی يم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما هم روغبړ ورسره وکړی نور مي د ښوا او د بدو یوه پوښتنه ځني نهٔ ده کړې، لمونځونه یې وکړو تول ویده شو، خېر چي راپورته شي بیا به یې ګورو". ابراهیم ورته وویل.

" ښه سمه ده، تهٔ ګل سیمې ته ووایه چي چای راوړي، زهٔ بیا بازار ته ځم سودا به راوړم نو به یې غرمې ته یو شی ورپاخه کړي". موسیٰ و ابراهیم ته وویل.

ابراهیم ورغی پلار ته یې چای راوړې، دواړو چای وکړې ابراهیم ورته وویل، "لالا ! بازار ته نو څه کوې، د قاهر اکا نن ونډې ده غوئی حلالوي، ما ښام یې په جومات کي وویل یا به هغه مږ حلال کړو، لاندی خو هسي هم کوو دا نور به بیا یو څو ورځي وروسته حلال کړو نن به یو حلال کړو".

"هو زویه دا خبره دي سمه وکړه، تهٔ ورشه چاړې او ساتول تیار کړه، زهٔ جامې بدلوم چي اوس لا شروع په وکړو نو به لسو بجو ته ځني خلاص شو"

" سمه ده لالا زهٔ ورځم". ابراهیم هر څه تیار کړو، مږ یې حلال کړی تر غرمې پوري یې له هر څه ځان خلاص کړی، غرمه سرور او د هغه تولهٔ کورنۍ هم راوبښه شوه، هوسۍ تولو ته چای ورپېښي کړې، پلار سره یې بیا حال احوال وکړی، پلار یې ورته وویل "زویه! خېر دی څنګه بېرته خپل وطن ته راغلاست، حالات ډېر خراب دي، هلته خو به څه مشکل نهٔ وي درته جوړ شوی".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"یا لالا! خبر دی څه مشکل نهٔ دی جوړ شوی، بس پردی وطن پردی وي، د چا قدر نهٔ وي په کې. ما بنام د ګل میني پلار راغی ویل یې ځان تیار کړئ ځو خپل وطن ته، حالات سم شوي دي، بس را روان شو". هو سی پلار ته نیمه خبره لا نهٔ وه کړې چې سرور راغی سم دستي یې ورته وویل چې "لالا کیسه خرابه شوه، مړی مي ماخوستن وکړی، یو غل کورته را واوښتی بس مړ مي کړی، وام واخستم پسي را روان شوم، نیمی لار مي پیاده او بیا مي تر پاتوزو موټر ونیوی پسي راغلو، ټول کور مو دغسي پرېښوو ی، خالي روپۍ مو را واخستې، بل مو یو څه نهٔ دي را اخستي".

"دا څه وایې، مړی دي څه کاوی بیا چې دي مړی وکړی راتلې ولي، خو غل ؤ، هلته خو به هم یو قانون ؤ، په هغه ساعت به دي حکومت ته حال ورکاوی نو تا هر څه پرېښوول او راغلې". موسی ورته وویل.

" لالا! ما هلته وخت تېر کړی دی، ماته د هغه ځای هر څه معلوم شو، چې ما دا خبره سپینوله کلونه به تېر وو، یو وړوند حکومت ؤ یو حال یې نهٔ ؤ معلوم، نو تر هر څه مي دا بهتره وګڼله چې هسي ځان وباسم". سرور ورته وویل.

ډوډی راغله ډوډۍ وخوړل شوه، د کلي خلک خبر شو ټول خلک او ښځي پوښتني ته ورته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېره وخته وروسته هوسۍ د پلار کره راغلې وه نو د کلي ټولې ښځي ډېري خوشحاله وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونه تېرېدل، سرور سره له کوچنیانو د حاجي موسی کره اوسېدی، د موسی د کور له مخه یې یو کوچنی د پرچون دکان جوړ کړی، د کور ضروریات هر څه یې له بازار راوړل، د کلي ټول خلک سودا ته سرور ته راتلل، په ښه بیعه یې هر شی ورکاوی، د ژوند پایه ښه روانه وه، ښه د خوشحالۍ ژوند ؤ، داروخان هم خبر شو چي لکه ورور داسي ملګری یې بېرته د څو کلونو وروسته راغلی دی. زر زر یې خپله کورودانه له ځان سره کړه او سیدها د موسی کره راغی. داروخان له سرور سره د دهٔ د پرچون په دکان کي کښېنستی او کورودانه یې د موسی کره و هوسۍ ته ورېښوله. دواړو ملګرو د زاړه وختو مجلس سره کاوی، سرور د خپل تېر شوي تریخ ژوند داستان ورته بیانوی چي ناڅاپه یې د داروخان څخه د متین په هکله پوښتنه وکړه چي "یاره دارو خانه! د متین زوی دي حال نهٔ کړی را، چېري دی، په څه اخته دی، او هغه درس یې پای ته ورسوی که یا"؟

داروخان ډېر خړ غوندي شو، سر په وځړېدی، مخ یې لړ ژړ وزمه غوندي شو.

"تاته وایم یاره، ولي څه کیسه، متین چېريَ دی"؟ سرور په تجسس کي ځني وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"څه درته ووایم وروره، پنځه کاله کېږي چې له کوره وتلی دی او بیا نه دی راغلی، ټول وطنونه مې پسې وکتل، نه یې د مرګ په حال خبریم او نه یې د ژوند، بس په انتظار ورته شپې سبا کوو، موریې سمه لېونۍ شوې ده، کله بالکل سمه وي او کله بیا د لېونتوب دورې ورباندې راځي، متین، متین ناري یې په خُله د کور په غولي کې منډې وهي".

" دا خو دې واقعې ډېره د خواشینۍ خبره راته وکړه، ولاړی په څه؟ کیسه څه وه"؟

" وروره کیسه هم هغه وه کومه چې ما او تا د متین او د ګل میني په کوچنیوالي کې رشته سره کړې وه، ګل مینه مې د ده په نامه کړې وه، ته سره د کورنۍ له وطنه ولاړې، هیڅ حال دې نه ؤ معلوم، د کلونو کلونو په انتظار نوریې برداشت نه شو کولای، ولاړی د ګل میني په میني کې ستا د کور په لټون له خپله کوره ورک شو". دارو خان په جواب کې ورته وویل.

" دارو خانه وروره! ته غم مه کوه، دا یم زه اوس راغلم، اوس به دواړه پسې وګرځو، انشاالله خدای به هر څه خیر کړي". د دارو خان هم څه زړه تسلي شو. دواړه بېرته خپل په مجلس سره اخته شو. لږ ساعت وروسته دارو خان د سرور څخه د تلو رخصت واخستی او ځني ولاړی. سرور هم بېرته په خپله دکانداري کې بوخت شو، کېږه یې راواخسته او دکان صفا کول یې شروع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونه تېرېدل، بله ورځ رؤف په بازار کي خبر شوی ؤ چي سرور راغلی دی، دا دی ماخوستن ناوخته د موسی کره راغی چي څنګه هوسۍ خبره شوه چي رؤف راغلی دی سرور ته یې ډېري زارۍ وکړې چي "مهٔ ورځه دا دي په یو افت اخته کوي".

خو سرور هوسۍ ته په غصه شو چي ؛"هغه زما خپل دی دا د هغه کارونه نهٔ وو، هغه ماته په ژوند تاوان نهٔ دی رارسولی". سرور له هوسۍ ښه په غصه ولاړی ورغی مهمان خانې ته، رؤف ښه په مینه پر یوه خوا بله خوا مچ کړی، د مکر او ښکي یې ورته توی کړې، سرور هم ورسره وژړل، تر ډېره یې مجلس سره وکړی، خو اخر رؤف ورته وویل چي "ویده به شو ناوخته دی". سرور او رؤف دواړه هم دلته په مهمان خانه کي ویده شول. سهار وختي رؤف ولاړی بازار ته یې حال ورسوی، غرمې ته د سرور ټول تربرونه سرور ته پوښتني راغلل، بیا ولاړل. د ژمي یخي شپې وې، د ماښام له لمانځه وروسته مرغۍ له یخه پړک نهٔ شي کولای، شپه ښه پخه شوه، دروازه وټکېدله چي ابراهیم ورغی بیا رؤف راغی. ابراهیم دروازه ورخلاصه کړه او ریې ورته بل کړی، رؤف ورته وویل "سرور چېري دی هغه را وغواړه چای راوړه، ما ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړلې ده، نور ته رخصت یې چې سرور راسي بیا موږ سره پوهېږو". ابراهیم کورته ولاړی سرور ته یې وویل رؤف دی.

هوسۍ چې د رؤف نوم واورېدی، "رؤف دي یوه بلا وخوري، زهٔ درته وایمه تر هغه له مخه تهٔ یو کار وکړه، خو زما نهٔ منې، مهٔ ورځه دا سپي ته".

سرور په خسم خسم کي پسي ووتی.

چي مهمان خانې ته ولاړی د رؤف سره یې روغبړ وکړی، چای هم راغلې، سرور خپل زوړ او تېر شوی حال ورته بیان کړی ؤ، ډېر په خرپ دروازه وټکېدله.

سرور ته رؤف وویل "زهٔ به ورسم"، خو سرور ورته وویل "یا تهٔ مه ورځه ابراهیم یا لالا ورځي هغه را وینېږي. که هغه نهٔ ورته راغلو بیا به تهٔ ورسې". بیا دروازه ډېره تر هغه بل واره تېزه وټکېده، موسیٰ د کور له خوا ورته راغی چي دروازه یې خلاصه کړه څلور کسان له وسلو سره پر دوو موټر سائیکلانو راغلي دي موسیٰ ته یې وویل "سرور را وباسه ورته وایه ضروري کار مو دی ورسره".

هغه خو نسه نن کوز کلي ته ولاړی". موسیٰ ورته وویل.

"موږ تلاشي کوو داسي نه ځو، هغه کور دی موږ ته پوره معلومات شته". وسله والو ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافره

امین مسرور

"ولـي دومـره ظلـم کـوئ، دا د کـوم ځـي انصـاف دی. ماشومان ټول ویده دي او تاسي وایاست چي موږ تلاشي کوو".
موسی ورته وویل.

"دومره وهل او ټکول به در کړو چي بیا به دي له ژونده زړه تور شي، لېري". یو ګاټ کش کړی، په زور وردننه شو، خو سروریې په کور کي پیدا کړی، د یو کس پر ګل مینه سترګي ولګېدې، زړه یې پسي ولاړی، سروریې را وایستی. سترګي یې ورپټي کړې، د موټر سائیکل په منځ کي یې ورسره سپور کړی، شین یخ ؤ را روان شو. په لاري یو هغه بل ته وایي چي راشئ دلته یې مړ کړو، نه یې شو ساتلی "هغه بل ورته وویل یا ولي یې مړ کوې چي تر ځای ورسېږو ډېر رازونه ورسره دي. که دي مړ کړی رازونه به ټول له خاورو سره خاوري سي". روان دي خپل په لار کي یو وطاق ته راورسېدو، دلته یوه پیاله چای یې وکړو بیا پر مخ روان شو.

ټول ودرېدلو کس رږغ کړی، "شاکره چای پخې کړه سترړي یو". شاکر چای پخې کړې، ټولو چای کولې ښنګونه یې وهلي وو، د سرور لاسونه شاته تړلي وو او سترګي یې ټینګي پټي وې، سرور سوره یاسین شروع کړی، درې واره چي یې وویلی ټول داسي ویده شو لکه یوه نشه چي یې ورکړې وي، سرور په ډېر تکلیف لاسونه او سترګي خلاصي کړې، په منډه له وطاقه راووتی، اندازه یې نه ورکوله توره شپه وه، روان ؤ چي نیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعت یې مزل وکړی وسله وال په خبر شو، سرور چې اوازونه واوریدل تر یو غټه ډبره لاندې پټ شو، وسله وال تر تېر شول او بیا بهراتېر شول خو اخیر وسله وال پسې ورک شو، سرور تر ډېره دلته پټ ؤ، د سهار وخت ؤ روان شو یو ښار ته را ورسېدی، درک یې نهٔ ورته کاوی چې دا کوم ښار دی. له یو سړي یې پوښته وکړه چې "دا کوم ځای دی"؟

هغه ورته وویل "ولي ناولده یې دا د بلوڅانو علاقه ده، دیراوت دی، له کومه راغلی یې، لباس دي هم ناولده دی ځې چېري"؟ سرور ورته وویل ایران ته ځم په مزدوري پسې دلته گزاره ډېره گرانه ده.

"دلته کاچاق اکبران راځي هغه به دي بوزي، روپۍ هلته غواړي" دا کس ورته وویل.

سرور په خندا ورته وویل "دا مرسته خو راسره وکړه که څوک درته معلوم وي ما ور وله".

"راځه چې وس دي ورولم". ورسره روان شو کاچاق اکبرو ته یې په لاس ورکړی سرور له هغو سره روان شو. په وسله والو کې یو کس چې پر گل مینه مئین شو له څو ملگرو سره ورغی په نیمه شپه یې گل مینه په زور له ځان سره یووړله. موسی او ابراهیم یې دومره سخت ووهلو چې تر سهاره پوري بې هوشه پراته وو. سهار د کلي خلک خبر شو موسیٰ او د هغه زوی ابراهیم یې روغتون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافره

امین مسرور

یوواړو، شپږ ورځي په روغتون کي د ژوند او له مرګه سره په سخت جنګ کي وو، خو اخر دواړو ساه ورکړه. په کور کي يې واړه واړه ماشومان او ښځي پاتي شوې، د مخ د رڼا د ورکولو خپل يې نۀ وو، دواړه يې خاورو ته وسپارل، د وحشت سانحه وه، لسمه ورځ جبار کورته راغی چي په درس پسي تللی ؤ، چي کورته راغی نۀ پلار شته نۀ خور شته نۀ نيکه او نۀ ماما. له موره يې پوښتنه وکړه "خير خو دی دا څه محشر وينم، د ټولو په مخ څه وحشت خور دی".

جبار مور وښوروله ورته يې وويل "تاته وايم! دا څه کيسه ده؟ ولي چپه خُله يې"؟. خو د مور سترګي يې ښې اوښکو وې. د سترګو اوښکي يې ټولي وچي شوي وې، په سوي چيغه يې ورته وويل "په کافر وطن کي ژوند کوو ټول مړۀ شو". مور يې په ژړا ژړا ټوله کيسه ورته وکړه.

جبار مور ته وويل چي "زما دي په خدای سره قسم وي چي دغه بدله وانخلم که تر هغو په کراره کښېنم".

"د رب روی درته نيسم، هغه ټول ولاړو، يو تۀ راپاته يې، داسي مۀ کوه، په دا وطن کي ژوند کول ګناه ده". مور يې ورته وويل.

" يا مور کې دا به زۀ کوم، که هر څه وي کوم يې". جبار ولاړ شو له کوره ووتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګل میني یو حال دوی ته نهٔ وُ معلوم چي څه شوه، کوم کس چي ګل مینه وړې وه هغه له ګل میني سره په زور وادهٔ وکړی، ګل مینه په داسي ځای کي وه چي یو چا ته یې درک نهٔ وُ معلوم، ګل مینه هم د ډېرو پیرو له وجي دباندي نهٔ شوای راوتلای او هم نهٔ څه لاره ورته برابرېدی شوه، ګل مینه په ډېر تکلیف کي وه، ټوله ورځ به الله پاک ته پر سجده وه، د ګل میني مېړه طاهر پوره درې میاشتي پر کور تېري کړې، د ګل میني ماشوم په نس کړی، خو یوه ورځ د ګل میني مېړه طاهر ته لوی قومندان ویل چي "تهٔ به ځې بس دی د وادهٔ دي ډېر وخت وشو، نوره اجازه نهٔ درکوم چي کور پاته شې، صرف د څو ورځو دپاره ولاړ سهبیا به بېرته راشې".

طاهر د امیر امر ومنلی په دا سبا سهار طاهر له څو ملګرو سره د جنګ ډګر ته روان شو، درې ورځي وروسته د طاهر د مرګ خبر راغی چي هغه په یوه جګړه کي ځان وبائلی، ټوله کورنۍ یې زیاته خفه شوه.

څو میاشتي وروسته د ګل میني، هیده هم پوره شوه. ماشوم پیدا شو، لس ورځي ژوندی وُ بیا مړ شو، ګل مینه یې د طاهر و ورور مجیب ته په نکاح کړه خو ګل میني ډېري ناري او چیغي وکړې چي زهٔ مېړه نهٔ کوم. د ګل میني خبر چا منله، کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله د زوره وه. مجیب پوره شل ورځي وروسته د نورک په شیلو کي چا په ډزو وویشتی او د فاني دنیا څخه رخصت شو.

یو ځل بیا ګل مینه کونډه شوه، د مجیب پلار د مجیب غم ډېر په زړهٔ زخمي کړ، په هغه حالاتو کي پسي مړ شو.

موریې زیاته خفه وه، څلور زامن یې نور هم په کور کي وو، چي اوس یې مشر شکیب ته وویل "دغه ناسي له کوره وباسئ. چي دا زموږ کورته راغلې ده موږ قراره ورځ نهٔ ده لیدلې، دا د کافر لور ده، دا کافره ده. دا لمونځ او دس یې هم زما له بچي طاهره څخه زده کړو، اوس مي هم زړهٔ نهٔ مني چي مسلمانه به وي، چي لمونځ کوي زهٔ وایمه چي بنکنځاوي به کوي".

"مورکې دا خو زموږ عزت دی، څنګه یې له کوره وباسم، خامخا به یو نکاح ورسره کوو، داسي خو نهٔ شي کېدی". شکیب مورته وویل:

موریې له ډېره قهره شنه او سرهٔ شوه، په ډېرو بدو ویلو یې شروع وکړه، سر یې تور کړی، بنېراوي یې وکړې، شکیب ولاړی مولوي صاحب یې د نکاح دپاره راوستی، د واره یې خپل ځان ته په نکاح کړه، درې کاله وخت یې ورسره تېر کړی، له ګل مینې یې دوه زامن پیدا شو، د یوه نوم غفار د بل ستار ؤ، شکیب د امیر پر امر سره د واره جنګ ته تیار شو. موریې ډېر ورته وویل چي " مهٔ ځه". خو شکیب ورته وویل چي "مورکې د امیر حکم دی

(c) ....com: The Digital Library



ځه یې نهٔ شم رد کولای". شکیب د مور بغیر اجازې روان شو. یو
نیم کال تېر شو خو د شکیب یو حال نهٔ ؤ معلوم، بله ورځ د شکیب
یو د سنګر ملګری راغی، شکیب مور ګل مینې ته ووېل "اې
کافرې! غفار ور ولېږه د شکیب ملګری راغلی دی چې پوښتنه
ځنې وکړې چې شکیب چېرې ؤ"؟.

ګل مینې په ډېره مایوسۍ ورته ووېل "ښهٔ دی"
هلک چې راغی د شکیب مور ته یې ووېل "هغه وېل چې
په دا درې ورځې کې به راسي".

د شکیب مور خوشحاله شوه، ګل مینې ته یې ووېل
"کافرې! تهٔ به زموږ کور سپېره کړې، له تا زما ډېره کرکه کېږي،
خدای دې په یوه بلا وخوره".

ګل مینه ډېره حیاداره ښځه وه، یو څه یې نهٔ ورته ووېل.
ماښام حکمت کورته راغی مورته یې ووېل "په مهمان خانه کې
امیر صاحب دی، تا غواړي".

"حکمته! خیر خو دی، ما امیر صاحب څه کوي"؟ مور یې
ورته ووېل.

"څه خبر یم خو ماته یې دغه رنګه ووېل بله یې خبره نهٔ ده
راته کړې". حکمت مور ته ووېل.

مور چې یې مخ پټ کړی مهمان خانې ته ورغله په خُله یې
روغبړ ورسره وکړی، یو بل تنکی ځوان هم ورسره ؤ، هغه ته یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خُله وویل "بچیه! ستړی مهٔ شې". امیر صاحب په نصیحت شروع وکړه چې "په جنت کې به د شهید مور د حورو سرداره وي او پر سر به یې د سرو زرو تاج وي، د جنت ټولې حورې به ورته حیرانې وي یو شهید د اوویا کسانو شفاعت کوي، شهید مړ نهٔ وي، شهید ژوندی وي، هسې له دا نیمګړې دنیا سترګې پټې کړي، په سنګر کې ما خپله یو شهید ولیدلی چې مور یې ټینګه تر لاس نیولې وه، نهٔ پرېښووله، اخر یو غټ عالم ؤ هغه یې مور ته وویل چې حق ور وبخښه، حق غواړي درڅخه، مور چې حق وربخښلی بیا یې د مور لاس ایله کړی".

د شکیب مور داسې غوږ ورته نیولی ؤ تر غبرګو سترګو یې اوښکې د باران په شان روانې وې. امیر صاحب داسې خبرې کولې چې هر انسان ورته په ژړا کېدی، په اخر کې یې ورته وویل "دا د الله پاک امر وي د الله پاک امانت دی چې څنګه یې راکوي او بېرته یې هغه رنګه راڅخه اخلي، ستا دې مبارک شي ته د دوهم شهید مورې، دغه ځوان چې له ما سره دی د دغه نوم وقاص دی، د شکیب ملګری ؤ، دغه پرون ماته وویل چې شکیب شهید شوی".

د شکیب مور چپ چاپ ناسته رډ رډ یې و امیر صاحب ته کتل، یو څه یې نهٔ ویل، حق حیرانه وه.

امیر صاحب ورته وویل "یو خفګان به نهٔ کوې دا مجازي دنیا ده، په دغه دنیا کې مسلمان د عبادت د پاره راغلی دی، ابدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا خو هغه ده، مور جاني موږ ته اجازه راکړه چي ولاړ شو خو ته چي ونه ژاړې".

نو د زړهٔ درد او اسوېلي خو د شکیب د مور وو. چي زړهٔ یې له کوګله ایستی، خو د شکیب مور پر زړهٔ تېري کړې. وخت تېر شو د ګل میني هیده هم پوره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا واره یې ګل مینه و حکمت ته په نکاح کړه، د حکمت مخکې یو بل واده هم ؤ، له هغه یې پنځه بچیان وو.

حکمت له دیني تعلیم سره دنیاوي تعلیم هم ډېر کړی ؤ، په انګرېزي، فرانسي او عربي یې ښه خبرې کولې، اکثره به یې په ریډیو ګانو کې د مجاهد په نامه مرکې کولې، ډېر زیرک انسان ؤ.

پخوانۍ ښځه یې چې شین خالۍ نومېده د ګل مینې سره ډېره په ضد وه، هر وخت به یې جګړې او دعوې ورسره کولې، خو په ټول کور کې یې د کافرې په نوم بلله، هر کوچني او هرې ښځې ته یې تر پام ډېره بد ورو سته، هر شی به یې په خپله غلا کوی بدنامه به یې ګل مینه کړه، خو ګل مینه دومره له حیا ډکه ښځه وه چې یو څه به یې نه وویل، دا هر څه یې د رب رضا ګڼله، په هر لمانځه کې به یې خدای پاک ته زارۍ کولې چې ربه! دا ستا رضا ده که مې په کافره بولي که مې ظالمه بولي که ملحده بولي ته خو د زړه مالک یې زما په زړه خو ته خبر یې ته خو تر مور او پلار مهربانه یې.

شین خالۍ دومره ظالمه وه چې د ګل مینې د مرګ هڅه به یې وکړه، ګل مینه به نه وه خبره خدای ته به منظوره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ورځ شین خالۍ د شپې یوازې پرته وه له ځانه سره یې سوچ وکړی چې راشه سهار د شپږو دوا ورکړه چې له دغه افته خلاصه شې. بنهٔ ترتیب یې جوړ کړی، د شپږو دوا یې هم را واخسته تر بالښت لاندې یې کښېښووله چې سهار د لمانځه د پاره راپورته شوه دوا یې را واخسته سیخ ولاړه د منا (اشپز خانې) پخوا، ګل مینه هم راپورته شوه او دس او لمونځ یې وکړو، د ناشتې بند وبست ته منا ته ورغله، که ګوري شین خالۍ چای پخ کړي دي، ګل مینې ته یې وویل چې "تیار خوري! اوس راغلې زما مېړه دې د ځان کړی، ته خو منحوسه یې، دوه ځوانان خو دې وخوړل اوس دې زما خاوند د ځان کړی".

ګل مینې په ځواب کې یو څه هم نهٔ ورته وویل چپه خُله وه، شین خالۍ په سپکو سپورو ګویانه وه.

شین خالۍ چې خپل مېړه حکمت ولیدی خبره یې بدله کړه چې "دغه دې چای مې پخې کړې، دغه شنه چائنکه د دهٔ ده او دغه سرهٔ چائنکه ستا ده، زهٔ پراتې پخوم او د حجانۍ چای زهٔ ور وړم تهٔ دغه یوسه".

ګل مینې چې چای راپورته کړې د سرې چائنکې لاس مات شو، چائنکه چپه شوه، ټولې چای توی شوې، شین خالۍ بیا پر بدو ردو پیل وکړی. "بوروره شې څه بلا وهلې یې، په مېړو خو داسې پوهېږې، په څلورو کالو کې دې درې مېړونه وکړو، د وادهٔ چائنکه نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نیولای". کوشش یې ټول عبس ولاړی ګل میني خپله ځله هم هغسي پټه ساتلې وه. یوه خبره یې هم نهٔ ورته وکړه، سیدها هغه بله چائنکه یې واخسته د خپلي خوني پر لور روانه شوه.

مېړه ته یې چای ورکړې، د دنیا ټول سوچونه یې پر سرورو خدای ته په زاریو وه.

چي "الله پاکه! په څومره لوی امتحان کي یم. یوه چاره مي نشته، زما مور او پلار او ورور به په کوم حالت کي وي".

ټوله ورځ او شپه به یې دا سوچونه وهل اکثره وخت به نهاره ګرځېدله، یو شی خوند نهٔ ورکاوی، د پنځو میاشتو کوچنی یې هم په نس ؤ، وختونه تېرېدل یو وخت ډېره سخته ناجوړه شوه، حکمت سوچ وکړی چي روغتون ته به یې بوزم، مخ یې ټینګ پټ کړی دباندي یې په موټر پسي راووتی تر ډېره یې پیاده مزل وکړی خو اخر د موټرانو ځای ته راورسېدی، یو موټروان یې له ځانه سره را روان کړی حکمت موټروان ته وویل "پر دغه لار درځه لږ اوږده ده خو بیا سمه ده، مېنونه نشته، لاره صفا ده".

موټران ورته وویل "دغه لار بنه لنډه ده، هغه بله ورځ زهٔ پر ولاړم شی نشته". حکمت ورته وویل چي "ستا خوښه ده نو درځه". حکمت د مخ په سیټ کي ورسره سپور شو چي شل منټه مزل یې وکړی موټر په شنه لوخړه کي ورک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2021.01.22 08:54

هر څه زره زره شو د دوارو غوښې سره ګډې شوې مور چې حکمت له مرګه خبره شوه سترګې يې د تل دپاره پټې شوې، بيا يې بڼ نۀ وکړی. شين خالی هم بې هوشه شوه، تر ځُله يې ځګونه روان وو، خو د ګل ميني ژوند د يو مړي ؤ، مخکې هم هغه له اولې ورځې مړۀ وه نۀ يې د ښه بڼ تر ځُله ختی نۀ د بد. په غمو کې پخه وه.

دواړې جنازې يې خاورو ته وسپارې، د فاتحې ټغرونه ټول شول، هر څه ختم شو، شين خالی لېونی شوه خو بيا يې هم د پلار کره نۀ پرېښوو له. ولې چې پښتونولې ده. بس دغه تعويزان او د اعصابو ډاکټرانو ته يې وروستله، د ډېر ستر له وجې يې پلار او ورور هم نۀ شو ورته راتلای، په جلا خونه کې يې بنده کړې وه، صرف د ډوډی دپاره به د عصمت ښځه ورغله ډوډی به يې په ځُله کې ورکړه، په ځنځيرانو تړلې وه. ټول کور يې مرګ ته ناست ؤ.

د ګل ميني چې هيده پوره شوه، دا واره يې نصيب ته په نکاح کړه، ولې چې نصيب او ودود دواړو کوزدې کړې وې، خو ودونه يې لا نۀ ؤ کړي. نصيب ډېرې چيغې وکړې چې زۀ يې نۀ کوم عصمت چې د ټولو مشر ورور ؤ ورته وويل "څنګه يې نۀ کوې زموږ عزت دی تر کور دباندې خو به يې نۀ باسې" دوه زره خبرې يې ورته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قول یې ورسره وکړی چې هغه بل واده هم زر در ته کوو خو نصیب نا زړه ؤ، ډېر یې مجبوره کړی.

ګل مینې چې له حکمته کوم کوچنی ؤ هغه په هغه ناجوړی کښی ضائع شو. یو څوک نهٔ ؤ په خبر، د عصمت کډې ورته وویل چې "تهٔ خو ریښتیا کافره یې، ستا په نس کې د حکمت اولاد ؤ تا هغه مړ کړی، تهٔ قاتله یې".

ګل مینې هر څه بائللي وو، چا ته یې نهٔ د هو جواب ورکاوی نهٔ د یا. نهٔ یې چاته دا ویل چې زهٔ دا نهٔ کوم، نهٔ یې چاته دا وویل چې دا کوم. نصیب صرف لس ورځې پر کور تېرې کړې، له هغه وروسته ولاړی یو حال یې نهٔ ؤ معلوم چې پر کومه ولاړی، ټول کور پسې پرېشانه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره دري میاشتي وروسته یو سړی کورته راغی، عصمت ته یې وویل چي "زهٔ د نصیب ملګری یم نصیب شهید شو خو ماته یې یو څو خبري تر شهادت د مخه وکړې، ما دغه امانت تر تاسو پوري راورسولی دی".

عصمت په ډېر اخ ورته وویل "هغه شهید شو؟ څنګه شهید شو؟ دا څه وایې"؟.

"هو امیر صاحب! هغه شهید شو، هغه صرف ماته دغه دوې خبري وکړې، بس سترګي یې پټي کړې، اول یې راته وویل چي زما د پلار پر کور ناستي ښځي ته به ووایې چي تهٔ به میره نهٔ کوې، بلکل زما له خوا تاته اجازه نشته، زهٔ تاته په دا باره کي په یو صورت اجازه نهٔ درکوم، که دي وکړی ورځ په قیامت به دي تر ګرېوان نیسم. دوهم یې راته وویل چي زما دوهمي ښځي ته به ووایې چي زموږ په کور به څوک نهٔ کوې او وادهٔ به له ما یعني متین سره کوې، دغه خبري یې راته کړي دي". متین ورته وویل.

" تهٔ یې څوک او دا څنګه بې مطلبه خبري کوې، یو خو دي د غم داستان زاوړی او بل د نورو عزتونه هم غواړې، سر مي چکر درته کوي، ورک سهکه نهٔ وي دوه زره ګولۍ به دي تر سینه وباسمه". عصمت ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زما خپل فرض ؤ ما تر تا را ورسولی نوره ستا خوښه ده.
زهٔ درڅخه ولاړم". متین په ډېر قهر سره ووتی له ځانه سره یې
وویل چي "د نصیب مي داسي کار ور کړی دی چي په ټول ژوند به
کور نهٔ ویني، په داسي کیس کي مي بند کړی دی او پاته شوه ګل
مینه، هغه چي په هر حال کي وي زهٔ به یې درڅخه وړم، ما له اولي
ورځي چي دا ولیدله چي له طاهر سره مي راوړله زما نیت نهٔ ؤ
ورته سم. تاسو څه خبر یاست چي زهٔ د دې پسې له څو کالو
راهیسې سرګردانه ګرځم، مور پلار، کور کلی هر څه مي د دې د
پاره پرې ایښي دي، له ماشومتوبه زما په نامه وه، دا زما وه او
زما به وي". ولاړی پر خپله مخه روان شو.

عصمت حیران پریشانه چي خدای پاکه اوس به څه کوم، دا
کیسه به ریښتیا وي که نهٔ، متین د خپل جوړ کړي پلان مطابق چي د
نصیب څه ملګري وو ټولو ته یې ویلي وو چي نصیب شهید شو ما
خپله خاورو ته وسپاری، د نصیب ملګرو یې فاتحه هم واخستله.

عصمت په دا سهار له کوره راووتی په کور کي یې یو څوک
هم نهٔ کړو خبر چي چېري به د نصیب د ملګري وو او هغو ته ورغی له
هغو به یې پوښتنه وکړه هغو به ورته وویل چي هو دا خبره ریښتیا ده،
تر ماښامه پوري عصمت ډېر ځایونه را وغوښتل اخر یې زړهٔ ومنله
چي ریښتیا ده، راغی کورته ټول کوریې خبر کړی، فاتحه یې
واخستله، خیراتونه یې پسي وکړل، ودود ته یې وویل "ستا او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصيب کور والا خو سره خوندي دي. ستا وادهٔ به وکړو او د نصيب ښځه به زهٔ ځان ته وکړم، څهٔ وکړو د کور عزت مو دی".

"دا تهٔ څه وايې، اوس څنګه ودونه کوې، زهٔ خو وادهٔ نهٔ کوم. له کوره مو خالي جنازې وزي او تهٔ ودونه کوې. د دنيا يو شي ته مي زړهٔ نهٔ غواړي". ودود ورته وويل.

"نو بيا څه کوې"؟

"زهٔ هم د هغه نورو ورونو پر لار ځم دا دنيا هيڅ دنيا نهٔ ده زهٔ وادهٔ په جنت کي کوم".

"ستا مطلب څه دی ستا په خبره زما سر نهٔ شو خلاص، سمه خلاصه خبره راته وکړه". عصمت ورته وويل.

"تهٔ نو نوره څنګه خلاصه غواړې، دغه مي مطلب دی چي د شهادت پياله چښم، زهٔ د خپلو نورو ورونو سره په جنت کي اوسېدل غواړم". ودود ورته وويل.

"هلکه داسي مهٔ کوه ټوله کورنۍ مو ورانه شوه". عصمت په غصه کي ورته وويل.

"دا جهاد يوازي پر موږ راغلی دی، دا څنګه جهاد دی چي ټول کي تباه و برباد شول". ودود ورته وويل.

عصمت ورته وويل "د کفر خبري مهٔ کوه، جهاد به تر قيامته وي، جهاد ختمېده نهٔ لري، په دا خبرو ګنګهګاره کېږې چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړګلوي او خاطر دي نهٔ وای بیا ما تاته د جهاد د ربنووی چې جهاد و چیشي ته وایي، ماغزه مي درته خرابېږي".

ودود په ډېر قهر سره دباندي ووتی. عصمت پسې ناري کړې خو ودود د عصمت یوه خبره نهٔ واورېدله، داسي په منډه ولاړی چي د سترګو په رپ کي ورک شو.

عصمت ډېر حیران پر خپل ځای پاته شو. وختونه تېرېدل خو د ودود یو حال نهٔ راغی، د ګل میني هیده پوره شوه او شین خالی له دنیا سترګي پټي کړې. عصمت ډېر زیات په سوچ کي ؤ چي اوس که له ګل میني سره زهٔ نکاح نهٔ وکړم نو بیا په دغه کور کي یې دید نهٔ دی روا، که نکاح ورسره وکړم ګل بخته به څه کوم، هغه خو ښځي زیاته نازولې ده، الله پاکه یو خوا ته پړانګ دی بلي خوا ته پاړ دی، څه وکړم، دلته ودود ولاړی نهٔ یې د مرګ حال شته نهٔ یې د ژوند"؟ خو عصمت ډېرو فکرونو داسي کړی چي ټوله شپه به یې نهٔ خوب ؤ او نهٔ خوراک.

یوه ورځ د سهار له لمانځه وروسته یې اراده وکړه چي نن به ودود پسي ځي یو حال به یې معلوم کړي. یا د مرګ او یا د ژوند، په کور کي یې یو چاته نهٔ وویل، پر خپله مخه روان شو، پر لاري یې یو موټر سائیکل والا ته لاس ورکړی، له هغه سره راسپور شو، په لاري کي یو ځنځیر راغی، څلور کسان ولاړ وو، ټولو مخونه پټ کړي وو، عصمت او موټر سائیکل والا ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناافره

دریدل، له واره یې تلاشي ځني وکړه، یو کس عصمت وپیژندی چې ودود خو هم کور نسه هغه له کوره څخه ډېري لېري دی، په داسي علاقه کي دی چي له ما بغیره څوک نهٔ دي په خبر.

عصمت دستي له دغو کسانو د ودود پوښتنه وکړه، یو کس ورته وویل "ستا څه دی"؟.

عصمت ورته وویل "زما ورور دی قربانه".

هغه کس ورته وویل "ښه ښه تهٔ د طاهر او د شکیب ورور یې". عصمت ورته وویل "هو قربانه ورور یې یم، تهٔ ودود پیژنې"؟ هغه کس ورته وویل "هو پیژنم یې". ودود د شمال په خوا ؤ خو دغه کس د مغرب په خوا ورته وویل چي "د خان میر پر ځنځیر ما پښین له درو بجو بیا د ماخوستن تر درو بجو ولاړ ؤ، دلته له موږ سره پاته سهچي یو ښه پیاوړی موټر راسي پکي سپور به دي کړم، نن ورځ او شپه دي پر لاري کېږي، سبا ماخوستن که خېر ؤ د خان میر ځنځیر ته ور رسیږې، هلته به دي کښته کړي. زهٔ موټروان ته وایمه تهٔ خو موږ ته ډېر قدرمن یې".

عصمت هم راکښته شو دوه ساعته وروسته یو شین موټر راغی هغه کس عصمت ته ور ناري کړې چي "محترمه! راشه په دغه موټر کي سپور شه". موټروان ته یې وویل چي "استاده! خاص به یې د خان میر په ځنځیر شیوه کړي، ګوره کرایه چي ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وانخلې او پر لاري به یې د خوراک څښناک ښهٔ انتظام کوې، له ځانه به یې نهٔ جلا کوې، د نورو په سترګو په نهٔ ورته ګورې".

موټروان ورته وویل "قومندان صاحب! فکر مهٔ کوه، بې غمه سهچې څه زهٔ خورم هغه به دهٔ ته هم ورکوم".

دغه کس کرایه هم ورکړه عصمت په موټر کې سپور شو او رخصت یې سره واخستې.

هغه کس متین ؤ، دهٔ خپل بل ملګري ته یې وویل چې "نن زهٔ وختې ځم، زما کار دی، سبا به د بل پر ځای زهٔ ډیوټي وکړم، دا مرسته نن راسره وکړی ډېره مننه به مو وي". ملګري ورته وویل "ورشه حشمت ته ووایه په وطاق کې ویده دی چې نهه بجې راځي، نن دي وختي راسي".

متین هم وطاق ته ورغی حشمت یې له خوبه راویښ کړی، حشمت هم هو ورسره وکړه، کلاشنکوف یې را واخستی را روان شو، متین خپله وسله جمع کړه، پر خپل موټر سائیکل د عصمت د کور پر لور روان شو، له متینه چا پوښتنه هم نهٔ شوه کولی، ټولو پېژندی، شب نو یعني د شپې اشاره یې ځان ته معلوم کړه، د عصمت کور ته راغی د ګل مینې زوی غفار ته یې وویل "چې ورشه چای او ډوډی راوړه او مور ته دي هم ووایه چې د پلار کره دي بیایم" عصمته سره نن ما ولیدل". ګل مینې چې دا خبره واورېدله ببرته را ژوندی شوه، له حده زیاته خوشحاله شوه، خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټې ته ورته راغله په ډېر ټينګ مخ د متين سره يې په خُله روغبړ وکړی، ورته يې وويل "وروره! ته زما پلار رورور او مور پېژنې"؟
متين و ګل مينې ته په کتو کتو د سوچونو په درياب کې لاهو شو. مينه يې را وپارېدله، هغه ماشومتوب يې سترګو ته مخامخ ودرېدی چې دۀ او ګل مينې به لوبې سره کولې يا به ښوونځي ته سره تلل. د ګل مينې هغه د ماشومتوب معصومه خندا ورپه ياد شوه، نن يې هم چې صرف سترګې معلومېدې هغه معصومانه انداز او هغه د کوچنيوالي مينه کې له ورايه ښکارېده. ګل مينې چې وکتل چې راغلی کس هيڅ جواب نۀ راکوي او په کوم سوچونو کې دی نو يې بيا پر ږغ کړو.
"تا ته وايم وروره! ته واقعي زما مور او پلار پېژنې"؟
متين زر سره راوغورځېدی، هوش او حواس يې سره پر ځای کړل. "هو پېژنم يې، ستا د پلار نوم سرور او د ورور نوم دې جبار دی، زۀ به هم اوس ځان در وښيم چې زۀ څوک يم. زۀ متين يم، ستا د اکا د داروخان زوی".
د ګل مينې د خُلې بې واکه ووتل چې "متينه ته." سم د لاسه يې اوښکې له سترګو را توی شوې. ټکری يې ورو په بې خبرۍ کې له مخه لېرې شو. متين چې کله د ګل مينې مخ وليدی نو ډېر په زړۀ زهير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافره

امین مسرور

"متینه ! ما له دې دوزخه وباسه، زه نوره په دې دوزخ کې نه شم اوسېدلی، د خدای روی درته نیسم چې ما له دې ځایه بوزه". ګل مینه په ژړا شوه. متین هم ورته له ځایه راپورته شو، راغی د ګل مینې اوښکې يې د خپل پاچ په څنډه پاکې کړې او ورته يې وويل.

"زما دې په هغه ذات قسم وي چې ماته يې ژوند راکړی دی، زه له تېرو پنځو کالو راهیسې ستا پسې ګرځم، ځان مې له دې وحشیانو سره ملګری کړی، خدای ته پر ما هغه وخت ولیدې کله چې طاهر ته له خپله کوره په وچ زور راتښتولې، ما په هغه ورځ قسم وکړی چې زه به تا له دې دوزخه باسم، اوس ورشه ځان تیار کړه، في الحال ته تر هر څه ضروري يې چې زه لومړی تا له دې ځایه وباسم". متین په رازدارانه لهجه کې ورته وویل.

"او که عصمت راخبر شو بیا"؟

"چې یو وار دې بوزم بیا نه عصمت بې مرګه پرېږدم نه بل، په دغه وجه له دوی سره ملګری وم چې تا تر خپل منزل ورسوم، بیا به نور کارونه تر سره کوم". متین ورته وویل.

"زه خو خود درسره ځم، زه څنګه نه درسره ځم، زه خو مړی یم، ما مرګ او قیامت پر دغه دنیا ولیدلی. زما د ژوند تر ټولو د خوشحالۍ ساعت هغه دی چې زه خپله شیرینه مور او شیرین پلار او خپل شیرین ورور ووینم". ګل مینې په لمدو سترګو ورته وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه نو دغه دوه ماشومان به نهٔ بیایې، ولې چې تر دغه ځای تېرېدل او چې دوی راسره وي بیا سخته ده، اول به تا ورسوم بیا به ماشومان په بل واره راولم، دا قول زهٔ درسره کوم". متین ورته وویل.

ګل مینې په سلګو کې ورته وویل "ماشومان نهٔ غوارم خو ما له مخه له دې زندانه خلاصه کړه، که له خونه نهٔ وېرېدې نو ما به ځان او ماشومان مخکې لا وژلې وای خو د ځان وژنې څخه الله پاک لا ناراضه کېږي".

متین ورته وویل "بس تیاري وکړه راځه چې ځو بیا ناوخته کېږي". ګل مینې له ډېرې خوشحالۍ هر څه هېر شو یو ماشوم یې پر مخ یو بل خوا مچ کړی، د بل عمر ډېر کم ؤ، هغه یې په ځیګر پورې ټینګ ونیولی، په سوي چیغه یې رخصت څنې واخستی، له متینه سره را روانه شوه، پیره دارونو چې به متین ته وکتل او ښځې ته به یې وکتل حیران به شو چې له متینه سره دا ښځه څوک روانه ده، متین ته خو یې څه نهٔ ویل ولې چې متین ډېر غټ نوم درلود، ډېرو یې احترام کاوی.

متین په خېر خیریت سره تر هر څه راتېر شو، نیمه شپه شوه، متین ته ټولې لارې معلومې وې، د شپې پیاده پیاده ډېر مزل یې وکړی، خو ګل مینه ډېره زیاته ستړې شوه، پښې یې تناکې شوې، نور یې بدن اجازه نهٔ ورکوله چې تګ یې کړی وای، ځای پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کښېنسته، متین په نوي ځوانۍ کې ؤ په بدن روغ او ښه صحت مند ؤ.

ګل مینه یې په شا را واخسته تر وله شپه یې مزل وکړی، پرديي دښتي دي روان دی، ډېر لېري یوه رڼا ښکاره شوه، متین وویل "د ماچس دانه به ورته وو هم ښه به وي، ګنې زهٔ هم ستړی شوم".

دواړه کښېنستو، ورزوسته متین له ځانه سره سوچ وکړی چي یا، په دانه کي دواړه خوا تاوان دی، که حکومت ؤ خو ولاړې که مجاهدین وو هم ولاړو، دا خو هر چا ته معلومه ده چي ښځه دي تښتولې ده، قرار شه.

ښه ډېره دمه یې وکړه اخر سپېدې وچاودلې. متین ګل مینې ته وویل "درځه اوس خو به هوسا شوی یې". ګل مینه هم راولاړه شوه بیا را روانه شوه چي لږ مخته راغلو په یو مانده کي موټر ولاړ ؤ خراب ؤ.

دوی چي سترګي په ولګېدې رڼا وه، دوی هم ولیدل هغو هم ولیدل ګل مینه او متین پټ شو.

هغو بږغ پر وکړی "لاسونه پورته کړی او زموږ په خوا را روان شئ".

متین ګل مینې ته وویل چي "ښوره مهٔ، مخته ورځه".

هغو بیا پر بږغ کړه "که نهٔ راځئ بیا مو وژنو په دغه کي مو خبر دی". خو دوی بیا هم پټ ناست وو، اخر هغو ګاټونه کش کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکان (ډزي) یې خطا خطا پر شروع کړل، مخته ورته راغله، دواړه یې ونیول، متین یو څو کسانو وپېژندی.

"امیر صاحب! دا متین دی". یو کس وویل.

"کوم متین دی"؟ امیر ورته وویل.

"امیر صاحب! دا زموږ ملګری دی". ټولو وویل هو متین دی.

"ښهٔ متینه! له کومه خوا راروان یې او دا ښځه څوک ده درسره"؟

"امیر صاحب! له سرهٔ غرهٔ را روان یم، دغه مې ښځه ده، د پلار کره یې بیایم". متین ورته وویل.

"صفا صفا وایه، پر دغه لار او په نیمه شپه کې تهٔ نو کوم جاسوس یا د حکومت سړی یې چې پر دغو دښتو راروان یې، څه کیسه خامخا شته". امیر ورته وویل.

"امیر صاحب! یوه کیسه هم نشته، پر عمومي لار له حکومته وېرېدم، هم دا وجه وه چې پر دغه لار راغلم" متین ورته وویل.

"دروغ مهٔ وایه، په څلورو ولایتو کې د حکومت نوم نشته، ټول موږ یو، تهٔ سمه خبره نهٔ کوې، چې هر څو مو ملګری یې دومره وهل به درکړم چې د ولاړو به نهٔ یې". امیر ورته وویل.

"ریښتیا وایم دروغ نهٔ دي". متین ورته وویل. "توکله! پوستې ته مخابره وکړه، یو موټر بل راوغواړه، دی پوستې ته بوزه چې هلته سم تحقیق ځنې وکړو، دغه ځای د وهلو نهٔ دی، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سیاسرې هم ورسره ده، سیاسرې به زموږ کره یوسې او دی به پوستې ته یوسې". امیر صاحب ورته وویل.

"سمه ده امیر صاحب". توکل مخابره وکړه چې "اورې مفتون، بلې هو اورم، یو بل موټر راولېږه، دوه مېلمانه دي، هغه به هم درورې، سمه ده مننه".

د سهار لمر راوختی، پوره دوه ساعته وروسته دوه موټران راغلل، ګل مینه او متین یې په یو موټر کې سپاره کړل او امیر صاحب او د هغه سره یو څو وسله وال یې په بل موټر کې سپاره کړو، موټران د پوستې په خوا روان شو چې پوستې ته موټران ور ورسېدل هلته ټول اولسوال چاق او چوبند ولاړ وو، امیر صاحب موټروان ته وویل "صمده! خېر خو دی دا څه کیسه ده".

"امیر صاحب خبر نهٔ یم چې څه کیسه ده، چې راتلم یو څوک هم نهٔ وو، یو څو کسان وو، اوس خو ډېر کسان راغلي دي". صمد په خبرو خبرو کې موټر ودروی.

امیر صاحب راښوه شو، عصمت هم په دې رش کې ولاړ ؤ چې وې کتل چې امیر صاحب له موټره را ښوه شو نو مخته ورته راغی چې روغبړ یې ورسره وکړی. عصمت خپل تعریف ورته وکړی چې "د متین په نامه کس زموږ له کوره ښځه راتښتولې ده".

امیر صاحب ورته وویل "غم یې مهٔ کوه هغه ما نیولی دی، هغه د شا په موټر کې دي او دا راته ووایه ښځه څوک ده"؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



"امیر صاحب ښځه زما عزت ده، خبر نهٔ یم چې په څه بهانه یې له کوره را باسلې او بیا یې را تښتلولې ده". عصمت ورته وویل.

متین او ګل مینه یې له موټره را شېوه کړل، عصمت د ومره په قهر او په غصهٔ چې څنګه به ماته د واړه په لاس راشي، امیر صاحب عصمت تر لاس ونیوی چې راځه داسي قدم وانخلې چې تهٔ قاتل جوړ شې، شریعت شته، د شریعت مطابق به سزا ورکوو. د متین سترګي پټې وې امیر صاحب یو نفر ته امر وکړی چې د ننه یې وطاق ته راوله او هغه ښځه دي هلته په موټر کي وي. متین چې یې وطاق ته راوستی امیر صاحب ورته وویل "سترګي ور خلاصي کړئ". چې سترګي یې ور خلاصي کړې د متین چې پر عصمت سترګي ولګېدې د مخ رنګ یې بدل شو، امیر صاحب ورته وویل "ښهٔ تهٔ د چا په عزت تېری کوې، ولې دا رنګه هم څوک له یوې مظلومې او شهیدې کورنۍ سره کوي، راته ووایه څه کیسه ده، صفا صفا ووایه، ګنې په ډېر وهلو به دې مړ کړم". امیر ورته وویل.

"امیر صاحب ! ما هیڅ داسي غلط کار نهٔ دی کړی چې پر پښېمانه یا معافي وغواړم. دا کس چې د دې ښځې د عزت دعوه کوي دا ښځه اول زما عزت ده، دا ښځه زما د اکا لور او زما پر نامه ده. دا کس چې تا ته مخامخ ناست دی او ځان یې قهرولی دی د دهٔ ورور طاهر دا ښځه لس کاله مخکښي له کوره په زور



2021.01.22 08:56

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوتښتوله او بیا یې په زوره نکاح پر واچوله. که زهٔ غلط یم نو دا کس دې پر قرآن لاس کېښېږدي او ودې وایې رېښتیا." متین لاس تر شا تړلی ورته ولاړ دا یې ورته وویل.

"وا وا، امیر صاحب وینې د دهٔ بدمعاشي او دروغ، ښځه نو هغه تهٔ وې چې ماته کورته راغلې او راته ویل دې چې ورور دې شهید شو او ورور دې دا وصیحت کړی دی او بیا چې پر ځنځیر درغلم هم تهٔ منافق انسان وې چې زهٔ دې لېږي لېږلمه، خود رب کارونه بیا جلا دي، زهٔ نهٔ ولاړم، پر نیمې لار بېرته راوګرځېدم، خدای دې غرق کړه، بې غیرته زما پر عزت دې لاس پوري کړی ؤ". عصمت ډېر په قهر او درد خبرې کولې.

"دا وباسئ هلته یې وتړئ او هغه ښځه راولئ چې هغه څه وایي". امیر صاحب امر وکړی.

ګل مینه چې رادننه شوه په یو وام کې نهٔ وه، چې پر عصمت یې سترګې ولګېدې په خاطر کې یې یو څه هم نهٔ راغلو. امیر صاحب پوښتنه ځینې وکړه

"خورې! صفا صفا راته ووایه څه کیسه ده، دروغ به نهٔ وایې"

ګل مینې ورته وویل چې "زهٔ یو ژوندی مړی یم دروغ خو ویل ماته ډېر عذاب ښکاري، دغه ځوان چې نوم یې متین دی زما د اکا داروخان زوی دی. زهٔ چې له کومه وخته راغلا شوې یم ما روغه ورځ نهٔ ده لیدلې، زهٔ او بو اخستې یم، ځکه ته هم لاس اچوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور او پلار او د ورور د یوه دیدن لېواله یم، هر څه کوم، نو برایې شپه متین راغی ماته یې وویل زهٔ دي تربور یم، زهٔ متین یم د داروخان کاکا زوی. زهٔ ستا پسي راغلی یم چي تا بېرته خپل کلي، مور او پلار او ورور تي دي بوزم. زهٔ دومره لېوني یم چي تر خپلو بچیانو هم تېره شوم، هر څه مي پرېښوول خو تر مور او پلار ه ځان رسوم، دغه یم چي اوس ستاسو مخته یم".

"خور کې په دا یوه خبر کي ډېر شکي شوم، غلا؟ غلا څه مطلب؟ دا خبره متین هم کوله که سر مي په را خلاص کړې".

"محترم امیر صاحب! دغه له تا سره چي پر څنګ ناست دی د دهٔ ورور طاهر زهٔ په زور کړې یم، زهٔ یې له موره او پلاره په زور راوړې یم، پوره لس کاله وشو، خو هغه مړ شو، بیا بل ورور یې وکړم، هغه هم مړ شو، بیا یې بل وکړم نو اوس بیا کونډه یم، ګوره چي کوم یو به کوم، زهٔ یو د کرایې موټر وم، د دوی په خوښه چلېدم". ګل میني ورته وویل.

"دا څه وايي عصمته! دا خبري رښتیا دي"؟ امیر ورته وویل.

"امیر صاحب د ښځو په چمو پسي به نهٔ ځې، دا خامخا یو لار برابروي، د کونډه والي خبره یې رښتیا ده خو زما د کور عزت دی، زهٔ خو یې بل خوا ته نهٔ پرېږدم او دا نوري خبري یې ټولي دروغ دي، زور نهٔ دی زما له ورور سره یې په خوښه واده کړی ؤ چي هغه شهید شو، بیا مي بل ورور ته په نکاح کړه". عصمت ورته وویل.



2021.01.22 08:56

(c) ketabton.com: The Digital Library



" درواغ مهٔ وایه په دغه مجازي دنیا کې خو به درواغ ووایې په ورځ د محشر به څهٔ کوې چې اتلس زره قومونه به وي. زما لاس ستاسو ګرېوانو به وي". ګل میني ورته وویل.

"بس ورځه ولاړه سهبنځه زهٔ نهٔ درسره پرېږدم چې پوره تحقیقات نهٔ وي شوی تر هغو پوري به ښځه هم دلته وي، ورځه" امیر صاحب عصمت ته په قهر وویل.

عصمت ورته وویل "امیر صاحب! دا تهٔ څه وایې زهٔ او ولاړ سم، زهٔ تر تا زیات اختیارات لرم پر هر حال کې یې بیایم. ښځه او سړی دواړه بیایم، په دوی پسې خو راغلی یم، قسم دی چې دا ټول تباه کېږو تر هغو نهٔ ځم چې بو یې نهٔ زم. دا تهٔ څه رنګه خبري کوې". عصم تر امیر صاحب لا په آخوا ورته وقهرېدی.

"زهٔ تاته وایم چې ولاړ سهد سړي زوی شه، په خبره ځان پوه کړه، هسي فساد مهٔ جوړوه" امیر صاحب سترګي ورته سرې په قهر رااوړتی، خپلو وسله والو ته یې امر وکړی چې راځئ د غټ امیر په خوا روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت هم عجیبه دی هیچا ته هم انتظار نهٔ کوي بس روان دی په خپله لار یې اخستې ده. هم داسې وخت راغی چې سرور له لسو کالو وروسته خپل کورته راغی. سرور په دې لسو کالو کې د پېژندو نهٔ ؤ، خو هوسۍ چې د دهٔ د ژوند ملګرې وه په اول نظر کې یې وپېژندی. سم دستې ور ولاړه شوه او په غاړه کې یې لاسونه ورواچول. په چیغو چیغو ورته په ژړا شوه، سرور هم د هوسۍ سره سم ژړل، دواړو داسې ژړل لکه یو چې پهانسۍ ګهاټ ته بیایي او بل ته دا معلوم وي چې اوس لږ ساعت وروسته به یې مړی وینم، نو راشه اوس لا سم زړهٔ د خلاصه ورسره وژاړه.

لږ ساعت وروسته دواړه یو له بله بېل شول، خو تر ډېره یې یو بل ته په سترګو سترګو کې کتل، کله به هوسۍ د سرور لاس ور مچه کړی نو کله به سرور هوسۍ پر تندي مچه کړه. دواړه راغلو په کوټه کې کښېنستل. سرور زر د ګل مینې او جبار پوښتنه وکړه. "هوسۍ! ګل مینه او جبار نهٔ معلومېږي، چېرې دي"؟

د هوسۍ سترګې بیا له اوښکو ډکې شوې، یو دم په ژړا سر شوه، په زوره زوره یې چیغې وهلې، سرور حیران ؤ چې څه کیسه ده چې دا دومره چیغې وهي.



2021.01.22 08:56

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هوسۍ ! څه کیسه ده، ګل مینه او جبار چېرې دي، ته حال ولې نه وایې، ووایه چېرې دي دواړه"؟

د هوسۍ ژړا په سلګۍ بدله شوه، ورته یې په سلګۍ سلګۍ کې وویل چې؛" د ګل مینې پلاره! ګل مینه یې ستا د اغوا کېدو سره سم په هم هغه شپه له کوره په زوره یووړه......."

"یووړه؟ چا یووړه"؟ سرور زر د هوسۍ خبره ور پرې کړه او ځني وې پوښتل.

"نه یم خبره، خو که څوک خبر دي نو هغه یو رؤف دی چې خبر دی، او جبار بیا د دې واقعې په لسمه کورته راغی هغه هم په هغه ورځ چې قهرېدلی وتلی دی بیا مې نه دی لیدلی، ستاسو پسې خو زما د سترګو اوښکي ختمې شوې، زه خو ولاړم برباده شوم، په شته خاوند کې بې خاونده او په شته اولاد کې بې اولاده شوم". هوسۍ په سلګو سلګو کې ورته وویل.

"رؤف؟ رؤفیه ! د ژوند څکه والله که را څخه وکړې، تا زما ژوند تباه کړی، تا زما کور او بچیان تباه کړل". دا یې په غصه وویل او ولاړ شو.

"چېرې ځې چې ولاړ شوې"؟ هوسۍ زر تر لمن ونیوی.

"هوسۍ ! کاش چې په هغه اوله ورځ د رؤف په هکله ما ستا خبره منلې وای نو نن به مو دا ورځې شپې نه لیدلای، نن بیا د رؤف په بابت زه ستا خبره یو وار لا بیا نه منم، زه ځم چې له رؤفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل د تهول کړاؤ ژوند بدل واخلم" سرور دا وویل او د کوره نهریدلی ووتی، سیدها ولاړی د داروخان کره، داروخان یې له کوره را وباسی او دواړه په مجلس مجلس یوې خوا ته روان شول. دالار سیدها د رؤف کورته تللې وه.

د رؤف کورته چې ورسېدو نو چې ځنګه د رؤف د کور دروازې ته ورنزدې شو رؤف ناڅاپه له کوره راووتی. چې ځنګه یې پر سرور سترګې ولګېدې د مخ بڼه یې بدله شوه، مخ یې تک زېړ واوښتی، داروخان په طنزیه انداز کې پر بړغ کړو او توپنچه یې له ګنډې را وایسته چې ؛"رؤف جانه! تهٔ نهٔ ګورې څوک مې درته راوستی"؟

رؤف چې توپنچه ولیدله نو وار خطا شو، زر د سرور په پښو کې پرېوتی او او زاری خواستنی یې ورته شروع کړې." سروره وروره! ما معاف کړه، له ما ډېره غټه ګناه شوې ده، ما معاف کړه، د خدای روی ته ګوره ما معاف کړه، زهٔ منم چې زهٔ ستا مجرم یم، ستا ګناه ګار یم......" سرور د رؤف خبره ورپرې کړه او د وږو څخه یې ونیوی را پورته یې کړی.

"په یو شرط دي معافوم، زما بچیان ګل مینه او جبار چېرې دي، دا را وښیه تهٔ بالکل معاف یې، ګنې د ژوند څخه والله که را څخه وکړې".



2021.01.22 08:57

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په جبار خو بېخي نهٔ يم خبر لاکن ګل مینه خو په هغه ورځ چي تهٔ يې يوو ړې ستا وروسته د عصمت ورور طاهر راغی په زوره يې يوو ړه. په دا کيسه کي ستا خسر او اخښی دوی هم دواړه ووژل شول".

"دا طاهر به چېري پيدا سي"؟. سرور په تجسس کي ځني ر وپوښتل.

"د طاهر دوی کور په سرهٔ غرهٔ کي دی، خو يوه کيسه ده، د را رواني جمعې په ورځ د شاه عالم په کلي کي يو سړي او يوې ښځي ته د سنګسار سزا ورکول کېږي، زهٔ دومره غوږېدلی يم چي دا کس متين نومېږي غالباً د داروخان زوی دی، خو ښځه څوک ده ورسره زهٔ يې نهٔ پېژنم" رؤف سرور ته ډېر لوی راز بيان کړی خو هغه هم نيمګړی. سرور هوښيار سړی ؤ، زر يې له داروخان څخه توپنچه واخسته او د رؤف پر تندي يې ونيوله. "سم حال وايه ګني ولاړې د دوزخ شومه شوې".

"زهٔ، زهٔ رېښتيا درته وايم، کېدای شي چي ښځه ګل مينه وي، لاکن کس يقيناً متين دی، ولي چي متين له تېرو پنځلسو کالو څخه په مجاهدينو کي دی، او داسي لوی کس ته چي د کوم جرم سزا ورکول کېږي نو هغه کيسه څه عامه کيسه نهٔ وي". رؤف په لړزېدلي ږغ کي نور حال هم ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"درڅه، شاباش در مختنه شه". سرور او داروخان رؤف تر مخ کړی او د سرور د کور په خوا روان شول. د سرور کورته ننوتل هلته یې په یوه کوټه کې د رؤف لاس او پښې او خُله داسې ټینګ وروتړل چې رؤف هیڅ سورلا نهٔ سو ځني خوړلی. سرور هوسۍ ته توپنچه په لاس ورکړه او ورته یې وویل: "دا ستا د کور د بربادیو ذمه وار دی، تر څو چې د دهٔ خُله تړلې ده تهٔ د دهٔ نهٔ خو چیغې او رېدی شې او نهٔ د معافۍ د پاره زارۍ او خواستې، زړهٔ مهٔ په خوږوه، دا ستا مجرم دی، موږ درڅخه ولاړو چې بچې دې درته ژوندي راولو". سرور دا خبره وکړه او سره د داروخان له کوټې ووتی.

اوس نو هوسۍ ته خدای طاقت ورکړی، توپنچه په لاس کې و رؤف ته مخامخ ولاړه وه، پر مخ یې د غصې او بدله اخستلو بېل بېل آثار ښکاره کېدل. څنګه چې سرور او داروخان د کور د دروازې ووتل د توپنچې د ټک ټک ږغ یې تر غوږ شو. داروخان یو دم ودرېدی، سرور ورته وویل؛ "راځه داروخانه! هوسۍ غزا وکړه، رؤف یې تاترین ته واستوی".

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞

پوره پنځه ساعته وروسته عصمت د مازدیگر خواته هغه پخواني ملګري خو وو ورسره، له څلور نورو کسانو سره راغی پر پوسته یې برید وکړی، ډېر خونړی جنګ وشو، دواړو خواته مالي او ځاني زیان ورسېدی. ټول وطن خبر شو، له هر طرفه وسله وال د صلح دپاره راغلل، اخر جنګ سوړ شو. ګل مینه او متین یې دواړه عصمت ته د غټ امیر په حکم حواله کړو، متین او ګل مینه یې دواړه خپل کورته په سخته بدرګه کې یووړل، سهار یې محکمه پر وکړه، پر متین باندي د یو سړي د مړي پور ؤ، لاکن حکم پر راغی قاضي امر وکړی چي متین او ګل مینه دي دواړه سنګسار شي د رواني جمعې په ورځ د ماپښین له لمانځه وروسته.

ګل مینه او متین دواړه تر جمعې پوري په بېلو بېلو کوټو کي نظر بند وو. پوره اووه ورځې پاته وې، ګل مینه ډېره خوشحاله وه چي له دغه ژونده خو به خلاصه شي، په خپل لاس خو یې خون نۀ وکړی، د بل په لاس مړۀ شوه، ورځي تېرېدلې د سې شنبې په ورځ د کسانو په تبادیله کي شکیب او له هغه سره په بل زندان کي بند ملګري راخلاص شول، شکیب د مازدیګر له لمانځه وروسته کورته راغی، ټول ورته حیران شو چي د شکیب خو مور فاتحه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخسته، دا له کومي خوا بېرته کورته راغی، خلک مبارکیانو ته په ډلو ډلو ورته راروان وو.

عصمت دومره سخت پریشانه شو چې د زنداني ورور په وجه یې پر زړهٔ د مرګ دوره راغله. له نړۍ یې د تل دپاره سترګې پټې کړې.

د کور ټول وګړي یوه لحظه خوشحال او بیا پر د عصمت د مرګ غم ولوېدی، ټول خلک حیران وو چې په دې کور کې څه کیسه روانه ده.

شکیب د خپلو وروڼو پوښتنه وکړه چې طاهر خو زهٔ خبر شوم چې هغه هم په زندان کې دی او پاته شو دا نور وروڼه مې چېرې دي.

د عصمت ښځې په ژړا کې ورته وویل چې "هغه خو دي مړهٔ شول او عصمت هم مړ شو، ورشه په هغه بله خونه کې پروت دی. ګل مینه له یو چا سره وتښتېدله، هغه بله ورځ یې کورته راوستله د سنګسار حکم پر شوی دی، ستري محکمې دغه اعلان کړی دی". خبرې یې ختمې کړې نهٔ وې چې دروازهٔ وټکېدله، ټولو کسانو مخونه پټ کړي دي، نهٔ یې ښځو ته وکتل نهٔ د کور عزت ته، تلاشي یې شروع کړه په کومو خونو کې چې متین او ګل مینه زنداني ول دواړه یې وایستل، په نامعلومه خوا یې یووړل. دا



2021.01.22 08:57

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله کار روایي دومره اچانک وشوه چي هیچا یې هم سود نهٔ شو ایستی، لکه خوب دومره اچانک.

شکیب چي هر څو ناري وکړې خو بې وهلو او ټکولو یو څه په لاس نهٔ ورغلل. موټران ولاړل په کور کي ماتم شو، عصمت ته یې په نیمه شپه کي غسل ورکړی، د جومات مشر ملا ورته وویل چي "باید ژر تر ژره خاورو ته وسپارل سي". د شپې پر یوولس بجې یې عصمت خاورو ته وسپاری چي د زورورو انسانانو کورۍ ټول په ماتم بدل شو، څو ورځي وروسته د عصمت د فاتحې کمبلي هم ټولي شوې.

شکیب دومره وار خطا او دومره په زړهٔ زخمي ؤ چي خدای ته به هر وخت په فریاد ؤ چي زما ورور طاهر ژوندی ؤ ما یې ښځه وکړه دا څه ژوند دی، تر دا خو مرګ ښه دی، د بل په لاس خو به مړ شي، په دا بل سهار بېرته له کوره ولاړی هر څه یې پرېښوول.

په زندان کي ګل مینه له ډېرو پریشانیو سخته ناروغه شوه، د ولاړو او ناستو وتلې وه. نهٔ د خوراک وه او نهٔ چښاک. بس ساه یې له خُلې وتله او ننوتله.

په دا سبا جمعه وه، ټول خلګ خبر وو چي نن یوه ښځه او سړی سنګساریږي. وختي وختي له کارو څخه کورته راغلل، یو میدان جوړ ؤ چي په هغه کي به یې خلګو ته سزا ورکوله، پخوا دغه د لوبو میدان ؤ خو اوس انسانان کي سنګساریدل، حلالیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سزاګاني ورکولي کېدلې. ټولو خلکو چې لمونځونه وکړل له لمانځه وروسته هغه د لوبو میدان ته راغلل چې شا و خوا قطار ناست وو، څه ساعت وروسته یو موټر راغی چې توري شیشې یې وې، یو شی نهٔ کې معلومېدی، په هغه کې چې کوم ناست کسانو وو د هغو مخونه ټینګ پټ وو، درې د مخ په سیټ کې وو، څلور د شا په سیټ کې، راښوه شول، د موټر په باډۍ کې یې تېرې تېرې ډبرې اچولې وې، هغه یې له موټره راکښته کړې، ټولو تیاري ورته وکړه.

پر مخابره یې حال ورکړی چې موږ تیار یو، تاسي راتلای شئ، په لس منټه کې یو بل موټر راغی په هغه کې یو څو ملایان او یو کس ؤ چې لاسونه یې تر شا ورتړلي ؤ او سترګي یې ټینګي ور پټې کړي وې، له موټره یې راښوه کړی، له ټولو خلکو یې ځان ته جلا ودرولی.

پنځه ملایان چې په قطار کې ولاړ وو هر ملا له پنځو تر لسو منټو پورې خبرې وکړې. اول ملا وویل "څوک چې زنا وکړي او هغه هم د مېړهٔ ښځې سره او هغه بل چې واده ئ لري او زنا وکړي نو په اسلام کې د هغه مرګ سنګسار دی، اوس چې موږ یوه ښځه او یو نر سنګسارول، خو هغه کومه ښځه چې ده هغه ډېره سخته ناجوړه ده، تر درمل لاندې ده، که ژوند ؤ را رواني جمعې ته به ستاسو تر مخ سنګسار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه نورو درو ملایانو هم خبري وکړې، ټولو یو رنګه خبري وکړې، اخري ملا چي د ټولو امیرؤ اخري خبري یې له دا نورو جلا وې هغه وویل چي "سنګسار الله تعالیٰ پر دغه دنیا سزا پیدا کړې بیا په اخرت کي ورته یوه سزا نشته، دا الله په دغه وجه پیدا کړې ده چي دا نور خلک عبرت ځني واخلي او نور څوک بیا داسي کار ونهٔ کړي، دغه اووه کسان چي مخونه یې پټ دي دغه په یو حال کي هم قاتلان نهٔ دي، دغو خلکو ته دا امیر امر دی امیر ته بیا د خدای پاک د قرآن امر دی، د خدای پاک قرآن الله تعالیٰ په خوږ نبي ﷺ نازل کړی دی، هغه څلورو اسماني کتابو څخه یوه کتاب دی چي په دا دنیا کي وجود لري، نور درې کتابونه اوس دلته نشته، نو دغه کسان به دغه ګنهګار په کاڼو ولي. دا سړي په خپله خُله اقرار کړی دی چي ما له دې ښځي سره په لار دوه واره بد کار هم وکړی، زهٔ مائینه لرم، څلور بچیان لرم، په دغي ښځي زهٔ عاشق وم، له ډېره وخته او عصمت ما پر غلطه لار روان کړی او دغه ښځه ما خطا کړله، د دغي ښځي یوه ګناه نسه خو موږ هغې ښځي ته په دغه سزا ورکوو چي تهٔ کونډه شوې او وې او بل مېړه دي نهٔ وای کړی ورسره تللې وې نو اوس به مو دغه سړي ته ورنکاح کړې وې، خو ستا مېړهٔ، مېړه یې ژوندی دی، نو تهٔ ولي له غیر محرم سړي سره تللې، خبري رالنډوم او اوس ګناه ګار ته سزا ورکول کېږي تاسو یو هم له خپله ځایه مهٔ ښورئ". یوه کس ته یې وویل "سړی راوله او دغي کندي ته یې ورکوز کړه". هغه متین راوستی او کندي ته یې ورکوز

(c) ketabton.com: The Digital Library





کړی چي نیم بدن یې معلومېدی، ټولو ملایانو او هغو کسانو د تکبیر
په نعره سره له واره په شروع کړه ښهٔ ډېر ساعت وروسته یې امر وکړی
چي بس دی نور ختم شو. چي متین یې وکتلی هغه پر سر د ډېرو ډبرو
لګېدلو په وجه وختي لا پورپرې کړی ؤ.

په ډېر تلوار سره هغه خلګو متین په موټر کي واچاوی او
له هغه ځایه رخصت شول. ما زدیګر یې په شپږ بجې متین د هم
هغه کلي په هدیره کي خاورو ته وسپاری.



2021.01.22 08:58

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞

په روغتون کې ورځ تر بلې د ګل مینې حالت خرابېدی، یو ښه والی یې نهٔ کاوی، د مرګ ورځې یې هم رانـزدې کېدې، د جمعرات په ورځ امیر صاحب له خپلو وسله والو کسانو سره روغتون ته راغی چې د ګل مینې حالت یې وکتلی ګل مینه په ځنځیرانو ټینګه تړلې وه، له شکله یې انسان وېرېدلی، دومره په سخته ناجوړې کې وه چې حد یې نهٔ ؤ. امیر صاحب ورتـه وویـل چې "هغـه بل تـه مو سزا ورکړه سبا دا هم راولئ که په هر حال وي سزا به ورکوئ، باید دا په سزا ورسېږي. وسله والو ورتـه وویـل "سمه ده امیر صاحب، سبا به یې د ماپښین له لمانځه وروسته درولو". ټول له روغتونه ووتل، په ګل مینې پسې یې دروازه ټینګه وتړله.

د ګل مینې خوراک او څښاک بالکل نهٔ وو، د امیر صاحب په ملګرو کې یو کس امیر ته وویـل "امیر صاحب د دغې ښځې حالت ډېر خراب دی. دې ته سزا ژر ورکوې، دا ختمه ده، هلته به یې سنګسار میدان ته ژر بیایې، یو څو ورځې صبر وکړه چې لږ یې حال برابر شي بیا به یې په سزا ورسوئ، تر اوسه تر درمل لاندې ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر ورته وویل "سمه ده بیا یې یو څو ورځې پریږدۍ چې حالت یې سم شي بیا به یې سنګسار کړو، زما هم خوښه ده". ټول بیرته هغه خپلو وتاکو ته سره ولاړل.

شپه تیره شوه، په سبا سهار د جمعې ورځ وه اعلان وشو چې په را روانه جمعه هغه ښځه سنګساریږي، په دا جمعه یو څه مصروفیات دي ټول مجاهدین دې خپل سنګرونه ټینګ کړي دښمن هر وخت حمله کولای شي.

ورځې او شپې تیریدلې، یوه ورځ بیا امیر صاحب روغتون ته د ګل مینې پوښتنې او د کتنې دپاره ورغی، روغتون ته یې دومره زیات مجاهدین مړي او ټپیان راوړي وو چې په جنګ کې ډیر زیات زیان ور اوښتی ؤ، امیر صاحب ډیر خفه شو، تر ډیره وخته یې ګل مینه هیره وه چې د ټولو پوښتنه یې وکړه، بیا یې د ګل مینې د کوټې چوکیدار ته وویل "هغه ښځه څنګه ده، ته یې دروازه خلاصه کړه چې و یې ګورو". چوکیدار د ګل مینې د کوټې دروازه خلاصه کړه، ګل مینه هسې ژوندۍ وه، ساه کې چلیدله، نوره مړه وه، امیر صاحب ورته وویل "نن چارشنبه ده، بل سبا یې راولئ چې په سزا یې ورسوو".

عسکر ورته وویل چې "سمه ده امیر صاحب". امیر صاحب په ډیره خواشینۍ سره تر روغتون ووتی او د خپل وطاق په خوا روان شو.



2021.01.22 08:58

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دویمه ورځ یې ګل مینه د روغتون څخه را وایستهاو سیدها یې و هغه میدان ته یووړه چیرې چې دوې اوونۍ مخکې متین سنګسار شوی ؤ. هغه خلک او هغه ملایان ټول را ټول شوي وو، د میدان ګېر چاپیره د خلکو رش د و مره زیات وو چې د پښو ایښوولو ځای کې نهٔ ؤ. کله چې یې ګل مینه په شنه بورقعه کې له موټره را شپوه کړه نو ګل مینه ناروغۍ په سوب نهٔ شوای تلای، دوو کسانو تر وستخ نیولې را وسته او په هغه کنده کې یې ودروله په کومه کنده کې چې متین یې سنګسار کړی ؤ نو کندي ته نزدې د خلکو په هجوم کې څلور پنځهٔ کسان مخان پټ کړي د دې نظارې په انتظار ناست وو. چې څنګه د امیر صاحب په حکم د سنګسار ډبرې په لاس کې ولاړ کسانو شروع پر کوله ناستو هغو پنځو کسانو د خپلو څادرانو کلاشنکوفونه را ویستل او سم د لاسه یې پر هغو کسانو ډکان شروع کړل کومو چې ډبرې په لاس کې وې. ډکان په دومره شدت او اچانک وو چې هیچا هم د جوابي کار روایې سوچ او تیاري نهٔ شوای کولای. ټولو تاخت کړل، چا چیرې چا چیرې منډې وهلې او ځانونه یې له دې ډکانو بچ کول. امیر صاحب او د هغه سره راغلي ملګو هم تاخت کړل. یو څو وسله والو کوم چې د امیر صاحب سره راغلي وو او لړلېرې ولاړ وو څه جوابي ډکان ضرور و کړل خو ناره دا جوړه شوه چې دښمن په لوی تعداد برید کړی دی، ځانونه او امیر صاحب وژغورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امین مسرور

کافره

دا پیښنه بېخي ناڅاپه وه چي د هیچا په وه او ګومان کي لا نه وه. په راغلو پنځو کسانو کي دوو زر زر ګل مینه له کندي را وایسته او لړ لېږي ولاړ موټر ته یې ورسوله. موټر تیار ستارټ ولاړ وو، په موټر کي د ګل میني او دوو کسانو د کښېنستو سره سم هغه نور دري کسان هم په ټکانو کولو کولو ځانونه و موټر ته ورسول او داسي موټر د خپل منزل په لور روان شو. هلته امیر صاحب په دې سر نه خلاصېدی چي دا کیسه څنګه پیښه شوه، دا کسان څوک وو او داسي یې څله وکړل.

2021.01.22 08:58

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞

موټر چې يو روسي غټ جيپ ؤ په کچه سړک د غرۀ په خوا ډېر تېز روان ؤ او په موټر کې ناست د ګل مينې سره شپږ نور کسان هم وو. ګل مينه بې هوشه وه، يو کس چې ګل مينه يې په غېږ کې ټينګه نيولې وه د اوبو بوتل په لاس کې د ګل مينې په خُله کې يې اوبه ور توئيولې، ګل مينې د لږ ساعت د پاره سترګه خلاصې کړې، چې ځنګه يې په هغه کس سترګې ولګېدې نو د خُلې يې ډېر په زهير او کمزوري ږغ کې ووتل؛

"بابا!"

"هو زۀ بچيه، ستا بابا"

د ګل مينې ساه لنډه لنډه کېده، سلګۍ يې شروع شوې بيا يې په لړزانده ږغ ووېل

"بابا!"

"ستا قربان سم، زۀ وځنډېدم ګنې ما به تۀ له وخته لا له دې بنده خلاصه کړې وې،" سرور په ژړا ژړا کې ورته ووېل. څنګ ته يې ناست داروخان هم ورسره ژړل.

د ګل مينې سترګې نېغې د پلار پر څېرې برابرې وې، پلار سرور ته يې ډډ ډډ کتل، پر مخ يې مسکا خوره وه، يوه سلګۍ يې ووهله او بيا يې پلار مخاطب کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافره

"با......... با" ګل میني دا ځل آخري سلګۍ ووهله او د
تل د پاره یې سترګې پټې کړې. سرور د ګل میني سر په خپل غېږ
کې ونیوی او په چیغو شو. داروخان هم ورسره په ژړا شو. ټوله
ورځ یې تر ماخوستنه مزل وکړی، دا ټوله لار سرور ګل مینه په غېږ
کې نیولې وه او رڼه رڼه یې د ګل میني و زېړ مخته کتل. آخر موټر
ودرېدی، داروخان پر سرور ږغ وکړی چې
"سروره! کور را ورسېدی." سرور چې له موټره دباندي
وکتل نو واقعي کور را رسېدلی ؤ. د ګل میني مړی یې په ځولۍ
کې کورته یووړی. هوسۍ چې د ګل میني مړی ولیدی نو په هم
هغه ساعت بې سوده شوه. سرور ګل مینه پرېښووله او هوسۍ ته
متوجه شو، د کلي ګاونډ خلک سره خبر شول، ټول کلی نر او ښځه
د سرور کور ته راغلل، د هر انسان سترګې له اوښکو ډکې وې، هر
یو د سرور په غم کې له دهٔ سره شریک وو.
ګل مینه یې په سرو سترګو په هم هغه شپه د غرهٔ په دامان کې
خاورو ته وسپارله. کله چې د ګل میني د فاتحې کمبله ټوله شوه نو د
امیر صاحب کسانو هم د سرور پسې دې کلي ته پل را ورسوی. د
خلګو یې د سرور او ګل میني په هکله پوښتني وکړې خو کلیوالو
نه وو ورته ویلي. وایه. نو آخر دې کسانو په
دې ځل دا مړانه ښکاره کړه چې حال یې نهٔ وو وایه. نو آخر دې کسانو په
کلي کې دا مشهوره کړه چې یوه کافره چې هغه د زنا په تور کې موږ
نیولې وه، یو څو کسانو هغه له بنده را وتښتوله دې کلي ته یې



2021.01.22 08:59

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړه، که هر چا دې خلګو ته پناه یا بل څه کومک ورکړی، د خپل ژوند او مرګ خپله ذمه واردی. خلګ وام واخستل چې دا خو سرور ښئي. داروخان سرور ته دم ساعت ویل چې له دې ځای ورکېږه ګني ژوندی به دې وخوري. سرور هم د داروخان مشوره ومنله او د تګ اراده یې وکړه.

ورځ او شپې تېرېدې،. دې اوازې د کلي د خلګو په خُلو کې د ګل میني قبر د کافري د قبر او دا غر چېرې چې د دې غرهٔ په دامان کې د ګل میني قبرؤ د کافري غرهٔ په نوم مشهور کړو. سرور چې دا حالات ولیدل نو د هوسۍ سره د خپل کلي څخه د ټول عمر د پاره ولاړی...... بلکې هغه هېواد یې لا هم د تل د پاره پرېښووی...... په کوم کې چې د ګل میني قبر د کافري قبر او هغه غر د کافري غرهٔ په نوم مشهور شو د کوم غرهٔ څخه چې لاندې پراته دوولسو کلیو ته د رڼو اوبو سړې چینې تلې چې خلګو پرې اودسونه او غسلونه کول، په هم دې اوبو د دې دوولسو کلیو بدۍ هم جوړې وې او هم یې په دا اوبو هر قسمه تندهٔ ماتوله.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټولني يادښت

سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه له تېرو اوو کلونو راهیسې لګیا ده د مورنۍ ژبې پښتو خدمت کوي او داهڅه کوي چې خپله پښتو د نورو مترقي ژبو په قطار کښې سیاله ودروي. د هم دې سیالۍ په لړ کښې دا دی د ټولنې له اړخه د پښتو کتابونو د خپرولو په لړ کښې پنځم د پښتو کتاب (ناول) "کافره" چې لیکوال ئې ښاغلی امین مسرور دی په دې هیله خپروي چې دا کتاب به د پښتو ادب په لمن کښې یوه غوره اضافه وګرځي.

ښاغلی امین مسرور د پښتو ژبې یو تکړه شاعر سره سره یو ښه نثر لیکونکی هم دی. له تېرو دوولسیزو راهیسې لګیا دی خپلې خوږې پښتو ته خدمت کوي.

"سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه" و ښاغلي امین مسرور ته پر دې زیار مبارکي وړاندې کوي او هیله ځنې کوي چې په راتلونکي وختونو کښې به هم داسې د پښتو ژبې و خدمت ته ملا تړي.

ستاسو ورور

صدر: سید عباس شاه مخلص

بک پلس
ڈی 5، جناح سینٹر، جناح روڈ، کوئٹہ
0333-7759497 | 0302-3823974
bookplus44@gmail.com
www.facebook.com/bookplus

SPATQ
سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**